ډاکټر مبارک علي

# ملایان او سیاست

ژباړن

محمد نعیم آزاد

Ketabton.com

SCAN AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

## کتاب پېژندنه


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | ملايان او سياست |
| ليکوال: | ډاکټر مبارک علي |
| ژباړن: | محمد نعيم ازاد |
| خپرونکی: | پښتو ادبي غورځنګ |
| د خپرونو لړ: | ۸۵ |
| د چاپ شمېر: | ۱۰۰۰ |
| کمپوزوونکی: | ژباړن |
| د پښتۍ خطاط: | راز محمد کاتب |
| د پښتۍ ډيزائن: | راز محمد کاتب |
| چاپ کال: | ۲۰۱۸م |
| ملفون: | ۰۳۳۳۷۷۹۶۰۷۷ |


AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



# ډالۍ

د هغه عالمانو او سياست پوهانو په نوم چې
تر ځان او ځاني ګټو په تېر ېدلو سره له خپل
ټولنيز مرام سره ژمن پاته شوي او د انساني
ژوند در ناوی يې مرام پاته شوی وي.
د هغو پوهانو او قامپالو په نوم چې د وګړنيز
يا انساني ژوندانه د ستونزو هوارولو لپاره يې
د خپل ژوند هره شېبه ځانګړې کړې وي او
په ځانګړې توګه د هغو نومورکو مبارزينو په
نوم چې ژوند يې د قامي ښېګړي لپاره د زندان
په تيارو کي تېر کړی خو قامي بهېر کړي وي.

# مننه

له خپلو ادبي ملګرو، انډيوالانو او په ځانګړې توګه
له استاد آصف صميم، رفيع الله نيازي
ډاکټر محمد صادق ژړک، ډاکټر لياقت تابان
ډاکټر نصيب الله سيماب، څېړنوال عبدالظاهر شکيب
ډاکټر نورالبصر امن، ډاکټر ظفرالله بخشالي
څخه مننه کوم، چې زه يې دادلی او هڅولی يم
او ماته يې د ملګر تيا په درناوي کتلي
او خپلوي يې را سره پاللې ده.

AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



# لړلیک


| | |
|---|---|
| د غورځنګ یادښت | ۵ |
| پیلیزي خبري | ۷ |
| پېژندنه | ۹ |
| ملایان او دفتري بیوروکراټان | ۱۳ |
| د ملایانو اوج | ۱۸ |
| ملایان او مدرسه | ۲۲ |
| شریعت او د بادشاهت نظریه | ۲۶ |
| بنسټ پالنه او د سمون غورځنګونه | ۳۰ |
| ملایان د صفوي او عثماني دولت په دور کي | ۳۵ |
| ملایان د سلطنت په دور کي | ۴۱ |
| د ابوالفضل کورنۍ او ملایان | ۴۵ |
| اکبر او ملایان | ۵۰ |
| اورنګ زېب او ملایان | ۵۹ |
| مدرسه او د زدکړو نصاب | ۶۲ |
| نوآبادیاتي دور او ملایان | ۶۵ |
| ملایان تر پاکستان وروسته | ۹۵ |
| ملایان او ټولنه | ۱۰۳ |
| ملایان او جدیدیت | ۱۲۱ |
| ملایان او اولسي ښېګړه | ۱۲۷ |
| مسلمان امت | ۱۳۰ |
| د ټولنیزي تګلاري ټاکنه | ۱۳۴ |
| کتابیات | ۱۴۱ |


SCAN AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



## پېژندنه

د نړۍ د سترو مذهبونو "چي نن پکښي پېشه وري ډلي شتون لري" په لومړنيو دورونو کي هيڅ داسي طبقه او ډله نه وه، چي په مذهبي چارو کي يې پوهنيزه وړتيا درلوده. لامل يې دا وو، چي په لومړيو کي د هر مذهب ښوونيزي تګلاري او قوانين ډېر ساده وو، چي په اساني سره هر څوک په پوهېدلای او په اسانه تر سره کېدلای هم شول، خو د مذهب له خورېدلو سره ورو ورو بېلا بېلو اولسي او کلتوري ډلو ځای پکښې و موندی. کله چي ياد مذهبونه په يوه سياسي واک واووښتل، نو يې په کالبوت کي ژور بدلون را منځته شو، ځکه چي مذهب اوس د ساده ټولني پر ځای د يوې ويړي او پېچلي ټولني د سياسي، اولسي او معاشي چارو له هوارولو سره مخامخ وو او د دې ستونزو د هوارولو لپاره يې تګلار ټاکله، په داسي چاپېريال کي د يوې داسي طبقې را منځته کېدلو اړتيا احساس شوه، چي په مذهبي ښوونيزو او مذهبي چارو کي په پوهنيزه وړتيا سره ټولنيزه لارښوونه وکړي.

کله چي داسي طبقه را منځته شوه، نو د خپل واک او زور په چوکاټ کي د ساتلو پر ځای يې نوري غوړېدا ته زړه ښه کړ او په ځانګړې توګه چي په ورځني ژوند کي کوم دودونه تر سره کېدل؛ د هغوی تر سره کول يې پر غاړه واخست او بيا يې د دې دودونو اداينه يا تر سره کول دومره پېچلي کړل، چي يوازي يې دوی تر سره کولای شي او دغه چاپېريال اوس په هندو مذهب کي دی، چي د مذهبي دودونو اداينه يې يوازي برهمن طبقه تر سره کولای شي. همدا لامل وو، چي د ذات پات وېشني په لومړي دور کي که څه هم لومړيتوب د کهشتري طبقې په برخه وو، خو وروسته يې ځای برهمنانو و نيوی او د دوی ارزښت

ketabton.com - The Digital Library



دویمي پوړۍ ته را ټیټ شو، چي وروسته برهمنانو په مالي توګه د خپلي پیاوړتیا لپاره دودیزه اداینه دومره ګرانه کړه، چي تر سره کول یې د اولسي وګړي تر وس و وتل. همدا لامل وو، چي په هندوستان کي بدهـ مذهب د هغوی په ضد بغاوت وکړ، خو وروسته په هغوی کي هم د بهکشووانو اداره را منځته شوه، چي له لاسه یې د اولسي وګړي یا عام انسان څښښناک تر سره کېدی.

همدغه چاره په عیسویت کي تر سره شوه، چي په لومړۍ دوره کي یې هیڅ مذهبي ډله نه درلوده، خو وروسته یوازي دا نه چي یوه زوروره مذهبي ډله څنې جوړه شوه؛ بلکې د چرچ او پوپ تر رامنځته کېدلو وروسته ډېره پیاوړې او اغېزمنه هم شوه.

په اسلامي ټولنه کي هم داسي وشول، چي په لومړۍ دوره کي یې ستونزي دومره پېچلي نه وې او هر وګړي مذهبي ښووني په اسانه توګه زده کولای شوې، خو تر سو بو او په مذهب کي تر لږ او ډېر بدلون وروسته ګڼ شمېر خلګ مسلمانان شو، نو اسلامي ټولنه له قبایلي دور څخه په وتلو د جاګیرداری او ملوکیت دورې ته ور ننوتله او ور سره سم په ټولنه کي داسي بې شمېره ستونزي را پورته شوې، چي په اړه د هوارولو لپاره هیڅ ډول څرګندي لاري نه وې، ځکه یوه داسي طبقه را منځته شوه، چي د مسلمانانو ټولني لارښوونه تر سره کړي.

د ملایانو دغه طبقې خپل ټول ژوند د مذهبي ښوونو لپاره ځانګړی کړ او د قرآن، حدیث، فقهي او تفسیر تر کتنه وروسته به یې ځان ته وړتیا په برخه کړه، چي ټولنیزي سیاسي، معاشي او اولسي ستونزي د مذهب په رڼا کي هواري کړای شي، ځکه له واده او طلاق څخه تر وراثته پوري د ژوندانه د ورځنیو چارو لکه د ځان سپا کول، (غسل څه رنګه کول وي؟) د کالیو اغوستل (حامې څنګه وي؟) او خواړه څنګه وي؟ او نورو په اړه خلګو له دوی څخه پوښتني کولې.

AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



بلې خوا ته دولت په عدالتي او انتظامي چارو کې د هغوی ټاکنه پېیل کړه، چې د قاضي، مفتي او صدر منصبونه یې د یادوني وړ دي او په داسي توګه به ملایانو د مذهبي زدکړو او پوهې په رڼا کې فتواوې ورکولې، چې پر هغه تګلاره ژوند تېرول د مسلمان لپاره اړین وو.
د داسي چارو په پایله کې دوه ډوله ملایان را منځته شول، چې یو ډول یې د لوړو زدکړو لرونکي وو او د دولت پر لوړو چوکیو باندي ناست وو او لږ زدکړو لرونکو په ماجتانو کې د مخکښ امام او ویناوال دنده تر لاسه کړه، چې په ټولنه کې دواړو ډولونو ځانله کردار و درلودی. لوړو زدکړو لرونکو به د دولت د منصبدار په توګه د ټولنیزو پېچلو سیاسي، اولسي او معاشي ستونزو هوارول تر سره کول او دویم ډول به یې د زوکړي، واده او مرګ په دودونو کې خپلې چارې تر سره کولې.
په شیعه ګانو کې د ملایانو درجه بندي د پوهې او تجربې پر بنسټ شوې ده او هر ملا ته دغه لاره پرانستې وي، چې له یوې درجې څخه بلې درجې ته ځان و رسولای شي. په هغوی کې د مجتهد، ایت الله، امام او فقیه درجې دي او په دې توګه د هر یوه ځانله چارې وي.
ملایانو په ټولنه کې له نورو طبقو څخه د بېلوالي په پار ځانله کالي ځانګړي کړي دي او اوسنی چاپېریال داسي دی، چې د هر مسلک د ملایانو ځانله کالي، د بېرې یو ځانګړی ډول او ځانله لنګوټه یا خولۍ لري، چې د خپلې ډلې استازیتوب او پېژند یې وړاندې کوي. کله چې څوک خبري ورسره کوي، نو د مولوي یا مولانا توری ورسره زیاتوي او د لوړو زدکړو لرونکې د اولس له خوا ځان ته په علامه ویل خوښ وي.
دې ته په کتلو به دا وینا بېځایه وي، چې په اسلام کې هیڅ مذهبي ډله شتون نه لري، د ملایانو په بڼه دغه مذهبي طبقه شته او هر هغه وګړی چې په مسلمان کور کې زېږي، له زېږېدا تر مرګه پورې یې په

ketabton.com - The Digital Library



ژوند کي د مولوي شته والی جوت دی او پر سېکولر کېدلو سربېره هم یو مسلمان دې ته اړ دی، چې په ورځنيو چارو کي د دوی خبره ومني. همدا لامل دی، چي په اردو ورځپاڼو کي هره وونۍ (هفته) د ورځنيو ستونزو په اړه ځانګړي ليکني راځي، چي مولويان يې د فتوا په ورکولو د هوارولو لاره ټاکي او دا رنګه ملايان د اولسي وګړيو له ژونده څخه تر ورځني ژوند او اولسي ژونده پوري په چارو کي لاس لري. په مسلمانه ټولنه کي دا چي مذهب په هره څانګه کي ځای لري، نو په ژوندنيو چارو کي د هر نوي کار پيلولو او يا خپلولو پر مهال د دې اړتيا وي، چي د مذهب په تول تللو لپاره يې له ملايانو څخه و پوښتل شي. همدا لامل دی، چي په مسلمانه ټولنه کي د ملايانو ارزښت زيات شوی دی او هغوی په داسي چارو کي هم لارښوونه کوي، چي دوی پکښي پوهنيزه وړتيا و نه لري، ځکه خو ډېر وخت بېلا بېلي فتواوي ورکول شي، چي د ستونزو هوارولو پر ځای کړکېچ را منځته کړي. همدا لامل دی، چي تر اوسه پوري د ابادۍ په چوکاټ کي د ساتني، انشورنس، بېنکنګ او انټريسټ ستونزي په مذهبي توګه نه دي هواري شوي او داسي دا خبره جوتېږي، چي مذهبي ملايان په بدلون موندونکي چاپېريال کي له وختنيو يا مهالنيو غوښتنو سره اشنايي نه لري.

ketabton.com - The Digital Library



# ملایان او دفتري بیوروکراتان

د اسلامي تاریخ په لومړني دور کي د مذهبي خلګو یوه داسي طبقه را منځته شوه، چي له کورنیو شخړو او مسلمانانو د یو مخ وژني څخه یې زړه شین شوی او داسي یې پامول، چي په یاد چاپېریال کي سیاست ته زړه ښه کول یا د یوې ډلي سره دربدل او ملاتړ یې کول د مسلمانانو له منځه وړلو او بربادولو، ځله وېشلو او بې سبکه کولو مانا لري، چي د مخنیوي او بدلون را وستلو واک هم نه لري. ځکه په یاده ډله کي له سیاست څخه د کرکي جذبات را سربېره شول او داسي یې وپتېیله، چي له دنیاوي چارو څخه لاس پر سر شي او د مذهب په سیوري کي د زدکړو تر لاسه کولو له لاري د اولسونو د سړیتابه او اروایي ژوند سمون لپاره مذهبي ښوونیزي چاري تر سره کړل شي.

په وړاندي چاپېریال کي د مذهبي خلګو یا ملایانو دغه ډله له سیاست څخه ښېخي لېري او د امیه دولت په بشپړه دوره (۶۶۱- ۷۵۰) کي هغوی هڅه تر سره کړه، چي له دولت څخه په لېري اوسېدلو ځانونه و مذهبي زدکړو ته ځانګړي کړي، ځکه خو د امیه کورنۍ او د دوی تر منځ نښته هم له دې جوري رانغله، چي هغوی د خپلي واکمنۍ په دوره کي د عربو روایات او ارزښتونه و ساتل او په پاللو یې یوازي دا نه چي له تولواکۍ څخه ډډه وکړه؛ بلکي د عربي توکمونو اروا یې هم پر ځای و ساتله، چي له همدې جوري د هغوی په واکمني کي عربیان پر نورو خلګو لاسبري وو او د رسېدونکو پېرزوینو له کبله یې د دولت منلو ته هم زړه ښه کړی وو.

یاد چاپېریال د امیه کورنۍ په ضد د عباسیانو له غورځنګ را پورته کېدو سره سم بدلون و موند، چي پای په ۷۴۹ع کي بریا ته و رسېدی،

ketabton.com - The Digital Library



د یاد غور ځنګ بریا د امیه کورنۍ واکمني له منځه یووړه او پر ځای یې د عباسي کورنۍ واکمني را منځته شوه. دا چې د عباسي اووښتون په بریا کې ایرانیانو لاس درلودی، ځکه یې په نوي دولت کې لاسبرتیا زیاته او د خلیفه په دربار کې ټولي لوړي چوکۍ له ایرانیانو سره وې.

دا د اسلامي تاریخ ارزښت وړ پېښه ځکه وه، چې په دې کې د عربیانو او ایرانیانو ګډون تر سره شوه، خو دا چې عربیان له خپل سیاسي واک څخه بې برخي شول او په ځنګ کې یې هغه اولسي او کلتوري برم هم له لاسه ورکړ، چې له همدې جوري په دوی کې د ایرانیانو په ضد ژور جذبات را و پنځېدل.

په همدې پړاو کې عربیانو د ملایانو په وړه له ایراني دفتري او نوکر شاهي څخه د ځان ژغورلو هڅي وکړې، چې د خلیفه په دربار کې یې پوره لاسبرتیا موندلې وه. یادي نښتي د ملایانو دغه طبقه چې له سیاست څخه لېري وه؛ بیرته د سیاست ډګر ته را وستله او ملایانو د خپل برم او ارزښت ساتلو لپاره هڅه وکړه، چې خلیفه هم تر شریعت لاندي را ولي او پوهېدل، چې کله خلیفه تر شریعت لاندي راشي، نو بیا به د سپړني او شنني لپاره دوی ته اړتیا و لري او اړ به وي، چې په هره چاره کې له دوی سره سلا او پوښتنه وکړي.

بلي خوا ته د ایران له دفتري او نوکرشاهي سره د اړه لرونکو ډله وه، چې د عباسي اووښتون په ملاتړ لوړو چوکیو ته رسېدلې او په سیاست کې یې لاسبرتیا په برخه شوې وه؛ هغوی غوښتل، چې د خپل واک پر ځای ساتلو لپاره د ایراني سلطنت لرغونی کالبوت بیرته په رغولو پر پښو و دروي او ورسره د ساساني دور دودونه او روایات بیرته پلي کړل شي، چې په هغه کې به ټولواک باچا د یوې زوروري چارواکي ډلې په ملاتړ خپله واکمني کوله او دواړه یو د بل لپاره اړین وو. په یاد کالبوت کې د ملایانو او شریعت لاسبرتیا نه وه؛ بلکې ملایان به هم د ایران د

ketabton.com - The Digital Library



موبدانو په څېر د رياست خبره منله او د باچا هري خبري ته د قانون ارزښت ور په برخه وو.

بدلون موندونکي سياسي چاپېريال د ايرانيانو دفتري يا نوکر شاهي واک پياوړی کړ، ځکه چي د سوبو له لاري کله عباسي واکمني ويره يا پراخه شوه او په ولکه کي يې نوي سيمي او د بېلا بېلو مذهبونو خلک ګډ شول، نو په پايله کي يې د نورو ژوندنيو ستونزو په څنګ کي يو لړ اولسي او کلتوري ستونزي هم را منځته شوې، چي له کبله يې خليفه ته د خپل بشپړ واک په کارولو سره د وړاندي شوو ستونزو د هوارولو اړتيا څر ګنده شوه او خليفه هم د ستونزو په هوارولو کي تر ټولو لومړی و خپلو ځاني او کورنيو ګټو ته په کتلو سره و پامولو، چي په دې اړه مو ملاتړ د دفتري خلګو له خوا کېږي؛ د ملايانو له خوا نه.

له هم دې جوري د ملايانو هغه هڅه "چي د خليفه واک په ټاکلي چوکاټ کي را ولي او تر شريعت يې لاندي کړای شي" تر سره نه شوه او اپوټه دفتري ايرانيانو خليفه ته د ايراني بادشاهت ډوله کالبوت لاره ښه و ايسوله، چي د هغې لاروی يې کړ او کومو ملايانو چي په لاره کي د خنډ اچولو هڅي وکړې؛ هغوی ته درنې سزاوي ورکول شوې. په يادو سزاوو کي يوه بېلګه د امام حنبل (۸۵۵ م) ده، چي د خلقِ قرآن له نظريې په نټه کولو يې د خليفه له خوا ورکول شوې هر ډول سزا پر ځان يووړله، "خو دا ځانګړي بېلګي دي" لوی شمېر ملايانو د چاپېريال په رڼا کي د خليفه ټولواکۍ ته سر ټيټ کړی او د نومووړي هر ډول چارو ته يې په زړه ښه کولو د روا بللو لپاره فتواوي پيل کړې.

دلته دا پوښتنه را منځته کېږي، چي ملايان ولي په دې نښته کي له ماتي سره مخامخ شول او د ايرانيانو نوکر شاهي ولي بريالۍ شوه؟ او څنګه پر شريعت باندي سياسي غوښتنو ته لاسبرتيا په برخه شوه؟ ځواب يې دا دی، چي ملايان له سياسي واکه بې برخي وو او له مقابل

ketabton.com - The Digital Library



لوري سره يې يوازي د مذهبي پوهي پر بنسټ جګړه تر سره کوله، خو د دوی په وړاندي د ايرانيانو له نوکر شاهي سره سياسي واک ورسره وو او د بدلون موندونکي چاپېريال همدا غوښتنه وه، چي خليفه په هر څومره واک تر لاسه کولو پياوړی شي. بله خبره دا چي اولس له دې نښتي سره هيڅ ډول تړون نه درلودی، ملايان په اولسي ملاتړ تر لاسه کولو ځکه بريالي نه شول، چي اولسونو د سياسي ټينګتيا له کبله خوشاله او سوله ايز چاپېريال په برخه درلودی او په دې کي يې ری نه واهه، چي کومه ډله څه تر لاسه کول غواړي. تر ټولو پاموړ خبره دا وه، چي په بدلون موندونکي چاپېريال کي د اولس په وړاندي د ملايانو پوهه دومره باوري نه وه، چي اولسي او معاشي ستونزي دي هواري کړای شي او هغه هم په داسي ډول چي په ټولنه کي دي د هري طبقې لپاره د منلو وړ وي.

د ملايانو تر ياده شوې ماته وروسته د سياست او مذهب بېلتون را منځته شو او ملايانو تر ماته وروسته بيرته د مذهبي زدکړو او ښوونو لاره خپله کړه او پاملرنه يې دې لوري ته ځانګړې کړه، چي څه ډول د اولس اروايي ژوند سوکاله کړل شي.

پايله دا شوه، چي په اسلامي ټولنه کي يې دوه ډوله تګلاري را منځته شوې، لومړۍ دا چي د رياست په خارنه او روزنه داسي سياسي اداري او هر اړخيزه کلتوري روايات را منځته شول، چي په ټولنه کي يې زغم يا رواداري و پنځوله او د ټولني په برخه ګرځولو سره يې ټولو خلګو ته لاره ورکړه، چي په ټولنيز جوړښت او پرمختګ کي خپله په زړه پوري برخه واخلي. د بېلګي په توګه د عباسيانو له خوا جوړ کړل شوی دارالحکمت وړاندي کولای شو، چي عيسايانو او يهوديانو ملايانو پکښې ګډون درلودی او يوناني علوم يې عربي ته و ژباړل.

ketabton.com - The Digital Library



دویمه ګټه یې دا وه، چې عربیانو د نورو (غیر عرب) په کلتور خپلولو خپل ذهن ته ویړتیا او پراختیا په برخه کړه، چې له کبله یې په عباسي دور کې پوهې او ادب په زړه پورې پرمختګ وکړی.

خو بلې خوا ته ملایانو په ټولنه کې د لنډوینی په پاللو د روایاتو پر ځای ساتلو هڅې وکړې او د مذهب په ملاتړ یې د هر نوي شي په وړاندې د خنډونو دېوالونه و درول او د اسلام سپېڅلتوب یې یوازې په عربي کلتور کې غوښت، چې له نورو څخه ژغورلی او سوچه پاته شي.

که څه هم هغه وخت ملایان له ماتې سره مخامخ شول، خو که په ژوره توګه و څارل شي، نو دا د پرمختګ خوښوونکو او زوړ پالو تر منځ د نښتې پیل وو، چې تر هغه وروسته دا جګړه تر اوسه پورې روانه ده.

AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



## د ملایانو اوج (عروج)

که څه هم د تاریخ په یاد شوي لومړي پړاو کې ملایان له ماتي سره مخامخ شول او په سیاسي توګه له واک تر لاسه کولو څخه پاته شول، خو تر ماته وروسته یې هم له همت څخه کار واخستی. دومره خو وشول، چې له سیاست څخه په لېرې کېدلو یې د دولت او دربار چارې خپلې کړې، خو لوی شمېر ملایان داسې وو، چې خپله پاملرنه یې مذهبي ښوونیزو زدکړو او ودې ته واړوله او پر همدې بنسټ یې په ټولنه کې د درنښت او لوړښت ځای تر لاسه کولو هڅې تر سره کړې.
بدلون موندونکي چاپېریال هغوی ته بیا یو ځل لارې پرانستلې، چې د یوې اغېزمنې ډلې په توګه را سربېره شي او دغه لارې د عباسیانو د نوو سوبو له کبله پرانستل شوې، چې په پایله کې یې یوازې دا نه چې نوې سیمې لاندې کړې؛ بلکې نوي خلک یې هم برخه شول، په دغه نوو خلکو کې ملایانو د ښوونې کار پیل کړ او کوم خلک چې مسلمانان شول؛ د هغوی په زړونو کې د ملایانو درناوي ځای ځکه و درلودی، چې په خیال یې دوی له بېلاری، او تیارې څخه را ایستلي وو او دا رنګه په ټولنه کې ملایانو درنښت تر لاسه کړی، چې په هغوی کې ډېرو ته د اولیاوو په ارزښت او درناوي و کتل شول.
د دې نوو ټولنو په نوو مسلمانانو کې د ملایانو اغېز او درناوی ځکه هم زیات شو، چې مورنۍ ژبه یې عربي نه وه او د هغوی لپاره په قرآن، تفسیر، حدیث او مذهبي ښوونو باندې پوهېدل ګرانه خبره وه، نو دا د دوی اړتیا وه، چې په عربي ژبه پوهېدونکي او مذهبي وړتیا لرونکي دوی ته په خپله ژبه د مذهبي زدکړو لارې چارې ور وښیي، ځکه چې د ملایانو ارزښت یو په دوه شو او په ډېره لږ موده کې د مذهبي ښوونو

ketabton.com - The Digital Library



لاسبرتیا هغوی ته د یوې داسې ډلې جوړولو لاره پرانستله، چې د مذهب او اولسونو په منځ کې د تماس ساتلو چارې تر سره کړای شي.
له همدې سره سم د سیاسي، معاشي او اولسي بدلون موندونکي چاپېریال له کبله په اسلام کې څلورو فقهي مذهبونو ته نوموړتیا ور په برخه شوه، چې په حنفي، شافعي، مالکي او حنبلي سره نوموړي او اغېزې یې ورو ورو د نړۍ په بېلا بېلو هېوادونو کې خورې شوې. ان چې هر مسلمان له زېږېدا سره سم هرو مرو په دې څلورو کې د یوه نه یوه منونکی شو. دا چې دغه فقهي مذهبونه ډېر پېچلي وو او اسانه نه وه، چې په سرسري لاسبرتیا لرلو دي هر وګړی د بېلا بېلو ستونزو په اړه د فتوا ورکولو وس و لري، ځکه ملایانو ته په ژوره لاسبرتیا سره په ټولنه کې د مذهبي لارښوونې درناوی په برخه شو او هر مسلمان دې ته اړ شو، چې د خپلو ستونزو په لړ کې له ملایانو مرسته و غواړي.
ملایانو د همدې مرام لپاره د فتواوو ټاکلې ځایونه جوړ کړل او هلته به د ګرانو او پېچلو ستونزو په اړه فتواوې ورکول کېدلې.
دغه چارې په مسلمانه ټولنه کې ریاست او مذهب ځله بېل کړل. د ریاست کار د غم یا ټیکس اخستل، خلګو ته نیاومنتیا یا انصاف ورکول او په هېواد کې د قانون په لاسبرتیا سره د اولس ساتنه تر سره کول وو، بلې خوا ته د ملایانو کار د مذهبي ښوونو خورول او د فقهي مذهبونو په رڼا کې په فتواوو ورکولو د خلګو اولسي، کلتوري او معاشي کړکېچ لېرې کول وو.
خو یاد چاپېریال یو ځل بیا هغه وخت بدلون وموندی، چې په عباسي خلافت کې د زوال نخښې را سر بېره کېدل پیل شوې، پایله دا چې پر ځای ځای باندې به خپلواک ولایتي دولتونه جوړ شول او نوو واکمنو کورنیو به سیاسي پیاوړتیا تر لاسه کول پیل کړل، نوو واکمنو کورنیو یوازې دا نه چې د سیاسي واک اړتیا درلوده، چې له دوی سره یې د

ketabton.com - The Digital Library



پوځ په بنه شتون درلودی او دوی یې له لاري د خپلواکۍ په پیاوړتیا او ټینګولو بوخت وو؛ بلکې پر دې سربېره یې د مذهبي ملاتړ اړتیا هم درلوده، چې دوی ته له خلافت څخه د بېلوالي په لاره پرانستلو اولس ډاډه کړي، چې د خپلواکۍ او ځانواکۍ شاته لامل مذهب ساتنه ده.

د همدې لپاره دغه نوو ولایتي دولتونو ملایانو ته د ریاست په کالبوت کې ځای ورکړی او د دوی لپاره یې ځانګړي مذهبي او عدالتي چوکۍ و ټاکلې، چې د قاضي، مفتي او صدر په نومونو و نومول شوې او له دې سره سم هغوی ته د غم را ټولولو، سزا ورکولو او په هېواد کې د سولې ساتلو چارې هم وسپارل شوې. په چارواکو کې تر ګډون لرلو وروسته د ملایانو طبقې له مذهبي پوښ څخه په وتلو په لوړه سیاسي او اولسي طبقه کې ځای وموند، چې له کبله یې په ارزښت او درناوي کې توپیر راغلی او د شتمنو تاجرانو، امیرانو او دربار د لوړو چوکیو لرونکو په کورنیو کې په خپښتۍ کولو سره د هغوی برخه وګرځېدل، ځکه په یاده دوره مانا یوولسمه او دوولسمه پېړۍ کې داسي یو شمېر بېلګې شته، چې په دې وخت کې ملایان د ښارونو او ولایتونو د والي په توګه او پر نورو لوړو چوکیو تر سترګو کېږي. مرام دا چې د مذهبي چارو په څنګ کې یې سیاسي واک هم تر لاسه کړی وو او د دولت یوه برخه ګرځېدلي وو.

څرګنده ده، چې په دولت کې له ګډون کولو څخه د ملایانو پر کردار ژوري اغېزې ځکه وشوې، چې اوس یې د دولت او واکمنانو د ګټو ساتنه هم له غاړې وه او پخپله یې هم له خلګو څخه په بېلوالي اولس ته په ټیټه کتل او تر لاس لاندي یې بلل.

د ملایانو دغه کردار د یادي دورې په تاریخ کې په څرګنده توګه لیدل کېږي، چې مذهبي ارزښت یې د واکمنانو لپاره کارولی دی او په دربار کې یې د روانو سیاسي چارو د مخنیوي پر ځای د هغوی ملاتړ کړی

ketabton.com - The Digital Library



دی. د بېلګي په توګه په دې کي لوی شمېر شاهي کورنیو په اولسونو کي د خپل ارزښت او درنښت لپاره داسي خبري خورې کړې، چي دوی له لرغونو ایرانیو شاهي کورنیو سره تړاو لري، ځکه د همدې لپاره يې په درباورنو کي لرغوني ایراني دودونه پلي کړل او په هغوی کي لرغونی ارین اختر (نوې ورځ یا نوروز) په ځانګړې یادونه ارزي، چي په ډېر درنښت او جم او جوش سره يې لمانځل تر سره کېدل پیل شول او په دربارونو کي به يې د سندرو، اتڼونو، نڅاګانو، شراب کباب او شباب مېلې تر سره کېدلې، ملایانو پر دغه ټولو چارو باندي سترګي پټي کړي وې او کله کله به يې د اړتیا پر وخت په پرېکړه کولو لار هم ورکړه، چي د خپل سیاسي او اولسي درناوي پر ځای ساتلو لپاره يې د دې نظام ملاتړ تر سره کړی.

پایله دا شوه، چي اولسي ارزښت که يې لوړ هم پاته شو، خو دولت او سیاسي واک په خلګو کي د هغوی درناوی اغېزمن کړی، چي وروسته يې په ادب، شاعري، خوړکیو، کیسو او نکلونو کي یادونه په هنک او پسخند سره کېدل پیل شول.

SCAN AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



## ملایان او مدرسه

د مدرسې تر را منځته کېدلو مخکې مذهبي زدکړې یا خو د استاذانو په کورونو کې او یا په ماجتانو کې تر سره کېدلې، چې پر یوه وخت به استاذانو په بېلا بېلو ټولیو جوړولو لوستونکو ته ښوونه تر سره کوله. دغه زدکړې په اولسي توګه تر سره کېدې، چې د ریاست له خوا یې مرستو ته چنداني پاملرنه نه کېده او په دې لړ کې د ملایانو، استاذانو او مذهبي زدکړو لپاره د بسپنې یا چندې ورکولو و مالي ملاتړ ته د ښه کار په سترګه کتل کېدل، له همدې کبله به ډېر ځایه دغه ډول چارې د خیر رسانه خلګو په مرستو رواني وې، چې په هغوی کې د تاجرانو، امیرانو او دولت د لوړو چارواکو له خوا مرستې تر سره کېدلې.
د عباسي خلافت بې سېکه (کمزور) کېدو له کبله چې کله په ولایتونو کې خپلواکې واکمنۍ جوړېدل پیل شوې، نو هغوی ته د داسې روزل شوو ملایانو اړتیا وه، چې د قاضي، مفتي او صدر د چوکیو لپاره ورتیا ولري، د یادې اړتیا پوره کولو لپاره د داسې ادارې جوړېدل اړین وو، چې په رسمي توګه تر زدکړو او روزنه وروسته ملایان چمتو کړل شي.
د همدې لپاره مدرسه را منځته شوه. ویل کېږي، چې لومړۍ مدرسه په خراسان کې جوړه شوه، وروسته د همدې تګلارې په پاللو سره د اسلامي نړۍ په بېلا بېلو برخو کې مدرسې جوړېدل پیل شول.
مدرسې یو وداني غوښته، چې په هغه کې د استاذانو او لوستونکو لپاره کتاب کور وي، رسمي معاش لرونکي استاذان و لري، د لوستونکو د اوسېدلو لپاره ځای وي او د داسې ادارې پالنې په پر له پسې توګه شتمنیو ته اړتیا درلوده، چې د بسپنې له لارې د داسې ادارې ساتنه او پالنه ګرانه خبره وه، ځکه ریاست یې مالي مرستو ته زړه ښه کړ او په

ketabton.com - The Digital Library



داسي توګه رياست يوازي دا نه چي پر مدرسو خپله لاسبرتيا و ساتله؛ بلکې مذهبي زدکړي يې هم د خپلو ګټو لپاره و کارولې.
د دې مدرسو لومړی مرام د داسي خلګو روزنه وه، چي په شريعت او فقهي چارو کي پوهنيزه وړتيا و لري او داسي کسان د نياومنتيا په پار پر عدالتي چوکيو و ټاکل شي، نو ځکه ډېر ژر د داسي مدرسو جوړېدل پيل شول، په مدرسه کي به د څلورو سني او فقهي مذهبونو زدکړي لوستونکو ته ور کول کېدلې، له همدې کبله مدرسه داسي اداره او مرکز جوړ شو، چي د ټولني مذهبي اړتياوي يې پوره کولې او د مذهبي ارزښتونو پالنه يې تر سره کوله.
د سني اسلامي دنيا په وړاندي فاطمي خلافت (۹۰۹– ۱۱۷۱) په مصر کي د نوموړي "الازهر" بنسټ کښېښوو، چي نوم که يې څه هم د ماجت وو، خو هغه مدرسه وه، چي مرام يې په اولسونو کي د سني عقايدو په ضد د شيعه عقايدو خورولو لپاره د ملايانو رغونه او روزنه وه. فاطمي رياست په پوره توګه د الازهر پالنه وکړه، په ياده مدرسه کي يې نوموړي ملايان د استاذانو په توګه را وستل او ښه معاشونه يې ورته وټاکل، چي په پوره ډاډمنتيا او ښه زړه سره لوستونکو ته زدکړي ورکړاى شي. نژدې تر دوه سوه کاله پوري الازهر د شيعه عقايدو لپاره نوموړې وه، چي روزلي ملايان يې په ټوله اسلامي نړۍ کي خواره شول او په ډېره ښه توګه يې خپله عقيده و رسوله، د دې روزلو ملايانو چاري دومره پټي او اغېزمني وې، چي سني ټولنه يې له پر خواشيني سربيره له ژورو اندېښنو سره مخامخ کړه.
داسي چاپېريال ته په کتلو د سلجوق کورنۍ نوموړي وزير نظام الملک (۱۰۹۲مړ) د مدرسو جوړولو لړۍ پيل کړه، چي د ده د نوم له کبله په نظاميه مدرسه نوموړې شوه. دغه مدرسې په بغداد، نېشاپور، هرات، اصفهان او موصل کي جوړي شوې. د بغداد مدرسې چلوونکی نوموړی

ketabton.com - The Digital Library



مذهبي عالم غزالي (۱۱۱۱مړ) وو. د دې مدرسو په مذهبي زدکړو کې د حنفي او شافعي فقهي تګلارو ته ډېره پاملرنه کېدله او په ځنګ کې يې د دې مرام په رڼا کې روزنه تر سره کېده، چې روزل شوي ملايان بيا د شيعه، اسماعيلي او فراملي غور ځنګونو په مخنيوي سره د خپلې عقيدې په وړاندې يادې عقيدې رد کړای شي.

د دې مذهبي نښتې پايله دا شوه، چې د دواړو خواوو ملايانو ته ډېر ارزښت په برخه شو او دوی ته يوازې دا نه چې د سني او شيعه دولتونو له خوا مرستې ورکول کېدلې؛ بلکې پالنه يې هم تر سره کېدله، چې له همدې جوړې يې په ټولنه کې اولسي درناوی زيات شو او دوی ته هم دا احساس وشو، چې موږ پر سمه لاره باندې د ژوند تېروونکي ډلې خلګ يو، نو زموږ فرض جوړېږي چې د اولس پر لارښوونه سربېره د واکمنانو چارې هم وڅارو، چې له مذهب څخه مخ نه واړوي.

مدرسې دوه ډوله پايلې و لرلې، يوې خوا ته که يې د ملايانو پېيون را منځته کړی او روزنه يې وکړه، نو بلې خوا ته يې هغوی له رياست سره په تړاو دې ته اړ ايستل، چې تر لاس لاندې يې ژوند وکړي، سربېره پر دې دا هم وشو، چې مدرسو د ټولنې تر اړتيا زيات شمېر زدکړې تر لاسه کوونکي ورکړل، پای دا چې د کار او روزګار نه لرلو له جوړې د غربت او ناداری په غېږ کې هغوی اړ شول، چې مذهبي ستونزې او شخړې را منځته کړي، ځکه فرقه واريت وده وکړه. دا چې په رياست کې يې کار نه درلودی، نو د رياست په ضد يې هم چارې پيل کړې او په ځنګ کې يې پر هغو ملايانو هم نيوکې وکړې، چې د رياست پر چوکيو ناست وو، د داسې ملايانو په اړه به يې څرګندوله، چې له مذهب څخه يې کاروبار جوړ کړی دی او له ديني تګلارو څخه يې په مخ اړولو خپلې ګټې په پام کې ساتلې دي.

ketabton.com - The Digital Library



ځکه یې ورته علماۍِ سو (له مذهب څخه ناوړه ګټې تر لاسه کوونکي) وویل او د ځان لپاره یې د علماۍِ حق (پر سمه لاره ژوند تېروونکي او مذهب پالونکي) نوم غوره کړی، چې دغه وړاندي ستونزو یو نوی چاپېریال را منځته کړی او د علماۍِ سو او علماۍِ حق تر منځ کله هم په یوه خوله پرېکړه و نه شوه او هري ډلي به یو بل په هم داسي نومونو سره یادول او بلل.

د خپلي لاري کره کولو او پخلي لپاره ملایانو اولسونو ته پاملرنه وکړه او په مذهبي چارو کي یې د هغوی په جذباتو را پارولو لاس پوري کړی.

پایله دا شوه، چې په مسلمانانو کي د ډلو بنسټونه پیاوړي شول او پر مذهبي بنسټونو له یوه بل څخه د کرکي پیل وشو.

AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



# شریعت او د ایراني بادشاهت نظریه

په کار دئ؛ مسلمان واکمن څه څه ځانګړتیاوي ولري؟ پر دې شخړه باندي د عباسي خلافت تر راتګ وروسته په سملاسي توګه د سیاسي واک لپاره د ایرانیو دفتري کسانو او ملایانو تر منځ کړکېچ او نښته تر سره شوې وه. د ملایانو دریځ دا وو، چي د مسلمان واکمن لپاره د شرعي چارو پالل اړین دي او په کار دئ، چي د شرعي لاسبرتیا لپاره خپلي ځاني ګټي او سیاسي چاري د شریعت په چوکاټ کي و ساتي.
خو په وړاندي یې ایرانیو دفتري چارواکو د ایراني لرغوني بادشاهت د نظریې پلي کول غوښت، چي په هغه کي لاسبرتیا د واکمن برخه وي او شریعت یې د ګټو او خوښي په رڼا کي بدلون مومي، نو ځکه هغوی د ښه واکمن تصور (چي په لرغوني ایران کي وو) له نوي سره ژوندی کړ او د ادب ډېره درنه برخه یې عربي ته وژباړله، چي د نیاومن واکمن ځانګړتیاوي پکښې څرګندي شوي وې. د همدې لپاره چي کوم کتابونه په اتمه او نهمه پېړۍ کي ولیکل شول، د هغوی په رڼا کي عباسي خلیفه ګانو په خپل دربار کي لرغوني ایراني دودونه پلي کړل او ورسره سم یې ریاستي اداري داسي و رغولې، چي د واکمن خوښه او غوښتني په پام کي و ساتلای شي.
د عباسي دولت تر بې سیکه کېدلو او نوي دولت تر را منځته کېدلو وروسته یو ځل بیا د ایرانیو دفتري خلګو او ملایانو تر منځ د دې پر سر شخړه جوړه شوه، چي مسلمان واکمن په کار دئ؛ څه خویونه ولري؟ د په کار دئ، چي شریعت و پالي او که ځانواک او تولواک پاته وي؟ د همدې مرام په رڼا کي دواړو ډلو داسي ادب و پنځاوه، چي په هغه کي واکمنانو ته د یوې لاري د ټاکني او خپلولو لارښودنه وه. په دې لړ کي

ketabton.com - The Digital Library



د ملايانو له خوا استازی ليک د الماوري (۱۰۵۸مړ) دی، چا چي په خپل کتاب "الاحکام السلطانيه" کي د داسي واکمنۍ انځور وړاندي کړی، چي واکمن د شريعت په پاللو خپلي چاري تر سره کړي او د شريعت په پلي کولو کي له ملايانو څخه لارښوونه واخلي. الماوري د خليفه يا واکمن د تګلاري په وړاندي کولو دا خبري په ټينګار کوي:

۱: د دين پالنه دي وکړي، که چېري چا نوې چاره تر سره کړې وي، مانا بدعت وکړي، يا د دين په لاره کي د شک څرګندونه وکړي، نو په دې لړ کي د خليفه کار دا دی، چي په لاسوندونو وړاندي کولو هغه سځ (قايل) کړي او د شک په لېري کولو د هغه ذهن د حق لاري ته اړل کړي او هڅه وکړي، چي د دين لاره پلي شي او په دې لاره کي هيڅ ډول خنډ پاته نه شي، چي مسلمانه ټولنه له بدو خوندي پاته شي.

۲: د دوو ډلو منځنۍ جګړه دي د شريعت په رڼا کي هواره کړل شي، چي نياومنتيا يا انصاف و ساتل شي.

۳: شريعت دي پلي کړل شي، چي خدای پاک له کومو لارو چارو را ګرځولي يو؛ هغه څوک خپله نه کړي او د خلګو حقوق لاندي نه شي.

۴: لومړی دي د اسلام بلنه ورکول شي، پر نه منلو دي د هغوی په ضد جهاد تر سره شي او دا ذمه داري د خدای له خوا پر خليفه لوېدلې ده، چي پر نورو مذهبونو باندي د اسلام لاسبرتيا و ساتلای شي.

۵: له وېري ترهي پرته دي د شريعت په رڼا کي غم تر لاسه کړل شي.

۶: له بيت المال څخه دي د حقدارو او نادارو لپاره پېرزويني او معاش و ټاکل شي، څار نه دي وشي، چي دغه معاش په پرله پسې و رسېږي.

۷: امانت ساتونکي خلګ دي ځايناستي و ټاکل شي، باوري کسان دي د واک او اختيار پر چوکيو کښېنول شي او خزانه دي هم داسي کسانو ته و سپارل شي. احکام السلطانيه کراچي چاپ ۳۲، ۳۴مخونه

ketabton.com - The Digital Library



غزالي (۱۱۱۱مړ) په خپل کتاب "نصیحت الملوک" کي د دې خبرې هڅه کړې ده، چې خلافت او سلطنت يو ځای کړل شي او دغه اداره د مذهب ساتنه تر سره کړي. د غزالي په خيال ښه واکمن هغه دی، چي د مذهب پالنه تر سره کړي، د دين لاره و پالي، د مذهبپالو او سپېڅلو خلګو په خيال ساتلو د هغوی درناوی و ساتي.

د دغه تګلارو په وړاندي د ايرانيو تګلارو پالونکو سلجوق وزير نظام الملک "سياست نامه" او کېکاوس (۱۰۸۲مړ) "قابوس نامه" وليکل.

په سياست نامه کي چي د باچا يا واکمن لپاره د کومو چارو يادونه شوې او د هغه کوم خويونه وړاندي شوي دي؛ هغه د ايران د لرغوني بادشاهت له نظريې سره سمون خوري، د بېلګي په توګه په هغه کي د واکمن لپاره نياومن پاتېدل او انصاف خوښوونکی کېدل اړين ګرځول شوي دي او دا خبره هم په ټينګار سره شوې ده، چي باچا دي په ټولنه کي د طبقاتي وېش په ساتلو سره په هغوی کي يووالی و ساتلای شي او په ځانګړې توګه د باچا ذمه داري ده، چي د زړو اميرانو د پېرزوينو خيال او د هغوی درناوی و ساتل شي. نظام الملک د نياومنتيا په اړه ليکي، چي د خدای خوښه په نياومنتيا (عدل) او انصاف کي ده، چي له اولس سره ښېګړه و پالل شي او له هغوی سره زياتوب و نه شي، نو اولسونه به تل د واکمن لپاره خير غوښتونکي وي. "پر کفر سربېره هېواد روغ پاتېدلای شي، خو په هېواد کي د زور زياتوب له زياتوالي څخه د هېواد روغ پاتېدل له اندېښني سره مخامخ کېږي."

نظام الملک په سياست نامه کي د شراب څښلو (می نوشی) اداب هم وړاندي کوي او ليکي، چي د شراب څښلو په ځانله ناستو کي دي هغه اولسي کسان هم (چي د شراب څښلو خوی لري) ګډون و لري، خو کله چي د ځانګړو کسانو لپاره ټاکلې ورځ وي، نو په هغه کي دي ټاکلي کسان ګډون و لري. "سياست نامه کراچي چاپ بېلا بېل مخونه"

ketabton.com - The Digital Library



په سیاست نامه کې د یوه واکمن ځانواک او ټولواک تصور دی، چې تر شریعت لوړ او ملایان یې تر لاس لاندې دي.

په قابوس نامه کې د یو ځوان شازاده د روزنې لپاره چې د ښه باچا لپاره څه رنګه خویونه په کار دي؟ هم په لارښوونه کې هغه ایراني تصورات وړاندې کړل شوي دي او باچا ته بشپړه واک ورکول شوی دی.

په مذهبي او سېکولر دواړو ادبیاتو کې د واکمن شخصیت د ارزښت خبره منل شوې ده، چې له کبله یې ټولنیز ژوند بدلون مومي او په منلو یې له دواړو خواوو هڅې شوي دي، چې واکمن د خپلو نظریاتو په غېږ کې ځای او پلوي کړي. په مذهبي ادب کې دا ټینګار شوی دی، چې باچا د شرعي چارو په پلي کولو او پاللو کې ملایانو ته اړتیا لري، نو په ریاست کې د هغوی ګډون اړین دی، چې په ښوونه تر لاسه کولو یې اسلام وده وکړي، ځکه چې د امت لپاره همدا د ښېګړې لاره ده.

اپوټه د ایرانیو پوهانو او سیاسیانو په پنځېدلي ادب کې باچا ټولواک دی او د هغه لپاره اړینه وه، چې په هېواد کې د نیاومنتیا ساتلو لپاره د امیرانو او پوهانو سره سلا وکړي او د سلطنت چارې ور وسپارې.

په دې ښته کې ملایان وروسته شول او واکمن یې د شریعت پلویان ځکه نه کړای شول، چې د ځاني ګټو او کورنیو پیاوړتیا لپاره د ایرانیو روایات خپلول په کار وو او د هغو سېکولر ادارو ملاتړ په کار وو، چې د دوی د واکمنۍ د پیاوړتیا لپاره اړیني وې، ځکه شریعت یې د واکمنۍ په وړاندې خنډ وو، نو په پټه خوله یې له شریعته مخ واړاوه. د بېلګې په توګه په شریعت کې مذهبي کم شمېرې ذمي ګڼل کېدل او پر لوړو چوکیو نه شوای ټاکل کېدلای، خو واکمن اړ وو، چې د واکمنیزو چارو لپاره عېسایان او یهودیان پر لوړو چوکیو وټاکي او پر هغوی باندې په باور کولو د دولت چارې ور وسپارې، نو څه وخت چې داسې اړتیاوې را منځته شوې؛ واکمنانو د شریعت پر ځای د دولت ګټې و ساتلې.

AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



## ښنسټ پالنه او د سمون غورځنګونه

(د سوبو له کبله چي کله اسلامي نړۍ و غوړېدله او نوي نوي قامونه په ګډ شول، نو له ځان سره يې خپل اولسي او کلتوري روايات، دودونه او اخترونه هم راوړل. ځکه له سوبو سره د اِبلاغي چارو په پايله کي چي اسلام تر کومو کومو سيمو او هېوادونو پوري خور شو؛ هلته يې ځان په سيمه ايز کلتوري چاپېريال کي ځای کړای شو، چي له کبله يې په اسلام کي د عرب کلتور لاسبرتيا ماته کړه.)

د عرب کلتور په ضد تر ټولو پياوړی غبرګون د ايرانيانو وو، چي د عربو پر پوځي او سياسي لاسبرتيا سربېره يې هم خپل اولسي او کلتوري روايات او ارزښتونه و ساتلای شول؛ بلکې په عباسي دور کي يې نوره وده هم وکړه. کله چي ايرانيو کورنيو ته بيرته واک په لاس ورغلی، نو د ايرانيو رواياتو په بيرته ژوندي کولو او پاللو کي يې ډېر ګړنديتوب او توندي څرګنده کړه.

په عباسي دوره کي چي ايرانيانو شعوبيه يا د قام غوښتني غورځنګ پيل کړ؛ هغه ورځ په ورځ پياوړی کېدی او د عرب کلتور په وړاندي د ايراني کلتور لاسبرتيا په سيالي روانه وه.

بلي خوا ته چي کله واکمنه طبقه شتمنه شوه، نو هغوی د عرب قبايلو يا توکمونو په رواياتو پرېښوولو د سوکاله ژوندانه لاري چاري خپلي کړې، چي له کبله يې د مذهبي شعارونو دود هم مخ پر ځوړ شو.

په داسي چاپېريال کي تر ټولو وړاندي امام حنبل (چي د سنيانو په څلورو فقهي مذهبونو کي د يوه جوړوونکي وو او د احاديثو ټولګه يې د مسند په نوم ليکلې ده) دا خبره په ټينګار وکړه، (چي له دې کلتوري يرغل څخه د اسلام ژغورنه په کار ده او کومي نوي چاري چي را

ketabton.com - The Digital Library



ننوتلي دي؛ د هغوی لېږي کول په کار دي. د هغه په خیال د یادي خرپړ تیا لېږي کولو یواځنی تګلاره هم دا وه، چي د اسلام بنسټیزي زدکړي و پالل شي او د اسلام په مانا کولو او سپړلو کي چي کومي فلسفیانه غورېدني را منځته شوي دي؛ هغه رد کړل شي.

څکه دا خبره هغوی په ټینګار سره وکړه، چي د قرآن په مانا دي د تورو (الفاظو) له لاري ځانونه و پوهول شي، په سپړنه او شننه کي دي يې د بېلګو یا مثالونو کارول نه تر سره کېږي، بل دا چي د خدای ج د ستر پیغامبر باوري احادیث دي په پلي کولو سره و پالل شي. نوموړي په مسند کي هم داسي احادیث یو ځای کړي دي.

څکه خو نوموړي و مفتیانو (چا چي د اولسي ستونزو هوارولو په لړ کي فتواوي ورکولې) ته په کلکه و ویل، چي د فتواوو ورکولو پر وخت دي تر قرآن او احادیثو وروسته د تېرو شوو مخورو لاره و پالل شي او له ځاني رایي څخه دي ځان و ساتل شي، فقهي تګلار دي له شربلو پرته خپله کړل شي او له نوښت (اجتهاد) څخه دي ځان و ساتل شي.

د امام حنبل په وړاندي تر ټولو لویه ستونزه نویوالی (بدعت) وو، څکه داسي دېر دودونه او روایات اسلامي ټولني ته راغلي وو، چي په عرب ټولنه کي نه وو، هغوی هري نوي چاري ته د شک په سترګه و کتل او د مخنیوي لپاره يې دا لاسوند (دلیل) وړاندي کاوی، چي هر بدعت یا نوې چاره د اسلام ورانول او کړکېچ را منځته کول دي، نو په کار دئ، چي د زړې اسلامي بنې په ساتلو د بدعت او نوو چارو لاره ډب شي.

هغه په اسلامي ټولنه کي د عرب کلتور د لاسبر تیا غوښتونکی وو، چي په عباسي دوره کي ایرانیانو د عربیانو زور او واک له منځه وړی وو، نو څکه دوی د دولت او خلافت وړ یوازي قریش ګڼل، چي په داسي توګه له عربو پرته څوک خلافت او دولت تر لاسه نه کړي. امت ته يې ویل، چي د عربو حقوق دي و ساتل شي او د هغوی درناوی دي تر سره شي.

ketabton.com - The Digital Library



عربو چي په تېرو وختونو کي کومي چاري او خدمات تر سره کړي دي؛ هغه دي و منل شي او له عربو سره دي هيڅ ډول کرکه او کينه و نه ساتل شي، ځکه په داسي کولو بيرته د لرغونو شاهنشاهانو دودونو ته لاري پرانستل کېږي او داسي چاري به له عرب تهذيبه پرته نورو تهذيبونو ته وده ورکول وي.

په دې ډول امام حنبل د بنسټ پالني غورځنګ پيل کړ، چي په هغه کي نورو کلتورونو او تهذيبي رواياتو ته ځای نه پاتېدی، ځکه د دې لاري پالونکي په خپلو نظرياتو کي ډېر لنډويني او توندلاري وو او په زوره يې خپل نظريات پلي کول يا په بله مانا ترپل غوښتل، همدا لامل وو، چي په ۹۲۹ او ۹۳۵ کي حنبليانو په مذهبي شخړو او جګړو کي برخه واخستله، په يادو جګړو کي په زرګونو انسانانو ژوند له لاسه ورکړی. په ۹۳۵ع کي هغوی په بغداد کي وسله وال بغاوت وکړ او د شرابو هتۍ يا ميخانې يې په لوټلو سره وسوځلې. د دې غورځنګ په شاليد کي هم د عرب سياسي او کلتوري واک د ضد په غبرګون کي را پارېدلې کرکه او خښم وو. دوی غوښتل، چي اسلام يوازي د عرب کلتور په غېږ کي را ونغاړي، خو دا غورځنګ يوازي تر ډله ايز چوکاټه پوري پاته شو او د اسلام غوړېدا چي پر کومو کلتوري بنسټونو باندي روانه وه؛ دوی يې مخنيوی و نه کولای شو.

د بنسټ پالني دغه بهير هغه وخت نور هم ځنډني شو، چي د سياسي چاپېريال بدلون په ګړنديتوب سره پيل شو، د منګوليانو بريدونو ټوله اسلامي نړۍ و لړزوله، عباسي خلافت له منځه ولاړ او په يوه مانا اسلامي نړۍ مرکزيت له له لاسه ورکړ. د سياسي ناکرارۍ او اولسي ګړکېچ په دغه چاپېريال کي امام ابن تيميه (۱۳۲۸مړ) د امام حنبل د لاري په پالنه پر دې ټينګار وکړی، چي د اسلام بنسټيزو ښوونو ته

ketabton.com - The Digital Library



پاملرنه په کار ده او تر اوسه پوري چي کومو نوو چارو اسلام ته لاره کړې ده؛ د هغوی له منځه وړل په کار دي.

دغه نوموړي هم د تورو (الفاظو) له لاري د قرآن او احادیثو د سپړني پر خبره ټینګار وکړی او اسلام ته چي د خارجي، شیعه، معتزله، اشعري او نورو ډلو له لاري خیالات را ننوتلي وو؛ پر هغوی یې کلکي نیوکي وکړې او په ځانګړي ډول یې د یوناني فلسفې او د هغوی پر پلویانو په نیوکه کولو سره دا څرګندونه وکړه، چي فلسفه سړی د کفر لوري ته بیایي، نو له کتني دي یې ځانونه وژغورل یا وساتل شي.

د هغوی له شعر او شاعري سره هم نه وه جوړه او شاعري یې د بېلارې لامل ګڼله او د هغه ټولو دودونو په ضد وو، چي له جوري یې د اسلام پر وحدانیت تور لګېدلای شوای، په ځانګړې توګه له اولیاوو غوښتنه او زیارتونو ته ورتګ د یادوني وړ دي، چي په هغه وخت کي دغه چاري ښخي ډېري شوي وې. د هغو ټولو ډلو او فرقو په ضد په کلکه ږغېدل، چي د دوی په خیال د دین دښمنان وو او په ځانګړې توګه د عیسایانو او یهودیانو په ضد وو.

امام تیمیه هم د خیالاتو توندوالي درلودی، هغه هم په توندوالي سره د خپل دریځ پلي کول غوښتل او په دې لړ کي یې تر خپله مرامه پوري د رسېدلو په لاره کي د ملایانو په کار اچولو هڅي کولې، د ده په خیال ملایان د خدای پاک د پیغامبر او خلفایٔ راشدینو د پاتیشونو (وراثت) ساتونکي وو، نو یې دنده او فرض جوړېږي، چي امت ته په لارښوونه اولس شرعي چارو ته اېل کړي او پر ملایانو ټینګار کوي، چي واکمنانو ته لارښوونه وکړي. دولت ته ور په ګوته کوي، چي د ملایانو خبري پر غوږ نیوونکی دولت ښه وي، د نوموړي د نظریې په رڼا کي پر ملایانو تر واکمنانو زیاته ذمه داري راځي، چي د شریعت په رڼا کي د تګلاري

ketabton.com - The Digital Library



جوړولو په لړ کي ملاتړ او کومک وکړي او په اسلامي ټولنه کي د خورو شوو ناوړو مخنیوی وکړي.

خو د امام حنبل او امام تیمیه دواړو غورځنګونه تر ډېره ایز چوکاټه پوري پاتي شول او ډېره نوموړتیا یې ځکه په برخه نه شوه، چي هغوی رواداري او زغم نه درلود او نه یې د چا خبره اورېدله. په زور او توندوالي یې په هر چا د خپلي خبري منلو خوی درلود او د ټولنیزو پرمختګیزو چارو په ضد وو، ځکه له ناکامۍ سره مخامخ شول. خو هغه نظریات یې رښتیا هم پاته شو او په رڼا کي یې وروسته د بنسټپالو غورځنګونو پیل تر سره شو، چي په حجاز کي د عبدالوهاب غورځنګ له همدې خیالاتو څخه په اغېزمنتیا را منځته شو.

ketabton.com - The Digital Library



## ملایان د صفوي او عثماني
## دولتونو په دوره کي

عثماني سلطنت عثمان په (۱۲۸۱–۱۳۲۴) کي جوړ کړی، چي برم يې تر سليمان قانوني (۱۵۲۰–۱۵۵۶) پوري پاته شو. د ياد سلطنت په کالبوت کي د ملايانو ټاکلی کردار وو، لکه په ايران کي چي شاه اسماعيل له (۱۵۰۱څخه تر ۱۵۲۴) پوري د صفوي سلطنت بنسټ کښېښوو، نو په بدلون موندونکي کالبوت کي يې ملايان له سياست څخه په لېري کېدلو د يوې ځانله ډلي په بڼه را سربېره شول. په يادو دواړو باچهيو کي د ملايانو د کردار شاته سني او شيعه عقيدو لوی لاس درلودی. د بېلګي په توګه شاه اسماعيل چي کله په ايران کي تر سلطنت جوړولو وروسته شيعه مذهب دولتي مذهب و ګرځاوه، نو په وړاندي يې تر ټولويه ستونزه دا وه، چي په څه ډول د ايران لوی شمېر لرونکي سنيان شيعه مذهب ته را واړوي، د همدې مرام لپاره يې له اسلامي نړۍ څخه شيعه ملايان را و غوښتل، چي و شيعه مذهب ته په وده ورکولو د ده سلطنت پياوړی کړای شي. له نوموړي سره په دې چاره کي د رياست پوره مرسته او ملاتړ ورسره وو، ځکه خو ياد مرام ته د رسېدلو او د شيعه مذهب ښوونيزو چارو لپاره په (۱۰۳۴ع) کي په لومړي ځل علي الکرکي لومړۍ شيعه مدرسه جوړه کړه، چي د شيعه مذهب او فقهي په رڼا کي ملايان جوړ او وروزل شي.
صفويانو يوازي دا نه چي د ملايانو په ملاتړ ايران شيعه کړی؛ بلکې په سلطنت کي يې د هغوی په ګډولو هڅه وکړه، چي مذهب د سياست لپاره په کار واچوي. د صفوي سلطنت په لوړو چوکيو کي به د صدر.پر چوکۍ د عالم ټاکنه کېدله، چي د نده يې د مذهبي چارو څارنه وه.

ketabton.com - The Digital Library



د اوقافو لاس ته راوړني پر مذهبي چارو ګارېدلې او د ملایانو د مالي اړتیاوو پوره کولو لپاره مځکې ورکول کېدې (د داسي مځکو لپاره سیورغال ګړنه (اصطلاح) کارېدله) او پر داسي مځکو هیڅ ډول غم یا ټیکس هم نه وو، چي په داسي توګه د ملایانو پېرزویني تر لاسه کوونکې طبقه را منځته شوه او هغوی یوازي دا نه چي مذهبي پوهه تر خپلې طبقې پوري و ساتله؛ بلکې د خپلو ګټو او پېرزوینو لپاره یې له ریاست سره هر ډول ملاتړ هم تر سره کړی او د خپل اولسي ارزښت د لا پیاوړتیا په نیامت یې د امیرانو او جاګیردارانو سره اړیکي و پاللې.

د دې په څنګ کي د نیاومنتیا (عدالت) پر لوړو چوکیو هم ملایان ټاکل کېدل، چي په دې توګه هغوی د ریاست په چارو کي د ګډون له کبله د سلطنت ارزښتوړ غړي جوړ شول.

خو کله چي په اوولسمه پېړۍ کي د ایران ریاست بې سېکه شو، نو ورسره سم یې پر ملایانو باندي لاسبرتیا هم له منځه ولاړه او ملایانو په همدې پړاو کي له ریاست څخه په ځان بېلولو سیاست او مذهب ځله بېل کړل، چي لومړی پیل یې د شیعه ملایانو له خوا د صفوي واکمنانو د امام په توګه نه منل وو، ځکه خو د اثنا عشري عقیدې له رویه دوولسم امام پټ شوی دی او پر یوه ټاکلي مهال به ځان ښکاره کوي، نو د هغوی په عقیده د امام په نه شتون کي به د هغه استازیتوب ملایان تر سره کوي، چي له کبله یې په ایران کي د مجتهدینو ارزښت لوړ شو او په مذهبي چارو کي د دوی خبره نه شوای اړالېدلای.

د تاریخ په دې چاره کي د ملایانو دوې ډلي را منځته شوې، چي یوه یې اصولي او بله اخباري بلل کېدله. اصولي ډله په دې باوري وه، چي د قرآن او حدیث په رڼا کي چاپېریال ته په کتلو اجتهاد کېدلای شي، خو اخباري ډلي د فقهي اړانه یوازي پر احادیثو بلله او د اصول، رایي یا لاسوند پر بنسټ یې نه پاموله، خو وروسته دویمه ډله مانا اخباري ډله

ketabton.com - The Digital Library



ملایان ځکه بې سبکه شول، چې په بدلون موندونکي چاپېریال کې اجتهاد اړین یا ضروري و ګڼل شو.

د نولسمي پېړۍ له راتګ سره سم ملایان د ریاست او واکمنانو خلاف شول، چې د خپلواک او ځانواک ارزښت په خپلولو یې ځانله یوه لړۍ و پېودله، هغوی مذهبي مدرسې جوړي کړلې، چې خرڅ یې د بازاري خلګو، امیرانو او شتمنو خلګو د پېرزوینو او لورېینو له لارې شو او دغه کار هغوی د مذهب چوپړ او د خپل اخرت د ښېګړي لپاره کاوی. ځکه خو په ایرانۍ ټولنه کې د مجتهد ارزښت دومره لوړ شو، چې د واکمنانو هم وېره ځنې کېده او په ضد یې ګام اخستلو ته زړه نه ښه کاوی.

سر جان مالکم په (۱۷۹۹ – ۱۸۰۱ او ۱۸۰۸ع) کې د برتانوي هند له خوا په ایران کې د سفیر په توګه پاته شو، چې د خپلو لیدلو کتلو په رڼا کې یې یو کتاب د "ایران تاریخ" په نوم لیکلی دی، په یاد کتاب کې د ایران د مجتهدینو په اړه لیکي، چې:

"په ایران کې داسي وخت ډېر کم تر سترګو کېږي، چې تر درې یا څلورو زیات مجتهدین دي پکښې وي، د مجتهدینو د کردار په اړه دا خبره کوټلې او باوري وي، چې سپېڅلي او پاک وي، له دنیاوي چارو څخه لېري وي، نه له واکمنانو او نه له دولتي چارواکو سره اړیکي ساتي، چې یاده رویه یې هیڅ کله بدلون نه مومي، ځکه د رویې په بدلون یې سمدلاسه ارزښت را ټیټېږي، چې بیا خبري اورېدلو ته هم څوک زړه نه ښه کوي او نه بیا څوک پوښتلو ته ورته راځي، چې وروسته د باچا له پامه هم لوېږي او هغه یې هم کورته له ورتګ څخه مخ اړوي. کله چې یو مجتهد مري، نو ځایناستی یې داسي څوک ټاکل کېږي، چې مذهبي ارزښت یې ښځي لوړ او بېساري مذهبي پوهنیزه وړتیا ولري،،،

ketabton.com - The Digital Library



په ایران کې د مجتهد برم او د هغه رایه پر عدالتي کاروايي، د قانون پر کارونه او د قاضیانو پر پرېکړو هم اغېز لري، د مقدمې په لړ کې په پرله پسې توګه د مجتهد رایه اخیستل کېږي، چې د پرېکړې درناوی یې اړین وي. یوازې هغه مجتهد چې پوهنیزه وړتیا یې تر یاد مجتهد لوړه وي؛ کولای شي، چې پر دې پرېکړه بله رایه ورکړي. د ایران اولسونه د مجتهدینو له لارې ډېرې اسانتیاوې په برخه لري. باچا چې کله هم د چا خبرې ته غوږ نه نیسي؛ د مجتهد سلا او رایه مني او کله چې د چا مجرم په لړ کې د اسانتیا غوښتونکی شي؛ نو خبره یې منل کېږي. د هغوی کورونه د بېوزله خلګو د سر سیوری ګڼل کېږي، چېرې چې د زیاتوب او تېري کوونکو لاسونه نه رسېږي."

په عثماني سلطنت کې هم د انتظامیې په برخه ګرځېدلو ملایانو ځانله ارزښت له لاسه ورکړی او په سلطنت کې د هغوی لوړه چوکۍ د "شیخ الاسلام" په نوم و نومول شوه، چې د خپل درناوي په ویاړ یې پخپله خوښه له باچا سره لیدلای او سلا یې ورکولای شوه، وروسته یې په عدالتونو کې د قاضیانو ټاکنه وکړه. شیخ الاسلام دوه څارونکي قاضیان درلودل، چې یو د بلقان لپاره او بل د اناطولیې لپاره وو.

پر دې سربېره په لویو ښارونو کې قاضیان ټاکل کېدل او دغه قاضیان به د خپلو چارو په رڼا کې په بېلا بېلو درجو وېشلي وو، چې د جایداد په راکړه ورکړه کې، د یتیمانو د ادارو په څارنه او د نیاومنتیا په نورو چارو تر سره کولو کې یې بوختیاوې درلودې.

قاضي به د جوړو شوو مدرسو چارې هم څارلې او تر سره کولې، د ریاست له خوا د لګېدلي غم یا ټیکس په اړه به یې مذهبي پخلی هم د لاس لیک په توګه کاوه او پر دې سربېره به یې د لاسي کار کوونکو او هنرمندانو د پېشه ورانه پېیونونو (انجمنونو) څارنه هم تر سره کوله.

د قاضي پر چوکۍ به د هغه چا ټاکنه کېده، چې له مدرسې څخه به یې

ketabton.com - The Digital Library



زدکړي پوره کړي وي، له قاضیانو سره په څنګ کي د مفتیانو چوکۍ وې، چي د بېلا بېلو چارو او ستونزو په اړه به یې فتواوي ورکولې.
همدا رنګه عثماني دولت د زدکړو او عدالتي نظام له لاري ملایانو ته معاشي کارونه ورکړل، چا چي پر مذهبي ادارو لاسبرتیا و ساتله.
پر دې ټولو خبرو سربېره د ملایانو ذهن و نه غوړېدی، هغوی تر پایه ژوندنیو چارو ته په لنډویني نظر کتل، چي د عثماني ټولني په بدلون موندونکي چاپېریال کي یې د هر اړخیزي خیالي غوړېدا او ویړتیا را منځته کېدلو مخنیوی تر سره کاوی. د بېلګي په توګه په ۱۰۸۰ع کي یې د سلیمانیه مدرسې پر رصدګاه باندي په برید کولو سره ټوله ورانه کړه، په شپاړسمه او اوولسمه پېړۍ کي هغوی د مذهبي سمونچارو په غورځنګونو کي پوره برخه واخسته او له هغو اخترونو او دودونو څخه یې نټه وکړه، چي د دوی په خیال اسلامي نه وو.
ان تر دې چي د کافي څښلو او نسوارو کارولو چاري یې هم له اسلامه پرته و ګڼلې او دولت ته یې په کلکه و ویل، چي د شریعت په پلي کولو سره دي له اسلامه پرته ټولي اداري له منځه یووړل شي.
کله چي په ترکي کي د چاپخوني لګول د شخړي لامل شول، نو شیخ الاسلام یې په دې اړ (شرط) د لګولو فتوا ورکړه، چي دلته به نور ادب چاپېدلای شي، خو قرآن شریف به نه چاپېږي.
په یادو غورځنګونو کي هغوی د صوفیانو په ضد هم پروپاګند تر سره کړی او په ځانګړې توګه یې د ترکي د مولانا رومي د پلویانو درو ېشانو په ناستو کي تر سره کېدونکې نڅا په کلکه و غندله. دا چي په ترکي کي داسي کم شمېري ډلي وې، چي مسلمانان نه وو او په هغوی کي عیسایان، یهودیان د ځانګړي یادوني وړ دي، په دې لړ کي هم هغوی غوښتنه وکړه، چي مسلمانان دي د نورو مذهبونو له اولسونو څخه جلا و اوسېږي، چي یو ځای اوسېدل مذهب ته اندېښنمن دي.

ketabton.com - The Digital Library



همدا رنګه هغوی پر پرمختګیزو پوهنو، فلسفي پوهنو او آزاد خیالي په اړه وراشو او مباحثو باندي د بندیز هڅي هم وکړې. په دې ټوله دوره کي دغه یاد ملایان په ښکاره توګه که څه هم د خدای د لاري او دین پالونکي وو، خو د ډوډۍ، کوډۍ او لونګۍ توپیر یې ښخي ډېر وو او د ریاست او سلطنت د چوکیو په کارولو یې د دولت او زور تر لاسه کولو لپاره په یو شمېر ناوړو چارو کي لاس درلودی.
که څه هم دغه ملایان د عثماني سلطنت یوه برخه وو او د سلطنت په ضد یې هیڅ ډول نیوکي نه کولې، خو د خپل ارزښت ساتني لپاره یې داسي هڅي تر سره کړې، چي ټولنه د زړې لاري په پاللو او پرمختګ نه خوښولو سره مذهبي پاته شي. دا خبره او وېره یې پر ځای هم وه، چي د خپلواکو خیالاتو له جوړي د دوی در ناوی له منځه تللای شو.
د وخت له تېرېدلو سره د دولت او ملایانو دواړو ګټې په دې کي وې، چي په ملتیا سره د نوو خیالاتو مخنیوی وکړي او په همدې خیال یې د سیاسي، معاشي او اولسي بدلونونو په وړاندي خنډونه را منځته کړل، چي همدغه تګلار پالنه د عثمانیه دولت د زوال لامل شوه.

AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



## ملايانو د سلطنت په دوره کې

په هندوستان کې چې کله ترکانو سلطنت جوړ کړی، نو دلته يې هم ملايانو ته په رياست کې د لوړو چوکيو په ورکولو سره هڅوی د ځان برخه وګرځول، په يادو چوکيو کې صدرالصدور، قاضي القضاة او شيخ الاسلام د يادوني وړ چوکۍ وې. په ۱۲۴۸ع کې د صدر جهان چوکۍ و ټاکل شوه، چې په هېواد کې يې کار د مذهبي چارو څارنه، د نياومنتيا تر سره کول، په مسلمانانو لمونځ کول، په بازار کې د شيانو د بيو او تول کتل او د اوقاف د جايدادونو څارنه تر سره کول وو.
باچاهانو په ماجتانو او مدرسو کې د استاذانو ټاکنه هم څکه د رياست له لاري وکړه، چې هغوی ته په باوري توګه معاشونه ورکول کېدل او د نومورو ملايانو لپاره يې ځانګړي مدرسې جوړي کړې، چې په مذهبي زدکړو بوخت پاته وي. د رياست او ملايانو د ملتيا پايله دا شوه، چې ملايانو له رياست سره ملاتړ وکړ او کله چې به واکمنانو ته د دوی اړتيا وه، نو د دوی له ملتيا څخه يې پوره پوره ګټه تر لاسه کوله. د بېلګې په توګه د دولت په ضد د بغاوتونو پر مهال به له دوی څخه کار اخستل کېدی، چې په پوهنيزه ورتيا د ياغي خيالاتو مخنيوی وکړي او خلګ د باچا پلويتوب ته اپل کړي. کله چې به د غم يا ټيکس اخستلو په لاره کې اولسي ستونزي را منځته کېدلې، نو پر داسي مهال به هم د دوی له لاري اولسونه د غم ورکولو ته اپلېدل.
باچاهانو پوره هڅي وکړې، چې له ملايانو سره په ښه توګه اړيکي و ساتي او د هغوی درناوی وکړي، د هغوی ناستو ته ورتګ و شي او دوی هم دربار ته په مېلمستياوو کې را و بلل شي، مذهبي وراشې ور سره و څېړل شي او کله کله سوغاتونه هم ور پېرزو کړل شي، خو پر دې ټولو

ketabton.com - The Digital Library



چارو سربېره يې غوښتل، چې له دولتي کړنلارو او دولتي چارو څخه لېري و ساتل شي. د بېلګي په توګه د التمش (۱۲۳۶ مړ) په زمانه کي ملايانو څرګنده کړه، چې هندوانو ته دي د کتاب لرونکو په سيالي نه کتل کېږي او ذمي دي و ګڼل شي، که نته وکړي، نو په کافر ګڼلو سره دي و وژل شي. التمش يې د خبرو په اورېدلو ځواب د خپل وزير په خوله داسي و وايه، چي دمګړی د ټولو هندوانو د وژلو لپاره دومره توري نه لرو، نو د وژلو پر ځای دي ځورېدلي او خوار و ساتل شي.

بلبن باچا (۱۲۸۷ع مړ) که په ښکاره توګه ملايانو ته په درنه سترګه کتل او د هغوی ډېر درناوی يې کاوه، خو د دولت تګلار يې ايرانی وه او ځان يې د افراسياب له ټبره ګاڼی. په دربار کي چي يې کوم دودونه پلي کړي وو؛ هغه ټول د لرغونو ايرانيو باچاهانو د تګلاري پالل وو.

همدا ډول و باغيانو ته په سزا ورکولو کي مذهب هيڅ لاس نه درلودی او دغه سزاوي و خپلو ګټو او هېوادنيو اړتياوو ته په کتلو سره ورکول کېدلې. باچاهانو که څه هم د دې برملا څرګندونه نه کوله، خو علاوالدين خلجي (۱۳۱۶ع مړ) ملايان د رياست له چارو بېخي لېري و ساتل او دا خبره يې ډاګيزه کړه، چي زه يوازي د اولسي ښېګړي لپاره چاري تر سره کوم، له دې سره هيڅ سروِکار نه لرم، چي زما چاري له مذهب سره سمي دي او که نه دي.

محمد تغلق باچا (۱۳۵۱ع مړ) پخپله هم عالم وو، ځکه يې هڅي وکړې، چي ملايان پخپله ګټه په کار واچوي او په دې لاره کي چي کومو ملايانو ملګرتيا ورسره وکړه؛ هغوی ته يې پېرزويني او سوغاتونه ورکړل او چا چي نته وکړه؛ هغوی يې و وژل او وروسته يې د ملايانو د زور ماتولو لپاره لېري لېري سيمو ته د اسلام خورولو لپاره په زوره و لېږل. په ځانګړې توګه چي کله باچا له ديوګير څخه پلازمېنه جوړول غوښتل، نو هلته يې په لوی شمېر ملايان واستول، چي له کبله يې به

ketabton.com - The Digital Library



ملایانو کي د ده په ضد جذبات را و پارېدل او څه وخت چي په هېواد کي د باچا په ضد بغاوتونه پیل شول؛ ملایانو هم په څه نه څه ډول له هغوی سره مرسته او ملاتړ کاوه.
خو په ټولیزه توګه ملایانو له مهالنیو باچهانو سره ملګري کړې ده او په بدل کي یې هڅه کړې ده، چي د ریاست په زور له مذهب څخه لېري ټول غورځنګونه (د دوی په خیال) له منځه یووړل شي.
د سلطنت په دوره کي ملایانو صوفیان هم خپل پلویان نه ګڼل، ځکه چي صوفیانو که څه هم له دربار سره اړیکي نه درلودې، خو په اولس او امیرانو کي یې پوره اغېز وو، نو ملایانو د دوی چاري هم د شریعت په ضد و بللې او ریاست یې د دوی په وړاندي پاراوه، چي په دې لړ کي د یادوني وړ شخړه د صوفیانو په ناستو کي "سماع" د شریعت په ضد چاره بلل وو او په دې لړ کي نظام الدین اولیا په ځانګړې توګه دربار ته د مناظرې لپاره را و بلل شو او پر دې سربېره هم هغوی هغه ټول ټال غورځنګونو او ډلي نه خوښولې، چي له سني عقیدې یې مخ اړاوی، د دې یوه بېلګه د سوري باچاهانو په دوره کي د مهدویه غورځنګ وو، چي جوړوونکی یې سید محمد مهدي جونپوري (۱۵۰۴ع مړ) وو، دغه غورځنګ د اسلام شاه (۱۵۵۴ع مړ) په زمانه کي د شیخ علائ له کبله ډېره وده کړې وه، ځکه د هغه په ضد مخدوم الملک ملا عبدالله سلطانپوري باچا ته شکایتونه وکړل، چي په ۱۵۴۸ع کي هغه په درو (کوړو) وهلو وهلو و وژل شو. تر دې مخکي یې له عبدالله نیازي سره هم داسي کړي وو.
مخدوم الملک له هغو ټولو ملایانو سره نه وو جوړ، چي ده یې پر عقیدو شک درلودی، په هغوی کي د ابوالفضل او فیضي پلار شیخ مبارک هم وو. د نوموړي د توندي لاري په ضد ملایان په څو ډلو و وېشل شول،

ketabton.com - The Digital Library



چي ځيني يې له سياست څخه بېل شول او ځيني د خپلو ګټو لپاره د رياستي ملايانو سره ملګري پاته شول.

ځکه د مغلو و واک ته د رسېدلو پر مهال په هندوستان کي يو شمېر چاري رواني وې، لومړی چاره دا چي رياستي ملايانو د توندلاري په خپلولو خپل مخالفين له منځه وړل، دويم د سمونچارو او سپېڅلتيا غورځنګونه وو، چي له بدعتونو څخه يې د اسلام ژغورل مرام وو، لکه مهدوي چي په خپله هم توندلاري وو او په زوره يې د خپلي عقيدې پلي کول غوښتل، دريم صوفيان چي د ملايانو زور يې ماتاوی او څلورم بهګتي غورځنګ وو، چي په هر مذهب کي يې د يووالي او زغم په را منځته کولو د وروړ ګلوۍ چاپېريال غوښت.

په دوی کي يوازي د ملايانو ډله داسي وه، چي د رياست سره پر ملتيا او برخه لرلو سربېره يې هم د توندوالي له لاري خپله عقيده پلي کول غوښته، ځکه يې د مغلو و واک ته تر رسېدلو وروسته هم هڅي وکړې، چي مغل واکمن تر لاس لاندي و ساتلای شي او د خپل مرام تر سره کولو لپاره کار ځني واخلي.

ketabton.com - The Digital Library



# د ابوالفضل کورنۍ او ملایان

اکبر چې کله په ۱۵۵۶ع کې پر تخت کښېنوست، نو تر ډېره ځایه د سوري سلطنت جوړ کالبوت په لاس ورغلی او په هغوی کې د ریاست ارزښتوړ غړي ملایان هم وو، چې مخدوم الملک عبدالله سلطانپوري او ملا عبدالنبي هم پکښې وو. اکبر په ځواني کې کلک مذهبي وو، ان چې ماجت به يې هم پخپله جارو کاوی، ملایانو ته يې په درنه سترګه کتل، په ځانګړې توګه يې د يادو دواړو ملایانو خبره هم منله، چې له کبله يې د سلطنت په چارو کې د هغوی اغېز زيات شوی وو، ان چې باچا ته به يې هم پر ناوړه چارو د درباريانو په مخ کې څه ويل. د بېلګې په توګه يو ځل اکبر زعفراني کالي اغوستي وو، چې صدر الصدور عبدالنبي ډېر خواشينی شو او د لاس په لکړه يې څوغني و واهه، اکبر خواشينی شو او کور ته په ستنېدلو يې مور ته د خپلې خواشينۍ څرګندونه وکړه، نو مور يې هغه ته و ويل، چې په دې کې ستا لويه ورځ څرګندېږي او دا به يوه تاريخي پېښه وي، چې يوه مشر عالم د لارښودني په پار باچا په لکړه و واهه او هغه وزغمله.
دا د هغه وخت پېښه ده، چې په اکبري دربار کې د ملایانو اوج وو او هغوی د رياست واک د خپلو مذهبي مرامونو لپاره په کار اچاوی. پر کومو ملايانو چې به يې شک شو، چې له سني عقايدو څخه بېل دي؛ هغوی ته يې له زندانه تر وژنې پورې سزا ورکوله، چې په همدې خلګو کې د ابوالفضل پلار شيخ مبارک هم وو او شک وو، چې مهدوي دی، پر همدې بنسټ يې له هغه سره ورانه وه. په ياده دوره کې چې د هغه پر کورنۍ باندې څه څه تېر شول؛ يادونه يې ابوالفضل د اکبري ائين په درېم ټوک کې د خپلې کورنۍ په اړه ليکنه کې کړې ده. له هغه

ketabton.com - The Digital Library



⟨ځخه اټکل کېدلای شي، چي ملایانو ته کله ریاستي واک په لاس ورشي، نو څه رنګه د وېري ترهي چاپېریال را منځته کوي او د مذهب په نامه د خلګو له وژني هم مخ نه اړوي.⟩

پېښه داسي وه، چي د مخدوم الملک او عبدالنبي صدر په وینا د شیخ مبارک د نیولو امر وشو، چي دغه خبر تیا یوه خواخوږي ورکړه او د هغه کورنۍ په شپه کي له وېري د کور په پرېښوولو د سر پټولو لپاره ووتله.

"موږ په نیمه شپه کي درې کسان پلي له کوره وتلو ته اړ وو، چي نه لاروی را سره وو او نه مو د تګ لپاره په پښو کي دومره توان وو. سهار وختي چي موږ د چا کره ورسېدو؛ هغه د پېژندني په باور په ډېر ورين تندي را غاړي ووت او یوه ښه خونه یې زموږ د اوسېدا لپاره وټاکله، په همدې خونه (کمره) کي دوې ورځې وروسته ځرګنده شوه، چي له شرمه وتلو سوخته کارو له خپل خیرن خچن نیت او لړلي وجدان ځخه په پرده پورته کولو سره په دروهونکي او مکار ذهن د هغې شپې په سهار په دربار کي د باچا پر غوږ ور پرېوتل او د باچا په تېر ایستلو یې دروند واکمن (مانا اکبر باچا) اندېښمن کړی، چي وروسته د باچا له دربار ځخه فرمان جاري شو، چي: دا پخپله د مذهب او ملت چاره ده، نو تر سره کول یې هم ستا سو (مانا مخدوم الملک او عبدالنبي) په اړتیا پوري اړه لري، هغه دي عدالت ته را و بلل شي او کوم امر چي د زمانې د مخورو مشرانو په یووالي د شریعت په رڼا کي ور کول شي؛ تر سره دي کړل شي. له موږ ځخه په زړه بداوي هغوی د شاهي ډلي "چاو شان" په ګومارلو زموږ د را بللو لپاره واستول، چي کله یې موږ په کور کي و نه موندلو، نو پر کور شا او خوا را وګرځېدل او زما ورور شیخ ابوالخیر یې په کور کي په موندلو له ځانه سره بوتلی او هلته یې په ډېر سپیناوي له خپله کوره ځخه زموږ د تګ او ځان پټولو کیسه تېره کړه. ژور لیدونکی شهریار (اکبر) په هر څه خبر او و پوهېدی، وروسته یې

ketabton.com - The Digital Library



له بدنیتو څخه وپوښتل، چي تاسو ولي له یوه پېڅولي درویش، پوهه لرونکي او سپېڅلي تپاند وګړي سره دومره توندوالی تر سره کوی او ولي له داسي برم څخه کار اخلی. بدنیتو ری و واهه، چي اوس خو هسي هم له کوره تللي او بې کوره شوي دي، نو په کار دئ، چي دغه ستونزه په پوره توګه هواره کړل شي، ځکه یې څه کسان په پټه دې ته وګومارل، چي هر ځای په لیدلو زموږ ژوند ته د پای ټکی کښېږدي. تر اوونۍ تېرېدلو وروسته موږ پر کورنیانو هم بار شو، هغوی هم سپین سترګي پیل کړه او کورنیو کارکوونکو هم په خپل انهار و پوهولو، له داسي چارو څخه موږ هم له وېري ترهي سره لاس او ګرېوان وو او باور مو شو، چي د دې دېوالونو شاته هر څوک په موږ پسي ګرزي او دا مو هم زړه ته لوېدله، چي کورنیان مو پای پخپله په لاس ور نکړي، نو مابنام مو په مات او نه زړه له دې حسرت اباده هم پښې سپکي کړې، نه مرستیال او نه غوړېدلی چاپېریال، زموږ د توان زوال او نه مو پېښېدا لره کومه ځاله درلوده، چي په دې توره تپه تیاره کي د یوه شاګرد کور ته په رسېدلو له ناڅاپي زړه غوړېدا او ژوندنۍ روڼا له خوارړه احساس سره مخامخ شو او څه شېبې مو د هوساینې ساه واخستله (وروسته هغې کورنۍ هم د یوه امیر په کور کي د سر ساتنه و غوښته) د نیمي شپې پر مهال بیا ګړندی او خبر زړه لرونکی موږ ته راغلی او موږ هم د تګ لپاره شیان را ټولول او بیا له بېلا بېلو لارو څخه د هغه سړي کور ته را ورسېدلو، چي وروسته دغه سړي هم له مېلمستیا څخه په تنګېدلو مخ اړولو ته زړه ښه کړ، له دې کوره هم د شپې پر مهال و وتلو او د یوه ملګري کره ورغلو، دلته مو هم تر یوه شپه تېرولو وروسته چي کله کورنیان ویده شول؛ د ناڅرګنده لوري خوا ته ګامونه واخستل، پای د هغه امیر کور ته و رسېدلو "چي د کور په پرېښوولو له خپلو کارکوونکو سره ولاړې" یوازي موږ درې نخاس ته نژدې سره پاته شو او داسي

ketabton.com - The Digital Library



نهیلی چاپېریال وو، چي نه مو یوې خوا ته د تګ اراده درلوده او نه دلته د پاتېدلو وو، نه د ځان پټولو ځای وو، چي پاته شوي وای، هري خوا ته د مخ اړوونکو ملګرو او سل رنګه دښمنانو د توند او تریخ غبرګون وېره وه، موږ په دې ناپایه ځنګل کي پر خاورو ناست وو او د زمان له څپېړو او ژوندنیو مرامونو د خرپړتیا له جوري ډېر خواشیني او نهیلي وو، د پردیو له ملامتیا او خپلوانو له زړه خواله څخه لېري یوې باغیچې ته و رسېدلو، خو ډېر ژر او په ناڅاپي توګه خبر شو، چي دلته هم د بدنیتو تګ راتګ وي، ژر مو له دې ځایه هم د ناخرګندي وېري په ملاتړ پښې سپکي کړې، چي کوم ځای ته به هم رسېدلو؛ له همدې وېروونکي ترهي سره مخامخ کېدلو، ان چي یوه باغوان و پېژندلو او موږ یې هم له مخامخېدلو د ژوند هیله له لاسه ورکړه، نژدې وه، چي بې سېکه شوي او پر مځکه لوېدلي وای، خو د نوموړي ورین تندي، میني او لوی زړه د ژوند ساه را و لوروله، چي وروسته یې د پټېدلو لپاره د یوه پټنځای درک هم راکړی او موږ هم هلته اوسېدلو ته زړه ښه کړ، له همدې ځایه مو ملګرو او خپلوانو ته لیکونه واستول، چي خبر شوي وګړي مو په یوه چاره کولو بوخت شول او موږ هم دلته یوه میاشت په ښه توګه تېره کړه، خو له دې ځایه مو هم تر میاشت تېرولو وروسته د نیولو له وېري ځان وکیښ او ویران زړونه مو پر خپلو پښو له خلګو لېري وراني بېدیا ته را و رسول، چي ایله مو د ښار له ورانیو او دښمن له سترګو پټ په کډوال کوچیاني ژوند کي د ډاډ ساه واخستله، خو دلته هم ځینو ستونزو د ډاډمنتیا هغه دېوالونه و نړول او موږ یو ځل بیا د یوه سوکاله او پرکاله ځای په لټون روان شو، د ناپېژندویه لاروي په ملتیا یوې کلیوالي سیمي ته (چي له پلازمېني سره نښتې سیمه وه) و رسېدلو، کله چي له لاري پرته پر لوړو ځوړو باندي دغه ځای ته راغلو، نو څرګنده شوه، چي دلته مو هم د لټون لپاره څوک راغلي او راځي، نو

ketabton.com - The Digital Library



د دې ځای له اوسیدلو هم لاس پر سر شو او زړه نا زړه د ښار لوري ته روان شو، سهار وختي پلازمېني آګرې ته له رسېدلو سره سم د يوه ملګري په کور کې ځای پر ځای شو، چې تر دې وروسته ملګرو باچا ته په خوله کړولو زموږ د کورنۍ په اړه د ری او فکر کولو خبره وکړه او د خورو شوو ناپرېتو او بې ځایه خبرو د لېرې کولو هڅې يې وکړې، چې د دغه تر سره شوو هڅو په اوښکو باندې هغه خيري و مينځل شوې او باچا دربار ته ور و غوښتل. د باچا دربار ته له ورتګ سره سم د نوموړې باچا (جهان پناه) بې شمېره لورېينو او پېرزوينو يې پر زړه غوړولو سربېره ارزښت هم لوړ کړ او د بدنيتو هغه دروهونکې ږغونه او اوازې هم پټه خوله شوې."

(ائينِ اکبري، دريم ټوک، ژباړه فدا علي طالب، ۳۳۹، ۴۱۴ مخونه)

AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



# اکبر او ملایان

د اکبر باچا په زمانه کې مخدوم الملک عبدالله سلطانپوري او صدر الصدور عبدالنبي د سلطنت ارزښتوړ ملایان وو، چې پر مذهبي چارو سربېره یې په سیاست کې لاسوهنې ته هم زړه ښه کاوه. د صدر چوکۍ هغه وخت د چارواکو په ارزښت وړ چوکیو کې ځای درلود او د هېواد تر ټولو لوړ فقهي او قانوني واک یې په لاس کې وو، چې په دې توګه یې ټول عدالتي نظام تر لاس لاندې وو، ټولو قاضیانو او مفتیانو د ده تر لاس لاندې چارې تر سره کولې او پر دې سربېره د وقف ځمکو، جایدادونو او پېرزوینو سر څارونکی هم وو.

په دې توګه شیخ عبدالنبي د مغل واکمنۍ هغه ارزښتوړ شخصیت وو، چې په پیل کې یې اکبر ډېر درناوی کاوی او د هغه کورته په ورتګ به یې په وړاندې د زدکړو پر مهال کښېنوست. د خپلې پوهنیزې وړتیا او سیاسي واک له جوړې هغه ډېر ووغمجن (مغرور) او بدخولی شوی وو، چې د اړتیا او کار لپاره د راغلیو په وړاندې به یې هرو مرو د خپل بېځایه ووغم او برم څرګندونه کوله.

د بېلګې په توګه څه وخت چې اکبر فرمان جاري کړ، چې له ملایانو سره د معاش لپاره د شته ځمکو پخلی دې د صدر په لاس لیک تر سره کړل شي، نو د همدې لپاره د ټول هېواد ملایان پلازمېنې ته په راتګ یو ځای شول او په دوی کې هغه اړیکې لرونکې او ساتونکي خلک هم وو، چې دغه چاره یې په اسانتیا تر سره کړای شوه او د خپلو جایدادونو پخلی یې وکړ، خو داسې ملایان هم پکښې وو، چې هیڅ لاسرسی یې نه درلود، چې د صدرالصدور سکرتر عبدالرسول ته یې په لاس نیولو او بډو ورکولو خپل کار تر سره کاوی او په دې لړ کې هغوی د شیخ له

ketabton.com - The Digital Library



ځارندويانو، دفتري کارکوونکو او چارو وهونکو ښځه د ښښم او ښځايه خبرو اوريدلو ته هم زړه ښه کاوی.

(بدايوني، ۱۱م ټوک. ۲۰۶، ۲۰۸ مخونه)

پخپله شيخ عبدالنبي هم له خلګو سره ښه رويه نه درلوده او د هغوی سپکاوی به يې کاوی. بدايوني په دې اړه ليکي، چې:

څه وخت چې به هغه پر خپله چوکۍ کښېنوست، نو تندی به يې تريو او ګونځي وو، غرور او توندوالی به يې له ورايه څرګند وو، له هر ډول لوی امير او عالم سره يې د خبرو پر مهال له بدي خولې او رويې ځان نه ساته او نه يې له چا سره په ورين تندي او غوږ ېدلي زړه خبري کولې.

د ماپښين لمانځه پر مهال چې به يې اودس کاوی، نو ځاځکي به يې داسي سره غورځول، چې د اميرانو او ناستو کسانو کالي او مخونه به يې ټول ور لانده کړل. (بدايوني ۱۱ ټوک، ۲۰۸ مخ)

څرګنده خبره ده، چې له داسي کړنو څخه يې خلګ خواشيني وو او درناوی يې يوازي د دې لپاره کاوی، چې سياسي اختيارات ورسره وو.

د اکبر په دربار کي دويم لوی عالم مخدوم الملک عبدالله سلطانپوري وو، چې درناوی او نوموړتيا يې د سوري کورنۍ له زماني څخه وه، خو نوموړی په مذهبي چارو کي دومره توندلاری وو، چې په وړاندي خنډ اچوونکي کسان يې په ځورېدلو سره تر وژني پوري رسول او په دې هم خلګو پېژانده، چې ډېره شتمني يې ټوله کړې وه او تر مرګ وروسته يې په پاتيشونو کي درې کروړه نغدي يادي شوې. اکبر يې تر مړينه وروسته د شتمنيو پلټني لپاره قاضي علي وګوماری، نو څرګنده شوه، چې د سرو زرو خښتي يې په خپل کور کي ښخي کړي وې، چې وروسته يې خښتي او کتابونه ګرو شو او شاهي خزانې ته ورکول شول.

(بدايوني ۱۱ ټوک، ۳۲۱ مخ)

AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



د نومورږي په اړه دا خبره هم خوره وه، چي له زكات څخه د ځان ژغورني لپاره به يې د كال په پاى كي خپل جايداد د ښځي په نوم كړاو د بل كال له پيل سره سم به يې بيرته ځني واخست، هم دا رنګه يې د حج په اړه فتوا وه، چي اوس دغه فرض پاته نه دى، ځكه چي د ورتګ لاره يې پر وچه باندي د شيعه ګانو تر وطن (مانا ايران) تېرېږي او د سمندر په لاره كي د پرتګېزيانو تر سيوري لاندي ور تګ غواړي.

يادو شوو دواړو ملايانو يو بل نه سره منل او هر يوه پر خپل ځاى هڅه كوله، چي له وار رسېدلو سره سم يې سپكاوى تر سره كړي او د خلګو په وړاندي يې يو د بل داسي چاري په ګوته كولې، چي تر ځان يې تيټ و پامولاى شي. د ملايانو تر منځ ځاني كركي هغه وخت را دبره شوې، چي اكبر د لمانځځاى (عبادت خانه ۱۵۷۴ع) بنسټ كښېښوو.

د لمانځځاى د بنسټ ايښوولو پر مهال اكبر په روايتي توګه د مذهب منونكى وو او له صوفيانو سره يې عقيدوي تړون دومره ژور شوى وو، چي د خواجه معين الدين اجميري زيارت ته يې تګ راتګ كاوى. د سليم چشتي سره يې دومره عقيدت وو، چي د زوى جهانګير زېږېدلو په وار يې مېرمن د ښېګړي په نيامت زيارت ته واستوله او د زوكړي پر وخت يې يوازي دا نه چي نوم سليم پر كښېښوو؛ بلكې زيارت ته نژدې يې فتح پور سيكري هم جوړه كړه، چي د بركت سيورى يې باندي وي د لمانځځاى جوړولو مرام دا وو، چي د ملايانو په يو ځاى كولو سره پر مذهبي چارو وراشې (مباحث) او مذهبي زدكړي تر سره شي، خو پخپله د ملايانو له يو بل سره رويې، د هغوى خبرو او يو پر بل نيوكو پر اكبر باندي بل ډول اغېزې وكړې.

په پيلامه كي ځانګړي ملايان را بلل كېدل او دغه ناسته به د جمعې تر لمانځه وروسته كېدله، اكبر چي به كله د كوم عالم د سپېڅلتيا او

سليم چشتي سره عقيدت و او يې خپل زوى نوم سليم كينبود

ketabton.com - The Digital Library



پوهي په اړه او ربدل، نو ياد لمانځنځاى ته به يې د راتګ بلنه ور کوله او پخپله به يې هم په ورتګ سره هغه ته ښه راغلي وايه.

ډېر ژر پر دې خبره ملايانو جګړه پيل کړه، چي ځوک به پر کوم ځاى کښېني او کوم ځاى د چا وړ دى. د را منځته شوي ستونزي د هوارولو لپاره د ځايتاکني چاري پخپله اکبر په لاس کي واخستې او د ټاکلي کړنلاري په رڼا کي درباريان ختيځ لوري ته، سيدان لوېديځ لوري ته، ملايان قطب لوري ته او شېخان شمال لوري ته کښېنول شول.

چي وراشې به پيل شوې، نو باچا به په خپله هري ډلي ته ورتلى او په خبرو کي به يې ګډون کاوه او هري ډلي ته يې پېرزويني هم کولې.

خو پر ځايټاکنو سربېره هم د ملايانو په رويه کي بدلون را نغلى او د وراشو پر مهال به يې له چيغو او ناوړه خبرو هم کار اخست، چي په داسي چارو يې له پوهي او سپېڅلتيا څخه اغېزمن باچا اکبر ډېر نهيلى شو او داسي چارو د هغه له ذهن او زړه څخه د ملايانو درناوى يووړى، ان تر دې پوري چي بدايوني ته يې و ويل، چي تر دې وروسته که چا هم زياتوب او بېځايه خبري وکړې، نو له لمانځنځايه دي و ايستل شي، چي په غبرګون کي بدايوني څرګنده کړه، که زه داسي وکړم! نو دلته به يو عالم هم پاته نه شي او هر يو به ايستل غواړي.

بدايوني ۱۱ ټوک ۲۰۴، ۲۰۵ مخونه

يادي منځنۍ شخړي هغه وخت نوري هم زياتي شوې، چي يوه ورځ د ماينو پر شمېر (تعداد ازواج) باندي وراشې را منځته شوې، چي اکبر هم هغه مهال تر څلورو زياتي ښځي درلودې او خبره داسي شوه، چي تر څلورو زياتي ماينې ناروا دي او له هغوى څخه زېږېدلي اولاد به هم ارموني وي، د اکبر د ښځو زيات شمېر د راجپوت شاهزاديو وو او په دې ناروا توګه د ماينو ساتنه د هغه د درناوي او پت خبره هم وه، چي هغه يې خواشينى کړى وو. هغه له ملايانو غوښتنه وکړه، چي په څه

ketabton.com - The Digital Library



نه څه ډول له دې شخړې و ژغورل شي. هغه ملایانو ته دا هم څرګنده کړه، چې شیخ عبدالنبي صدرالصدور په یادونه سره د یوه مجتهد ابنِ ابي لیله د نهو ماینو خبره کړې وه.

پر دې خبره د ملایانو مذهبي وراشې پیل شوې، ځینو د قرآن پاک د دې آیت په یادولو و ویل، چې په هغه کې دوې او دوې، درې او درې، څلور او څلور ودونه وکړئ او د تاویل په رڼا کې یې مرام داسي وښود:

۴+۴+۳+۳+۲+۲=۱۸ یا ۲+۳+۴=۹

پر دې مهال بدایوني باچا ته سلا ورکړه، چې مالکي که دا فتوا ورکړې، چې د متعې واده وړتیا لري، نو دا فتوا به د سنیانو او شیعه ګانو دواړو لپاره وي، چې له اوریدلو سره سم یې اکبر د حنفي قاضي په لېرې کولو د هغه پر ځای قاضي حسن عرب مالکي قاضي و ټاکی، چا چې هغه مهال د متعې واده په اړه د فتوا په ورکولو د باچا ټول ودونه روا و ګڼل. اکبر ډېر ژر مالکي لېرې کړی او د هغه پر ځای یې بیرته حنفي قاضي ځکه و ټاکی، چې نور یې د لارې پلویان نه شي. بدایوني ۲۱۱، ۲۱۳، اکبر ته دغه مذهبي وراشو دومره خوند ورکاوی، چې ډېر وخت یې هم دلته تېراوی او د جمعې ورځ خو یې په دې اړه پوهېدنو ته ځانګړې کړې وه. د وراشو پر مهال هغه ولیدل، چې ځینې ملایان په خبښم کې خپله ذهني وړتیا هم له لاسه ورکوي او ږغ یې په چیغو اوړي او په داسي وخت کې یو بل ته د کافر او مشرک ویلو زړه هم کوي. تر ټولو د خواشینۍ خبره دا وه، چې د نوموړي په دربار کې دواړه لوی ملایان مخدوم الملک او عبدالنبي هم یو بل ته کافر وایي. مخدوم الملک په لمانځځای کې پر وراشو باندې په نیوکه کولو پر عبدالنبي د کفر فتوا ورکړه، چې نوموړي خضر خان شرواني و رسول الله ص ته د بد ویلو په تور او میر حبش یې د شیعه په تور په نورو و وژل، چې یادي دواړې

ketabton.com - The Digital Library



خبري درواغ وې. هغه زياته کړه، چې په شيخ پسې ځکه لمونځ نه کېږي، چې يو خو پلار شړلی (عاق) دی او بل د ويني ناروغي لري.
شيخ عبدالنبي هم په ځواب کې پر مخدوم الملک نيوکې وکړې، چې پايله يې په دربار کې د دوو ډلو را منځته کېدل شو او دواړو په يو بل پسې ناوړې خبرې خورولې، چې له جوړې يې د اکبر زړه مات شو او په زړه کې يې د ملايانو درناوی نه شو پاته.
تردې وروسته اکبر د نورو ډلو او مذهبونو خلګو ته د راتګ بلنه ورکړه، چې په هغوی کې د هندو، جين، بدهه، عيسايي، مجوسي او نورو مذهبونو ملايان وو، هغوی په راتګ د خپلو خپلو مذهبونو ځانګړنې وړاندې کړې او په ګڼ شمېر وراشو کې يې ملايانو ته ماته هم ورکړه.
اکبر له ملايانو هغه وخت نور هم نهيلی شو، چې په دوی کې به ځينو يو شی روا ګاڼه او ځينو به ناروا. همدا رنګه کله چې اکبر قاضي جلال او نورو ملايانو ته د قرآن د تفسير ليکلو ويل، نو هغوی پر هره خبره له يو بل سره اړوتل او د يو بل خبره يې نه منله.
شيعه عالم ملا محمد يزدي چې د شيعه تګلارې په رڼا کې د اسلام لومړنی تاريخ باچا ته وړاندې کړ او باچا يې په رڼا کې تاريخي کتابونه وکتل، نو د صحابوو منځنيو شخړو يې ايمان نور هم بې سبکه کړ.
په همدې وخت کې يو صوفي عالم شيخ تاج الدين د باچا دربار ته راغلی او باچا ته يې سر ټيټول روا و ګڼل، هغه د مراد او اړتيا پوره کولو په رڼا کې باچا ته سر ټيټول (سجده تحيه) روا کړل، چې د مذهب خلاف خبره نه ګڼل کېدله. (بدايوني ۱۱ ټوک ۲۶۶ مخ)
په ۱۵۷۹ع کې يوه پېښه وشوه، چې اکبر يې په پوره توګه له ملايانو بېل کړ، کيسه داسې وه، چې د متهرا قاضي شکايت وکړ، چې يوه برهمن د ماجت رغولو پر وخت يو شی يووړی او بيا يې يوازې دا نه چې له راکولو نټه وکړه؛ بلکې رسول الله ص ته يې سپکاوی هم وکړ. شيخ

ketabton.com - The Digital Library



عبدالنبي د صدر په توګه برهمن دربار ته را و غوښت، خو هغه را نغلی او اکبر د دریم ګړي په توګه ابوالفضل او راجه بېربر د پلټني لپاره ور ولېږل، هغوی تر پلټنه وروسته لګول شوی تور سم و باله او برهمن ته پر سزا ورکولو باندې د ملايانو جوړه نه راتله، ځينو د مرګ سزا ورکول غوښت او ځينو په درو (کوړو) باندې د وهلو سزا ورکوله. اکبر غوښت، چې ژوند يې و ژغورل شي، خو شيخ د مرګ په سزا ورکولو و واژه، دغه پېښې د ملايانو او باچا واک بېخي ډاګيزه کړ، چې باچا د ملايانو په وړاندې ناوسه دی. په دې لړ کې يوازې دا نه چې اکبر بلکې د هندو مېرمنو او درباريانو هم په دې اړه نيوکې وکړې، چې ملايانو تر خپل واک زياتوب او تېری تر سره کړی.

اکبر په ياد لمانځنځای کې له ملايانو څخه د برهمن پر پېښه باندې رايه واخسته، ډېرو ملايانو د عبدالنبي په ضد پرېکړه واوروله، وروسته اکبر پرېکړه وکړه، چې ملايان په دولتي چارو کې څه ډول لاسوهنه کوي؛ هغه په ټوليزه توګه د سولې او رواداری په ضد دې او دا بېخې ښکاره وه، چې په هندوستان غوندې هېواد کې هندوان "چې تر ټولو لوی شمېر لري" د ده د سلطنت ملاتړ کوي، نو ملايانو ته په پرانستې مټ د نورو مذهبونو په ضد چارې تر سره کول نه دې په کار.

څکه اکبر په داسې چاپېريال کې شيخ مبارک "د ابوالفضل پلار" دربار ته را و غوښت او ورته و يې ويل، چې ولې مو له دې ملايانو نه ژغورې؟ په خواب کې شيخ وړاندې کړه، چې تاسو د مجتهد او نياومن مشر ارزښت خپل کړی او په داسې کولو له ټولو ملايانو څخه په يوه ناسته کې لاس ليک واخلئ، چې تر هغه وروسته به واک ستاسو لاس ته ورسېږي او تاسو به پر ټولو ستونزو باندې پرېکړه ورکولای شئ، څکه ناسته را و غوښتل شوه او له ټولو ملايانو څخه لاس ليک واخستل شو، چې په هغوی کې مخدوم الملک او عبدالنبي هم ګډون درلودی.

ketabton.com - The Digital Library



خبره پر دې ځای و نه دربېدله، چې ځينو ملايانو باچا ته د نږدېکت لپاره هغه ته د زمان مخور او مشر و ويل، چې نوموړی به د اسلام ټولي ډلي يو ځای کړای شي. شريف آملي د يوه سند په ښکاره کولو جوته کړه، چې په ۹۰۰هـ کي به داسي څوک راځي، چې د دنيا ټولي ناوړې به له منځه يوسي. خواجه شېرازي يو څپرکی (پمفلټ) راوړی، چې د مکې "شريف" ليکلی وو او په هغه کي دمهدي د څرګندېدلو زېری شوی وو. وروسته يې يوه رساله پخپله هم وليکله، چې په هغه کي يې اکبر مهدي ګڼلی وو. بدايوني ۱۱ ټوک ۶۹۵مخ

(تر دې وروسته خبره داسي ځای ته و رسېدله، چې ملايانو، مفتيانو او قاضيانو به د باچا د خوشالولو لپاره په دربار او شاهي مېلمستياوو کي له شرابو څخه هم مخ نه اړاوی.) بدايوني ۱۱ ټوک ۳۱۹مخ

اکبر چې له ملايانو څخه تر نهيلۍ وروسته په مذهبي چارو کي د آزاد خيالۍ لاره خپله کړه، نو ځينو ملايانو د ناکرارۍ په خورېدلو د کفر فتواوي هم و لګولې. په داسي چاپېريال کي اکبر پرېکړه وکړه، چې د ملايانو له جوري خنډونه، په سلطنت کي لاسوهنه او تاوتريخوالی له منځه يوسي، ځکه يې په دې لړ کي درې خبرو ته پاملرنه تر سره کړه.

۱: داسي ملايان چې د ده په ضد يې د کفر فتواوي ورکړي وې او اولس يې بغاوت ته پارولی وو؛ هغه يې تر نيولو وروسته په څه نه څه ډول د مرګ کندي ته و رسول، مخدوم الملک او شيخ عبدالنبي يې حج ته واستول او دا يې هم تر غوږ ور تېره کړه، چې له شاهي غوښتني پرته دې بيرته نه راځي، خو کله چې هغوی په دې هيله راغلل، چې د اکبر په ضد بغاوتونه پيل شوي دي او کېدای شي؛ واک په لاس ورشي، نو اکبر دواړه تر بنديانولو وروسته يې و وژل.

ketabton.com - The Digital Library



۲: د پنجاب ملایان (چي اکبر د ځان په ضد بلل) يې د هندوستان بېلا بېلو سيمو ته واستول او په دې ډول يې د هغوی اغېز او زور بې سېکه کړ، چي پر يوه ځای د اوسېدا له کبله يې درلودی.
۳: اکبر ټوله نوموړي ملايان دربار ته را و غوښتل او تر ليدلو وروسته يې هغوی ته د معاشي مرستي په توګه مځکي ورکړې، چي داسي يې لومړی د هغوی ملتيا و ځارله او وروسته يې مرستي ورسره وساتلې.
اکبر يوازي دا نه چي هغه ملايانو ته "چي د ده خواخوږي وو" معاشونه ورکړل؛ بلکې د هغوی په مذهبي خيالاتو يې هم سروکار نه وو، خو دومره يې ځارل، چي په اولس کي بغاوت او پسات را منځته نه کړي.
د باچا دويم ګام د سلطنت په ارزښت وړ چارو کي د ملايانو پر ځای پوهان ځان ته نژدې کول وو، څکه خو حکيم ابوالفتح، حکيم حمام، حکيم علي، حکيم عين الملک او شيخ فيضي هغه کسان وو، چي په دربار کي يې ارزښت و موندی او باچا ته يې په چارو کي سلا ورکوله.
اکبر هغه پوهانو ته چي مذهبي خيالات يې غوړېدلي (لبرل) وو؛ په لويو ښارونو کي لوړي چوکۍ وسپارلې، چي هلته د قاضيانو او مفتيانو ځار نه تر سره کړای شي. (احمد شبير ۱۵۷)
د اکبر د دې کړنلاري پايله دا شوه، چي له دربار څخه د ملايانو اغېز له منځه ولاړی او دا لار پرانستل شوه، چي په خپلواکي سره د سولي او رواداری دولتي چاري تر سره کړي. د ملايانو له زوال سره چي په اولسونو کي د اکبري عقيدې په اړه کومي خبري خورې شوي وې؛ هغه هم سوکه سوکه له ذهنونو و وتلې، چي اکبر او تر ده وروسته د ده دوه ځايناستي جهانګير او شاه جهان يې هم له اغېزه ژغورلي پاته وو او مغلو داسي سېکولر کړنلاره په خپلولو وساتلای شوه، چي مذهبي لنډويني او تونده ورځ (متشدد) يې نه درلودله.

AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



## اورنگ زیب او ملایان

اکبر د سبکولر کړنلارې په پاللو د ملایانو اغېز او په سلطنت کې د هغوی لاسوهنه کورټ له منځه یووړه، چې تر هغه وروسته شاهجهان جهانګیر لړ او ډېر هغه کړنلاره وساتلای شوه او د ملایانو اختیار یې تر مذهبي چارو پورې په ساتلو سره باچا پر خپل ځای واکمن وساتی.

خو اورنګ زېب د خپلو سیاسي مرامونو لپاره ملایان په کار واچول او له سره یې بیرته که څه هم اختیارات ورکړل، خو په ډېره ځیرکتیا یې د واکمنۍ د پیاوړتیا لپاره په کار را وستل. ملایانو ته چې واک په لاس ورغلی، نو پر ځای د دې چې د مذهبي ودې لپاره یې په کار واچوي؛ هغوی د ځاني ګټو لپاره و کاراوی او د بډو، درغلیو او نورو ناوړو لارو یې شتمنۍ را ټولول پیل کړل، پایله دا شوه، چې د تر سره کړو چارو له جوړې یې باچا ته د شریعت پلې کولو زړه نه شوای کولای. د بېلګې په توګه قاضی القضات عبدالوهاب د بډو اخستلو له لارې پوره بدنامه شوی وو، چې تر مړینه وروسته یې په پاتیشونو (میراث) کې پر دوه لکهه اشرفۍ او پنځه لکهه کلدارو سربېره لوړ بیه غمیان، ګڼې او نور ډېر څه پر ښنبوول. خاني خان لیکلي دي، چې د هغه اختیارات دومره زیات وو، چې لوی لوی امیرانو به هم لاسونه ورته مروړل او د هغه په وړاندې به د خپل در ناوی اند ښنبنه ورسره وه.

خاني خان، دریم ټوک، ۱۹۹، ۲۲۶ مخونه

اورنګ زېب په پیل کې د ملایانو له لارې خپل سیاسي مرامونه تر لاسه کړل، د بېلګې په توګه چې کله یې داراشکوه و نیوی، نو تر ټولو مخکې یې د هیبت خان په نوم سپاهي په ضد فتوا تر لاسه کړه، چې د داراشکوه د نیولو په ضد یې لاریونونه تر سره کړي وو. د هغه تر وژلو

ketabton.com - The Digital Library



وروسته يې له فقهاوو څخه د داراشکوه په ضد هم فتوا واخستله او دا تور يې ولګاوی، چي له شرعي څخه په وتلو يې کفر او الحاد خپور کړی دی او د همدې فتوا پر بنسټ يې يوازي دا نه چي و واژه؛ بلکې مړی يې هم د اولسونو په وړاندې و ځرلاوی. (خاني خان، دريم، ۹۴مخ)

کله چي يې د خپل ورور شازاده مراد د لښکري کولو وپتېيله، نو د علي نقي نومي سړي د وژلو په تور يې د وژل شوي د زامنو له لاري د خون دعوه وکړه، چي قاضي په جوتولو سره د مرګ سزا ورته واوروله.

خاني خان، دريم، ۱۵۱مخ

همدغه ډول اورنګ زېب د دارا پر ملګرو په شرعي تورونو لګولو د هغوی وژنه تر سره کړه، چي تر ټولو نوموړې وژنه د صوفي سرمد وه.

اورنګ زېب و خپل رياست ته د اسلامي بڼي ورکولو په زړه پوري هڅي تر سره کړې او د همدې مرام لپاره يې داسي ګامونه واخستل، چي له شريعت سره يې د ده مينه او زړه غوښتنه څرګندوله. لکه پر شرابو او د هندوانو پر زيارتونو بنديز، له دربار څخه د موسيقۍ له منځه وړل، د باچا لپاره د درناوي او شاپون دوديزه ننداره له منځه وړل، پر زايچه او نجوم بنديز لګول او له شرعي پرته څو ډوله غم يا ټيکس پر ښوول، چي پر دې سربېره يې د عدليې او نياومنتيا د څانګي ملايانو ته په سپارلو هغوی ته ويړ او پراخ اختيارات ورکول.

خو دغه ټولي چاري د مغل سلطنت د زوال په مخنيوي کي له ناکامی سره څکه مخامخ شوې، چي اکبر د رواداری په کړنلاره خپلولو سره هر مذهب، عقيده او قام د مغل سلطنت برخه ګرځولي وو؛ د يادي کړنلاري له لاري نه شوای کېدلای، څکه ورو ورو بېلا بېلو ډلو، فرقو او قامونو د بېلبېلو لاره خپله کړه، چي پای د مغل واک بې سبکه شو.

اورنګ زېب که څه هم ملايانو ته اختيارات ورکړي وو، خو هغه ملايانو دومره ارزښت او وړتيا نه درلوده، چي د سلطنت په ورانيو دي

ketabton.com - The Digital Library



وپوهېږي، ځکه هغوی هم د سلطنت په برخه ګرځېدلو د دنیاوي ګټو خوند اخستی او په همدې چاره بوخت پاته وو، چې دا رنګه هغوی هم د سلطنت د زوال په ګړندیتوب کې برخه واخستله.

د ملایانو په دې بې سېکه ورځ او ناوړتیا کېدای شي؛ اورنګ زېب هم پوهېدلی وي، ځکه يې د عالمګیري فقهي تدوین پیل کړ، کله چې بشپړ کړل شو، نو يې د کتاب د بشپړتابه او ارزښت په اړه داسې څرګندونه وکړه، چې دا د فقهي دومره بشپړ او پوره کتاب دی، چې نور نو تر دې کتاب وروسته مسلمانان له ملایانو څخه د فتوا اخستلو او سلا کولو اړتیا نه لري او دا کتاب هغه ټولې اړتیاوې پوره کوي.

عالمګیري تر اوسه د حنفي مذهب علماء به استنا استناد کوي، چې عالمګیر د خپل ځان لپاره به ملایانو تدوین او تالیف اختیار نه کړی وه، بلکه یو ځل دې برخې کتاب ورته انتقادي نظر وکړي

ketabton.com - The Digital Library



# مدرسه او د زدکړې نصاب

〈وړاندې خرګنده شوه، چې مسلمان واکمنانو په ریاست کې د ملایانو په ګډولو هغوی ته دولتي چوکۍ ورکړلې او په ځانګړې توګه یې د عدالت او قانون څانګه هغوی ته وسپارله، د همدې چارو په ښه توګه تر سره کولو لپاره ملایانو اړتیا و پاموله، چې په مدرسو کې یادو چارو ته د ملایانو روزنې لپاره نصاب جوړ کړل شي او د همدې مرام لپاره په پیل کې سلجوق وزیر نظام الملک طوسي د داسې مدرسو بنسټ کېښېښوو، چې د اسلامي دولتونو اړتیاوې پوره کړای شي. وروسته یې نورو مسلمانو واکمنانو هم پالنه تر سره کړه.〉

په هندوستان کې د داسې نصاب جوړولو په لړ کې ملا نظام الدین (۱۷۴۸م) ډېره درنه برخه لري، چې له "فرنګي محل" سره یې تړاو درلودی او په ټول هندوستان کې د استاذ په توګه منل شوی وو. هغه چې کوم نصاب جوړ کړی "درسِ نظامیه" نومېږي. دغه نصاب پوره پېړۍ له هیڅ بدلون پرته په هندوستان کې ویل کېدی او نن هم په لږ بدلون سره د پاکستان او هندوستان په مدرسو کې ورته ویل کېږي.

"درسِ نظامیه" د دې مرام لپاره رغول شوی وو، چې لوستونکي یې په مسلمان دولتونو کې د قاضي، مفتي او صدر پر چوکیو باندې چارې تر سره کړای شي. دغه نصاب داسې چمتو کړل شوی وو، چې په شل کلنې منګ کې لوستونکي تر سره کولای شوای، نور نصابونه داسې نه وو، چې د لوستونکي د ژوندانه درنه برخه به یې لوست خوړله.

〈تر هغه مهاله پورې چې په مدرسو کې کوم نصاب ورته ویل کېدی؛ په هغه کې دوه ډوله علوم "معقولات او منقولات" ویل کېدل. معقولات هغه علم او پوهه وه، چې له عقلیت سره یې تړاو درلودی او منقولاتو پر

ketabton.com - The Digital Library



احاديثو اړانه درلوده. د درسِ نظاميه ځانګړنه دا وه، چې تر منقولاتو يې معقولاتو ته ډېره پاملرنه کوله او په دې کې په لومړي ځل د نورو ملايانو د کتابونو په څنګ کې د هندوستانيانو ملايانو کتابونو ته هم ځای ورکول شوی وو.

په درسِ نظاميه کې چې کوم علوم ورته ويل کېدل؛ په هغوی کې صرف و نحو، منطق، حکمت، رياضي، بلاغت، فقهه، د فقهي اصول، کلام، تفسير او حديث ځای درلودی.

شاه ولی الله او کورنۍ چې يې په رحيميه مدرسه کې د دې په وړاندې کوم نصاب چمتو کړی؛ په هغه کې د معقولاتو پر ځای منقولاتو ته ډېره پاملرنه کېده، د فقهي زدکړو پر ځای يې د قرآن او حديث زدکړې ډېرې اړينې بللې. دا رنګه په هندوستان کې دغه دوه نصابونه دوه ډولونه را په ګوته کوي.

فرنګي محل: د مسلمان رياستونو لپاره په روزلو ملايان چمتو کول، چې په اتلسمه پېړۍ کې يې په بېلا بېلو رياستونو کې ارزښتوړ کردار تر سره کړی، لکه متکاف چې ليکلي دي، چېرې چې مسلمان رياست وو؛ فرنګي محل به په هغه دربار کې يوه چوکۍ غوښتله. ۲۲، ۲۳، ۳۳

د دې په وړاندې رحيميه مدرسې په هندوستانيو مسلمانانو کې د بې حسه ورځې شکايتونه کول او ملايان يې په دې نيامت روزل، چې په مسلمانه ټولنه کې د مذهبي سمونچارو او پالنې له لارې په هغوی کې مذهبي جذبه او اروا را سر بېره کړای شي.

د رحيميه مدرسې دغه تګلار او ماډل په ۱۸۶۷ع ديوبند خپل کړل او په هغه کې چې کوم مضامين کښېښوول شول؛ هغه دا وو، لکه صرف و نحو، بلاغت، عربي ادب، اسلامي تاريخ، منطق، يوناني او عرب فلسفه، د مناظرې علم، د کلام علم، اقليدس، يوناني طب، فقهه، د فقهي اصول، حديث، تفسير، چې وروسته منطق او فلسفه له نصاب

ketabton.com - The Digital Library



ښځه و ایستل شول او په دې پوره نصاب کې د نوو غوښتنو په رڼا کې علوم ځای نه کړل شول او نه د یورپ یوه ژبه د نصاب برخه شوه.
د نولسمې پېړۍ په پای کې ځینو ملایانو د دې خبرې هڅې وکړې، چې د علیګړ د نوو یورپي زدکړو او دیوبند د لرغوني نصاب تر منځ یو داسې نصاب جوړ کړي، چې د اوسنیو اړتیاوو په پوره کولو سره زاړه روایات هم پر ځای و ساتلای شي، د همدې مرام لپاره د ۱۸۹۰ع په لسیزه کې د ندوت العلوم بنسټ کېښېښوول شو، خو د ملایانو دا هڅه بریالۍ نه شوه او ندوې هم د نوي په پر ښوولو زړه لاره و پالله.
له نصابونو څرګندېږي، چې د دې مدرسو لوستونکې په ذهني توګه دومره وړتیا نه لري، چې په نوي چاپېریال دې و پوهېږي، سیاسي او معاشي ستونزې دې هواري کړای شي. پایله دا شوه، چې په دوی کې ځینو په مسلمان ریاستونو کې په معاش تر لاسه کولو د پټې خولې ژوند تېرولو ته زړه ښه کړ، خو لوی شمېر یې هغه وو، چې د معاش لارې یې نه درلودې او اړ وو، چې د روزګار لپاره د درس او تدریس لاره و پالي او د مبلغ په توګه چارې تر سره کړي او یا په ماجتانو کې د امام او موذن په توګه د ژوند شپې او ورځې سبا کړي. د دغه ملایانو لپاره پر ته له دې بله لار نه وه، چې د مذهب له لارې ځانله روزګار و ګټي.
ځکه په نوآبادیاتي دور کې داسې ډېرې مذهبي ډلې او فرقې را منځته شوې، چې له خلګو څخه یې د بسپنې او یا د هغوی د ملاتړ تر لاسه کولو لپاره مذهبي جذبات را پارول، په داسې توګه په ټول هندوستان کې ځای ځای د مدرسو پرانستل او د نوو ماجتانو جوړېدل پیل شول، چې د خلګو په بسپنه خواره کړل شي او ورځ په ورځ د ملایانو زیاتېدونکی شمېر پکښې ځای کړل شي. له همدې کبله یوازې دا نه چې په بېلا بېلو فرقو کې جګړې را منځته شوې؛ بلکې فرقه واریت ته په لار پرانستلو یې د هندوانو او مسلمانانو تر منځ بېلتون راووست.

ketabton.com - The Digital Library



# نوآبادياتي دور او ملايان

## د شاه عبدالعزيز فتواوي

په هندوستان کي چي کله ايسټ انډيا کمپنۍ پياوړې شوه او هغوی سياسي واک تر لاسه کړی، نو ورسره سم د هندوستان په سياسي کالبوت کي بدلون پيل شو، مسلمان واکمن او اميران يې بې سېکه او ناوسه شول. په داسي چاپېريال کي اړينه وه، چي دوی له هندوانو او انگرېزانو سره پر نوو لارو او ليکو باندي اړيکي ټينگي کړي، خو له دې پوښتني سره مخامخ وو، چي مشري (راهنمائ) به څوک کوي؟ ځکه چي د شاهي اداري له ناوسه کېدلو سره کښته اداري هم بې سېکه شوي وې، نو دوی ملايانو ته مخ واړاوه او په هغوی پسې شول.

په دې بدلون موندونکي سياسي چاپيريال کي د ملايانو تگلار يو ډول نه وه، لکه ځينو هندوستان د جگړې ډگر (دارلحرب) باله او ځينو تر دامهاله پوري د امن او سولي او يا د دواړو تر منځ منځ باله، ځکه يې پر مسلمانانو ټينگار وکړ، چي په کډه کولو دي بل هېواد ته نه ځي او په هندوستان کي دي و اوسېږي، چي په دې هېواد کي مذهبي چاري په خپلواکه توگه تر سره کولای شي. خو يو شمېر ملايان داسي هم وو، چي له انگرېزانو سره يې د تماس او تړاو وېره په زړه کي درلوده او له هندوستان څخه حجاز ته په کډه ولاړل او هلته مېشت شول، خو کوم ملايان چي حجاز ته نه ولاړل؛ هغو په مسلمان رياستونو کي پاتېدل او اوسېدل خوښ کړل، چي په دې ډول به لږ تر لږه له انگرېزانو څخه لېري پاته وي.

دغه ډول ملايانو ځان له څه نه څه لاره و ايستله، چي هندوستان يې د امن ځای گڼلی او د ايسټ انډيا کمپنۍ سره يې کار کول هم خوښ

ketabton.com - The Digital Library



کړل، خو ستونزه د مسلمان اولس په وړاندي وه، چي کومه لار ومني، دا خبره ښېخي څرګنده وه، چي ټولو مسلمانانو خو نه شوای کولای، چي په کډه کولو بل هېواد ته ولاړ شي او د انګرېز پوځي واک پیاوړتیا یې هم زړه ته لوېدلې وه، چي په جګړه کولو له دې ځایه د هغو ایستل هم ښېخي ناشوني وو، د مغل سلطنت تر ماتېدلو او خورېدلو وروسته د معاشي چارو تر لاسه کول هم ګران شوي وو او د همدې اړتیا پر بنسټ هندوانو او مسلمانانو د کمپنۍ او ځایي ریاستونو لوري ته سترګي کږېدل پیل کړي وو، په دې ټول پړاو کي مذهبي پېژند تر ډېره ځایه ځکه بې سېکه شوی وو، چي مسلمان پوځیانو به که له هندو راجه سره هم کار و موندی، نو اړ وو، چي کار وکړي او د دې لپاره که به یې له خپلوانو مذهب پالو سره جګړه کېدله هم؛ نو مخ یې نه اړاوه.

د ملایانو لپاره داسي چاپېریال رښتیا هم د اندېښني وړ وو، چي په ټولنه کي داسي ګډوډي را منځته شي، نو د مسلمانانو ځانله پېژند ساتل ګرانه خبره وي. په داسي چاپېریال کي شاه عبدالعزیز دهلوي ځیني فتواوي جاري کړې، د بېلګي په توګه هغه څرګنده کړه، چي مسلمانان دي له کافرانو سره کار وکړي، خو د پوځي په توګه نه، چي له مسلمانانو سره جګړې ته اړ نه شي، هغه دا هم ډاګیزه کړه، چي په نورو چارو کي کار کول هیڅ خنډ نه لري. هغه زیاته کړه، چي له چا سره کار کول له هغه سره د ملګرتیا پاللو په مانا وي، نو دا خبره دي په پام کي و ساتل شي، چي له کافرانو سره اولسي او کلتوري اړیکي تر سره نه شي، ان چي هغه لوښي (برتن) ته دي لاس نه ور وړل کېږي، چي کافران یې کاروي او که ښېخي اړتیا وي، نو په ښه توګه تر مینځلو وروسته دي په هغه کي خواړه و خوړل شي او همدا رنګه مسلمانان د کافرانو په اخترونو او غونډو کي له ګډون او د هغوی لمانځنځایونو ته له تګ څخه په کلکه را و ګرځول شول.

ketabton.com - The Digital Library



شاه عبدالعزيز په ايسټ انډيا کمپنۍ کي د کار کولو لار هم پرانستې پر ښوولە، ان چي خپل وراره عبدالحی يې هم هلته له کار کولو نه را و ګرځاوی، که څه هم د دې په اوږدلو د هغه وخت نوموړي صوفي شاه غلام علي د ژوري خواشينۍ څرګندونه کړې وه، چي په غبرګون کي يې شاه عبدالعزيز د يوه ليک له لاري د خپلي پرېکړي په پخلي ليکلي وو، په داسي کار کولو کي د دې خبري انديښنه نه وي، چي له کافرانو سره دي اړيکي زياتي شي او نه به شاپون يا خوشامد تر سره کېږي، نه به د درواغو اړتيا پاته وي او نه به د اړتيا له جوري څوک د اسلام په ضد ګام اخستلو ته زړه ښه کوي.

هغه مسلمانانو ته د انګرېزي ژبي د زدکړي لاره هم پرانستې وه، خو ورسره يې دا خبره هم څرګنده کړې وه، چي تر زدکړه وروسته دي د انګرېزانو شاپون او خوشامد نه تر سره کېږي او نه دي له دې لاري څوک ځاني ګټي تر لاسه کوي.

پر يادو ټولو چارو سربېره هم په وار وار مسلمانانو ته ويل کېدل، چي له انګرېزانو دي ځان لېري ساتي، له هغوی سره دي اړيکي نه پالي او نه دي د هغوی کره وړه (ډول، کالي او خويونه) خپلوي، چي د همدې فتواوو او اولسي غبرګون له جوري لوی شمېر خلګو له انګرېزانو سره نژدېکت ته زړه نه ښه کاوه او که به د خپل کار لپاره ليدلو کتلو ته اړ شو، نو بيا به يې هم ځان ترخپله کاره پوري ساته، ډېرو خلګو خو تر روغبړ وروسته خپل لاسونه مينځل. خو کومو کسانو چي له انګرېزانو سره څه نه څه اړيکي درلودې او لږ او ډېر يې د هغوی کره وړه خپل کړي وو؛ په ټولنه کي يې درناوی نه تر سره کېدی او له داسي غبرګون سره مخامخېدل، چي د ټولني د سپکاوي په مانا وو. د بېلګي په توګه محسن الملک چي سر سيد احمد خان و ليدی، چي پر چوکۍ ناست د

ketabton.com - The Digital Library



انګرېزانو غوندي په اوزارو ډوډۍ خوري، نو سخت خواشيني شو او خپلي خواشينۍ پټولو له هغه ډېر وخت واخيست.

د همدې لپاره سر سيد احمد خان له ملايانو څخه اپوټه د مسلمانانو د ابلتابه لپاره پوره هڅي تر سره کړې، چي د يورپيانو ژوندني کړه وړه خپلول د اسلام په ضد نه دي، ځکه په خپلولو دي يې له انګرېزانو سره اړيکي و ساتل شي. هغه څرګنده کړه، چي تر څو مو انګرېزي تهذيب خپل کړی نه وي؛ موږ د انګرېزانو په ذهن ځان نه شو پوهولای په خپله رساله "تهذيب الاخلاق" کي هغه دا خبره په ټينګار سره وکړه، چي له اهلِ کتاب سره خواړه خوړل هيڅ پروا نه لري. ځکه د نوو زدکړو او بدلون موندونکي چاپېريال له کبله ورو ورو د مسلمانانو په لوړو طبقو کي د يورپ تهذيب او مدنيت ځای و موند او له دې سره سم يورپي زدکړو تر لاسه کوونکو طبقو د مسلمانانو د مشرۍ لپاره ځيګر و ټکاوه، تر داسي ځوږ وروسته د ملايانو او دوی تر منځ يو ډول کړکېچ را منځته شو او په دې کړکېچ کي دا پرېکړه کول وو، چي څوک په بدلون موندونکي چاپېريال ښه ترا پوهېږي او کومه ډله يې د هوارولو پلي کېدونکې لاره وړاندي کولای شي.

**مذهبي غورځنګونه:**

د ملايانو په خيال د مسلمانانو د زوال تر ټولو لوی لامل دا وو، چي د وختونو په اوږدو کي يې سوکه سوکه د هندوانو يو شمېر دودونه خپل کړل، ځکه د ياد زوال د مخنيوي لپاره اړينه وه، چي اسلام له داسي دودونو څخه و ژغورل شي او سوچه اسلامي زدکړو ته وده ورکول شي، له همدې يوازينۍ لاري مسلمانان کولای شي، چي مخنی ارزښت تر لاسه کړي، ځکه د نوآبادياتي دور په پيلامه کي د ملايانو له خوا د پيل شوو غورځنګونو مرام هم د ياد کلتور مخنيوی وو (چي د مسلمانانو او هندوانو په ګډون را منځته کېدی) او په مسلمانانو کي پر مذهبي

ketabton.com - The Digital Library



بنسټ د خپل پېژند را سر بېره کول مرام وو. پایله دا شوه، چې هغوی د نوآبادیاتي دورې د ستونزو تر له تېرولو پر ځای لومړی خو د هندوانو دودونو په ضد غورځنګ پیل کړی، چې وروسته په ذهني او جسماني جګړه واووښت.

په بنګال کې فراعني غورځنګ د دې یوه بېلګه وه، چې جوړوونکی یې حاجي شریعت الله (۱۸۴۰ مړ) وو، هغه په نالوستو کروندګرو کې کار پیل کړ او دې ته یې چمتو کړل، چې اسلامي چارې تر سره کړي. کروندګرو یې ځکه خبرې ته غوږ و نیو، چې هغوی د هندوانو مځکوالو له جورې د ځېښناک سره مخامخ وو او د داسې لارې په لټون وو، چې له دې ځور او زیاتوب څخه و ژغورل شي. حاجي شریعت الله په پېیون سره په هغوی کې یوه نوې جذبه را و پاروله. د هغوی تګلاره دا وه، چې د ملګرو تر منځ ورور ګلوي جوړه وي او د ځانله کالیو (جامو) اغوستلو وړاندیز یې وکړی (مانا یو ډول کالي اغوستل) چې په اغېز یې د یووالي او ملګرتیا احساس وده وکړي، تر هغه وروسته یې په بېلا بېلو برخو د سیمو په وېشلو هلته خپل استازي (خلیفه ګان) و ټاکل، په کلیوالو سیمو کې یې خپل عدالتونه جوړ کړل، چې د مسلمان منځنیو جګړو پرېکړې همدلته وکړای شي او له برتانوي عدالتونو را وګرځول شي. د کروندګرو د ملاتړ تر لاسه کولو لپاره یې د هغوی د مځکو غم یا ټیکس له قانون څخه پر ته چاره وګڼله.

د نوموړي تر مړینه وروسته د غورځنګ مشري د ده زوی دودو میا (۱۸۶۲ مړ) ته و رسېدله، چې د غورځنګ په پوځي اړخ له منځه وړلو یې غورځنګ مذهبي کړی. دغه غورځنګ که څه هم په نوآبادیاتي دور کې پیل شو، خو د نوآبادیاتي نظام له ستونزو څخه په مخ اړولو یې پر دې خبره ټینګار وکړ، چې مسلمانان خپله مذهبي پېژندنه پیاوړې

ketabton.com - The Digital Library



کړي، د غورځنګ د دې بدلون په غبرګون کې د هندوانو او مسلمانانو تر منځ شخړې را منځته شوې او ګڼه یې انګرېزانو ته وشوه.
دغه ډول یو بل غورځنګ په لوېدیځ بنګال کې پیل شو، چې تېتو میر (۱۸۳۱مړ) (د سید احمد شهید مرید وو) پیل کړی او دلته هم ورته د هغه مسلمانانو کروندګرو ملاتړ په برخه وو، چې د هندو مځکوالو له لاسه ځورېدل. د یووالي ساتلو او د خپل پېژند د احساس پارونې لپاره دوی هم د شریعت الله لاره پلې کړه او خپلو مریدانو ته یې د یو ډول کالیو اغوستلو خبره په ټینګار وکړه، چې له هندوانو څخه بېل ښکاره شي. ډېر ژر غورځنګ له هندوانو مځکوالو سره په جګړه اخته شو، چې هغوی یې پیل شوو چارو ته د قانون له لارې د زیاتوب او تېرې بڼه ورکړه او د برتانوي دولت په ملاتړ یې په ژوبلولو له منځه یووړل.
دریم غورځنګ د "سید احمد شهید" په مشرۍ له شمالي هندوستان څخه پیل شو، خو چارې یې پښتني سیمو ته راوړلې او دلته یې له پښتنو او سکهانو سره جګړې وکړې، چې پای په بالاکوټ کې د سید احمد ماتې خوړلو د هغوی پوځې چارې له منځه یووړې.
دغه درې واړه غورځنګونه د سمون لپاره وو، چې په پوځې زور او واک سره یې خپله کړنلاره تر سره کول غوښتل. له هندو دودونو څخه د مذهب په ژغورلو یې یوازې دا نه چې په مسلمانانو کې کرکې را منځته کړې؛ بلکې خپل زور، واک او کرکه یې د هندوانو په ضد واچول، چې له جوړې یې انګرېزان پر خپل ځای پاته او له پامه وتل. هغوی نه وه اټکل کړې، چې په هندوستان کې مسلمانان څومره واک لري او د ګډ کلتور ریښې څومره ژورې دي، بل دا چې د برتانویانو (چې د ځایي ملاتړ کوونکو ډلو په ملاتړ واک تر لاسه کوي) مخنیوی څه ډول وکړل شي. د درې واړو غورځنګونو تر ناکامۍ او د ۱۸۵۷ع تر تاو تریخوالي او

ketabton.com - The Digital Library



پېښنه وروسته د مسلمانانو لپاره ناشونې شوه، چې د پوځي واک له لاري بیرته خپل سیاسي واک تر لاسه کړي.

څکه تر ۱۸۵۷ع وروسته د سمونچاریزو غورځنګونو په کالبوت کې ډېر لوی بدلون را منځته شو او هغوی د پوځي واک پر ځای د داسي خیالاتو او نظریاتو خورولو لپاره د زدکړو په کار اچولو لاره خپله کړه او د دیوبند مدرسه د همدې لړۍ یوه کړۍ ده، چې مذهبي عقایدو ته د زدکړو له لاري د نوي ژوند ورکولو هڅې تر سره کړل شي.

د سمونچارو غورځنګونو په وړاندې احمد رضا خان (۱۹۲۱ع مړ) یوه هڅه پیل کړه او پخپله هڅه کې یې د هغه ټولو دودونو، روایتونو او عقیدو ملاتړ وکړ، چې د وختونو په اوږدو کې په مسلمان اولسونو کې پلي شوي او ځای شوي وو او اوس یې د مذهب برخه ګرځېدلي وو. د هغه په خیال له پلي شوو دودونو څخه بې برخي کول په اولسي ژوند کې یو ډول تشیال یا خلا را منځته کول دي، ځکه هغه د سوچه او سمون غوښتونکي مذهب په وړاندې و دریدی او پخپله عقیده کې یې د رسول الله ص شخصیت ته په مرکزي ارزښت ورکولو شا او خوا ټول غورځنګ یو ځای کړ، هغه سیدانو ته هم له دې کبله په درنه سترګه کتل، چې د رسول الله ص له اولادې څخه وو. هغه صوفیانو ته عقیده لرله او باوري وو، چې د مرستي لپاره ورته و ویل شي او د دیني او دنیاوي ستونزو په اړه و پوښتل شي، زیارتونو ته تګ راتګ وکړل شي او هلته پر ځان د څه نذر په منلو پېرزویني کنښېښوول شي. همدا ډول هغه په روان مهال کې د اسلام د پرمختللې بڼې د پالني ملاتړ وکړی او له سیاست څخه یې د ځان لېري ساتلو د کړنلاري په خپلولو ټول وس او توان یوازي تر مذهبي چارو پوري را الند کړ.

یادو غورځنګونو په بېلا بېل ډول اغېزې و لرلې. لکه دیوبند غورځنګ چې پر زدکړو لړونکو او منځنیو ښاري طبقو یې اغېزې و درلودې،

ketabton.com - The Digital Library



بر بلوي عقیدې په نالوستو او کلیوالو سیمو کي ډېري و منل شوې، خو د دې مذهبي غور ځنګونو اغېز دا وشو، چې هري سیاسي، معاشي او اولسي ستونزي ته په مذهبي شالید کي کتل پیل شول، چې له جوړي یې د ستونزو هوارېدلو په لاره کي خنډونه را منځته شول او په دې ډول د جدیدیت یا پرمختګ په وړاندي یو سنګر جوړ شو.

په دې غور ځنګونو کي د منځنیو جګړو او کړکېچونو پیلېدلو هم د مسلمانانو پاملرنه له سیاسي ستونزو څخه په اړولو د مذهب لوري ته واړوله، ځکه چې هري مذهبي ډلي د توندي لاري په ساتلو یو بل ته په بېلاري او کافر ویلو پیل وکړ، چې په خپلو ملاتړ کوونکو کي یې یو بل ته درناوی پاته نه شي او همدا رنګه هغوی د مسلمانانو د یووالي ساتلو پر ځای مسلمانان په بېلا بېلو برخو و وېشل.

دلته پوښتنه را منځته کېږي، چې ولي مذهبي ډلو یو بل ته کافر ویل؟ یو لامل خو یې دا وو، چې هره ډله د خپلو پلویانو د یووالی او ملګرتیا غوښتونکې وه، ځکه هري ډلي د غړو تر منځ د خپل پېژند هڅي تر سره کړې او پر خپلو پلویانو یې بندیز لګولی وو، چې له نورو مذهبي ډلو سره به هیڅ ډول اړیکي نه ساتي، له یو بل سره به ناسته ولاړه نه کوي، نه به یو ځای خواړه سره خوري او نه به په منځ کي ودونه کوي.

زړه ورونکی اړخ یې د هري ډلي له خوا کېدونکې دا دعوه وه، چې لوی شمېر مسلمانان یې پلویان او ملاتړ کوونکي دي د هري ډلي پلویانو به ډاګیزه ویل، چې زموږ د ډلي بې سبکه کول او یا په دې لړ کي دسیسه تر سره کول به د اسلام او مسلمانانو په ضد دسیسه وي، چې تر سره کوونکي به یې په داسي کولو ستره ګناه کوونکي شي.

خبره دا وه، چې د مغل سلطنت تر ماتېدلو او خورېدلو وروسته چې مسلمانان څه رنګه بې سبکه شوي وو؛ د جوړېدا یوازینی لار یې دا ګڼل کېدله، چې سره یو موټی کړل شي او د منځنیو شخړو په لېري

ketabton.com - The Digital Library



کولو سره یې یووالی را منځته شي، نو هري ډلي خیګړ و تکاوی، چي یوازي زموږ ډله د مسلمانانو یووالی تر سره کولای شي، نوري ټولي ډلي د شخړو او بېلتون را منځته کوونکي دي. ځکه هره ډله په دې هڅه شوه، چي د یووالي لپاره نوري ډلي له منځه یووړل شي او یوازي یوه ډله چي پر عقایدو یې ټول قام یو موټی او یو ځای کړل شي؛ پاته شي. کله چي په دې لاره کي خنډونه څرګند شول، نو هر یوه یو پر بل د بېلتونپالو تورونه ولګول او په اسلام دښمن یې و پېژندوول.

د مذهبي ډلو د بېلتانه او منځنیو شخړو یو لامل دا وو، چي د ټولو اړانه پر بسپنه وه، نو اندېښنه یې درلوده، چي د پلویانو له کمبوت او جلا کېدلو سره به مو مالي وسایل اغېزمن شي، ځکه یې د بېلتانه او خپلي پیاوړتیا لاره خپله کړه، چي شتون یې پر ځای پاته وي.

د خپلو عقایدو او نظریاتو خورولو لپاره هري ډلي خپلي مدرسې جوړې کړې، چي په هغه کي توندلاري لوستونکي او استاذان و روزل شي، چي په دوی کي فرنګي محل، دیوبند، ندوت العلما او مظاهرالعلوم مدرسې د ځانګړي یادوني وړ دي، چي یو له بل څخه بېل مذهبي نظریات یې خواره کړل. د دوی په تګلاره خپلولو سره د هندوستان په لویو ښارونو لاهور، مراد آباد، رامپور، بدایون، جبل پور، بریلي، مارهروه، پټنه، کراچي او کلکته کي مدرسې جوړې کړل شوې، د دې مدرسو په جوړولو کي مسلمان امیرانو او جاګیردارانو مالي کومکونه وکړل، چي په ملاتړ یې یادو مدرسو خپلي چاري تر سره کولې.

پر بسپنه د اړاتیې لرلو له جوري د ملایانو ځاني کردار، زدکړي او علمي چاري تر ژوري اغېزې لاندي وې، ځکه د بسپني ورکولو لوی شمېر د شتمنو او پیسو لرونکو وو، نو ملایانو هم تر اولسي ستونزو لاس اړاوی چي اولسي غربت، ناداري، لوږه، روغتیا او نیاومني چاري د دوی له

ketabton.com - The Digital Library



چوکاټ څخه د باندي پاته شوې، اپوته يې د هر بدلون او پرمختګ په مخنيوی کولو د تولنيز کالبوت پر ځای ساتلو ټينګار تر سره کړی.
پر بسپنه باندي د اډاني يوه بله پايله دا څرګنده شوه، چي له جوړي يې د ملايانو اولسي ارزښت را ټيټ شو، که څه هم مذهبي ارزښت يې درلودی، خو در ناوی يې په زړه پوري نه وو.

**مذهبي پېيونونه (تنظيمونه)**

په هندوستان کي په نوآبادياتي دور کي د سياسي، اولسي او مذهبي ډلو د پېيونونو پيل وشو، کله چي عيسوي مرام لرونکي ډلي د تبليغ لپاره راغلې، نو هندوانو او مسلمانانو دواړو د هغوی له پېيوني چارو څخه ډېر څه زده کړل. بيا چي هغوی کله د ګوندی او خپلو مذهبونو د ساتني لپاره خپلي ډلي جوړي کړې، نو په کالبوت او پېيون کي يې و همدې مرام لرونکو ډلو ته په کتلو چاري تر سره کړې.
د بېلګي په توګه د هري ډلي لپاره په لومړي ګام کي د يوې تګلاري او منشور لرل اړين وو، چي په رڼا کي يې پېيون ته قانوني بڼه ورکول شي. د هري ډلي لپاره رجسټرډ کېدل اړين وو، چي په داسي توګه قانوني بڼه و مومي. د چلولو لپاره يې رسمي عهدې يا چوکی ټاکلي وې، چي په هغوی کي مشر (صدر) مرستيال (جنرل سيکرټري) او پانګه وال (خازن) ارزښتناکي چوکی وې او پاته غړي يې د سلا او ناستي غړي وو، چي د ډلي کړنلاره يې ټاکله. د ډلي مالي چاري په ليکلې بڼه وې او وړاندي کېدلې، چي څومره پيسې تر لاسه شوي او څومره په څه ډول ګار شوي دي. د کړنلاري پر چارو به د وراشو لپاره په پرله پسې توګه پر ټاکلي وخت ناستي تر سره کېدلې او يوه کلنۍ غونډه به کېدله، چي د ټول کال پر چارو به غور او حساب کېدی.

ketabton.com - The Digital Library



د دغه لیکلو چارو ګټه دا شوه، چې د هري ډلي د تاریخ رغښت تر سره کېدی او د غړو، ملګرو او اولسونو په وړاندي یې به دا خبره څرګنده وه، چې ډله څه چاري تر سره کوي او لاس ته راوړني یې تر اوسه څه دي؟ داسي هم وشول، چې ډېرو ډلو خپل لیکلي څه و نه درلودل او په پوره توګه یې ریکارډ خوندي و نه ساتلای شو، چې د دوی پر لتي (سستي) سربېره یې د ډلو د مشرانو بدلون د لیک ښځایه کېدلو او نه لیکلو لامل وو، خو پر دې سربېره چې څه خوندي پاته شول، له هغوی څخه د هغه زمانې ښځي لړ خو خورا ارزښتوړ څه تر لاسه کېږي.

ملایانو چې خپلي خپلي ډلي جوړي کړې، نو د داسي کړنلارو پلي کولو او پر ټاکلو تګلارو د تګ کولو لپاره اړینه وه، چې له اولسونو څخه بسپنه را ټوله کړل شي، په دې لړ کي چې کومو ډلو ډېر څه ټول کړل؛ هغوی د ځان لپاره جایدادونه را نیول، چې د ډلي دفتر، د مدرسو جوړېدل او د یتیمانو لپاره د روزني او اوسېدلو د ځایونو لړۍ له همدې څخه پیل شوه. پایله دا شوه، چې د ملایانو یوه پېشه وره ډله را منځته شوه او په ټولنه کي یې د ښېګړي ټاکلي چاري پر غاړه واخستې، چې بسپني ټولولو یې د کورنیو اړتیاوو په پوره کولو کي هم کومک کاوی په یادو ډلو کي ځینو ډېر په زړه پوري کارونه تر سره کړل، خو د لوی شمېر په اړه داسي اولسي غبرګون خور شو، چې پیسې یې و خوړلې او تر داسي خوړلو او درغلیو وروسته دغه پېیونونه له منځه ولاړل.

د ملایانو پېژندنه په ماجت، مدرسه او د ښېګړو په ادارو وه، خو کله چې په کوشنۍ وچه (برِصغیر) کي سیاسي چاري پیل او سیاسي ډلي لاس په کار شوې، نو د وخت ملایانو هم دغه اړتیا احساس کړه، چې په سیاست کي په برخه اخستلو مذهبي ډلي یوازي تر مذهبي چوکاټه پوري له پاتېدلو و ژغوري او د اولسونو په وړاندي خپل اولسي ارزښت

ketabton.com - The Digital Library



هم څرګند او لوړ کړي. د ملایانو د دغه ادارو او غوښتنو یادونه مولانا شبلي نعماني په خپله وینا کې داسې څرګندوي، چې:

"درنو اورېدونکو! د مسلمانانو په دولتي دوره کې دنیاوي او مذهبي چارې د ملایانو په لاس کې وې او ملایانو د لمانځه او روژې پر چارو سربېره د نیاومنتیا یا عدالت پرېکړې هم اورولې، جرمونو کوونکو ته یې سزاوې اورولې، د مرګ او قصاص پرېکړې یې هم اورولې. لنډه دا چې دنیاوي او دیني چارې یې تر لاس لاندې وې، خو اوس چاپېریال بدلون موندلی او دنیاوي چارې له برتانوي دولت سره دي، اوس دا کتل په کار دي، چې د ملایانو او مسلمانانو منځنی تړاو څه رنګه وي او له دولت څخه کومې چارې تر لاسه کړل شي او کومې چارې هغوی ته وسپارل شي، داسې خبرې په ګوته کول په کار دي، چې دولت په هغه کې هیڅ ډول لاسوهنه و نه کړي."

ملایانو په سیاست کې ځکه برخه اخستل غوښت، چې تر برتانوي دولت مخکې خپل لرونکي اختیارات بیرته تر لاسه کړای شي او خپل ارزښت یې یوازې تر مذهبي چارو پورې ساتل نه غوښتل؛ بلکې په وړاندې تګ سره یې په دنیاوي چارو کې هم مخورۍ ته خیال وو. د همدې مرام لپاره اړینه وه، چې په نوي سیاسي کالبوت کې خپلې مذهبي او سیاسي ډلې جوړې کړل شي او له دې چوکاټ څخه د خپلو غوښتنو لپاره هڅې تر سره کړل شي. دا رنګه یوه ډله د مجلسِ معرید الاسلام په نوم ملایانو جوړه کړه، چې په جوړولو کې یې د فرنګي محل ملایان په وړاندې لیکو کې وو، مرام یې د شریعت پلې کول او د مسلمانانو پرمختګ وو.

وروسته د نورو مذهبي فرقو له خوا هم د ډلو جوړېدل پیل شول. دا چې د هرې فرقې ځانله مذهبي عقاید وو، نو نه یې غوښتل، چې یوه ډله د ټولو فرقو په استازیتوب غوښتنې وړاندې کړي، ځکه په ۱۹۰۷ع

ketabton.com - The Digital Library



کې شیعه ګانو د آل انډیا شیعه کانفرنس په نوم خپل پېښون اعلان کړ
او په ۱۹۱۴ع کې سنیانو ملایانو د جمیعت الهند په نوم خپله ډله
جوړه کړه. په پیل کې یې مرام دا وو، چې د یورپي بریدونو له جوړي
(چې خلافت او سپېڅلو ځایونو ته کومه اندېښنه را منځته شوې وه) د
هغې په مخنیوي کولو سره د خلافت چوکۍ پر ځای پاته شي.
ملایانو په پیل کې له سیاسي ډلو سره هیڅ ډول اړیکي و نه ساتلې، په
ځانګړي ډول له هغو سیاسي ډلو سره چې د هر مذهب او مسلک خلګ
به پکښې وو. لاسوند یې دا وو، چې له دې ګوندونو سره په غونډو کې
ګډون به موږ له هغو ښځو سره ناستې ته هم اړ باسي، چې مسلمانانې
نه وي او د غونډو پر مهال د لمانځه د پاتېدلو وېره هم شته.
په دې وخت کې ابوالکلام آزاد "چې د وخت د ملایانو له لنډوینۍ، کم
علمۍ او توندي لاري څخه یې زړه شین وو" په نوي سیاسي چاپېریال
کې د داسي روزني هڅې وکړې، چې ملایان په سیاست کې د برخي
اخستلو وړتیا و لري او په بدلون موندونکي چاپېریال او نوو را منځته
شوو ستونزو باندي و پوهېږي. نوموړي د ملایانو سیاست ته را تګ
ځکه غوښت، چې په خیال یې په هندوستان کې د مسلمانانو د یووالي
ساتلو او په سیاسي توګه د ګړندي کردار تر سره کولو یوازینۍ لاره
مذهب وو، ځکه یې د همدې نظریې په رڼا کې د حزب الله په نوم یوه
ډله جوړه کړه، چې له همدې چوکاټ څخه په روزلو ملایان سیاسي
کردار ادا کولو ته چمتو کړل شي.
د دې ټولي چاري په شالید کې د آزاد دا فکر وو، چې مذهب او سیاست
یو دي او یو له بل څخه نه شي بېلېدلای، نو د سیاست پاملو لپاره
اړینه ده، چې سپړ نه یې د مذهب له لاري تر سره کړل شي او دا پر بکره
ملایانو ته په کار ده، چې کوم سیاسي ګام له مذهب سره سم و بولي.

ketabton.com - The Digital Library



په ۱۹۱۴ع کې هغه دارالارشاد مدرسه جوړه کړه، چې ځوانان ملایان د خپلو خیالاتو په رڼا کې وروزل شي.
د ملایانو د دې پېیونونو اغېز دا وشو، چې د دوی طبقې ډېر ژر د کوشنۍ وچې په سیاسي غورځنګونو کې ګړندی کردار ودرلودی، په کانګریس او مسلم لیګ دواړو کې د ملایانو ګډون ځکه اړین شو، چې له لارې یې د مسلمانانو ملاتړ ترلاسه کړل شي.

## ملایان او خلافت

څه وخت چې په مسلمانانو کې د یورپي زدکړو تر لاسه کوونکو طبقه را پورته شوه، نو هغوی هم د هندوانو د زده کوونکي طبقې پر لاره په تګ کولو د خپلو سیاسي حقوقو خبري پیل کړې او د ګانګریس په وړاندې یې د خپلې سیاسي ډلې مسلم لیګ جوړول تر سره کړل، چې په داسي ډول په مسلمانانو کې سیاست او مذهب دوه بېل شیان پاته شول. د سیاسي مخورۍ بار د نوو زدکړو تر لاسه کوونکي طبقې پر غاړه واخست او ملایان د مذهبي چارو او ستونزو هواروونکي شو. ځکه په پیل کې چې کومې سیاسي ستونزې وې، لکه اردو هندي جګړه، د بنګال وېش، شِمله، د مسلم لیګ جوړېدل؛ په دې ټولو کې ملایان لېري و ساتل شول او د مسلمانانو سیاسي مشرتابه دغه ستونزو ته یوازې د سیاسي او طبقاتي ګټو په رڼا کې کتل او لاره یې وایستله.
خو چاپېریال هغه وخت بدلون و موند، چې په ۱۹۱۲ع ۱۹۱۴ع کې د بلقان جګړو په پایله کې د مسلمانانو د سپېڅلو ځایونو د ساتنې او د خلافت ادارې د ژغورنې اندېښنې را منځته شوې، چې له کبله یې د مسلمانانو سېکولر او مذهبي مخور یو بل ته نژدې شول او ملایانو ته یې لاره پرانستله، چې پر سیاست باندې هم اغېز ولري.
کله چې د خلافت ساتنې اندېښنه د هندوستان په مسلمان سیاست کې را سر بېره شوه، نو د دې ستونزې مذهبي ډول ته په کتلو سېکولر

ketabton.com - The Digital Library



مشر تابه ملایانو ته له دوی سره د ملګرتیا بلنه ورکړه، چې پر برتانوي دولت باندي په ترکي کي د خلافت پاته کېدا تېنګار تر سره کړل شي.

په ۱۹۱۸ع کي د مسلم لیګ غونډي ته ډاکټر انصاري د هندوستان و سرلارو ملایانو ته د راتګ بلنه ورکړه، چې د خلافت پر ستونزه باندي یوه کړنلاره و ټاکل شي. دغه بلني په ملایانو کي نوې ولوله او جذبه را منځته کړه او مولانا کفایت الله، مولانا عبدالباري، مولانا احمد سعید او مولانا آزاد سبحاني په دې غونډه کي ګډون وکړی. ملایانو احساس کړې وه، چي له یورپي زدکړو کوونکو سیاسیانو سره په ملتیا تر کار او مرستو وروسته به په ټولنه کي د دوی اولسي او سیاسي ارزښت لوړ شي او د مسلماني ډلي د مشرۍ لاري به نوري ورته پرانستل شي، و همدې اړخ ته په کتلو مولانا کفایت الله په خپله وینا کي و ویل چي:

"ما تل دا خیال کړی دی، چي په مسلمانانو کي سیاست او مذهب یو دي او په رښتیا هم د دوی مذهب د دوی سیاست او د دوی سیاست د دوی مذهب دی، په بدلون موندونکي چاپېریال کي هغوی مذهب خپلو ملایانو ته سپارلی وو او سیاست یې له مسلم لیګ او داسي ډلو سره تړلی وو، خو کله چي ملایانو ته اړتیا شوه او رغ پر وشو، نو په لوی زړه او خوشالي سره ورته راغلل، چي له دوی سره ملګرتیا او په سیاسي ډله کي وړه په وړه ګامونه واخلي."

یوه بل عالم و ویل، چي: "تر اوسه پوري ملایانو مذهب او د مسلمانانو سیاست دوه بېل شیان ګڼل، خو که وکتل شي، نو په اسلام کي دا دواړه یو دي او د مسلمانانو سیاست د دوی مذهب دی."

په دې نوي چاپېریال کي سېکولر مشرتوب د ملایانو په مرسته خوښ وو، چي له کبله یې د دوی په واک کي زیاتوالی راغلی وو، خو په دوی کي چودري خلیق الزمان د ملایانو په ګډون او تاوانونو رسېدلی وو او په څرګ کولو سره یې څرګنده کړې وه، چي:

ketabton.com - The Digital Library



" له ملايانو سره په ملګرتيا کولو موږ په رښتيا له اور سره لوبې کوو، چې هغوی به مو يا پښې و کاږي او يا به د ټول هندوستان مسلمانان له ځانه سره بوزي."

وروسته چې کله ګاندي د خلافت غورځنګ ملاتړ وکړی، نو له کبله يې دغه چاري د يوې اولسي هڅي بڼه غوره کړه، چې له دې څخه هم ملايانو ګټه واخستله او د مذهبي مخورو په توګه تر ټولو په مخ کې و درېدل. حمزه علوي و همدې اړخ ته په کتلو پخپله ليکنه "پاکستان او اسلام" نژاد پالنه او نظريه" کې ليکلي دي، چې: په دې توګه معاش اخستونکې مسلمانه طبقه له مسلمان اولس څخه بېله کړل شوه او پر ځای يې مذهبي مخور مانا ملايان د مسلمانانو مشران کړل شول، په پايله کې يې د مسلمانانو جذبات د يوې داسي بې ارزښته ستونزي په لړ کې را و پارول، چې پخپل مرګ مرګونې وه. حمزه علوي ليکي، چې دغه چاري مسلم ليګ له پښو واچاوی او په سياست کې يې ملايانو ته په راتګ د نوي ګوند يا ډلي جوړولو لاره ورکړله، چې دوی په ۱۹۱۹ع کې د جميعت علمائ هند په نوم ډله جوړه کړه.

تر دې وروسته ملايان يوازي دا نه چې په کانګريس او مسلم ليګ دواړو کې ګړندي شول؛ بلکې په هېوادني سياست کې يې ارزښتوړ ځای تر لاسه کړی. د سياست او مذهب له دې ملتيا څخه په کوشنۍ وچه کې د مسلمانانو پر سياسي ذهنيت ډېري ناوړي اغېزې وشوې او پر سياسي پوهه سر بېره يې سياسي چارو ته په سياسي شاليد کې د کتلو وړتيا او ارزښت له لاسه ورکړ، هغوی هري ستونزي ته د سياست پر ځای په مذهبي شاليد کې کتل. د بېلګي په توګه کله چې د خلافت ستونزه را پورته شوه، نو د مسلمانانو لپاره يوازي مذهبي ستونزه وه، خو د هندوانو لپاره همدغه ستونزه سياسي شوه، پايله دا شوه، چې په مسلمانانو کې مذهبيت وده وکړه، خو په هندوانو کې د سياسي شعور

ketabton.com - The Digital Library



د ژور تابه لامل شوه. دا رنګه مسلمانان په سیاسي توګه شاته پاته شو او په بدلون موندونکي چاپېریال کي د سیاسي بدلونونو په اړه ژورلید او ځیر کتیا یې له لاسه ورکړه.

**ملایان او کډوالي (هجرت)**

د خلافت غورځنګ ملایان د سیاست په ډګر کي و درول او هغوی هم په ټولنه کي د مذهبي جذباتو په بوږنولو ځان لره سیاسي ارزښت تر لاسه کړ، په ځانګړې توګه یې د جهاد په فتوا کارولو مسلمانان نور هم توند او ګړندي کړل او دا ډول یوه بله فتوا چي "ګډه فتوا" بلل کېده؛ د ملایانو له خوا جاري شوه، په هغه کي پر مسلمانانو ټینګار شوی وو، چي انګرېز خو د خلافت له منځه وړل او سپڅلي ځایونه لاندي کول غواړي، نو په کار دئ، چي په ضد یې بایکاټ تر سره شي، (مانا له هر څه یې مخ واړول شي) او د هڅو مخنیوی یې هم وکړل شي. پر دې سربېره ملایانو دا هڅه هم وکړه، چي د کوشنۍ وچي مسلمانان تر شریعت لاندي ژوند تېرولو ته اېل کړي او د دې مرام لپاره یې د شرعي عدالتونو پر جوړولو سربېره د زکات تر لاسه کولو چاري هم پیل کړې.
په سندھ کي ځینو ملایانو دا ډول فتوا خپره کړه، چي په هغه کي پر مسلمانانو ټینګار شوی وو، چي د دولت له خوا ور کول شوي د درناوي خطابونه دي بیر ته ور کول شي، له دولت سره دي هیڅ ډول کومک نه کوي، ځکه چي عیسایان د مسلمانانو پر سپېڅلو ځایونو ناوړې چاري تر سره کوي، د ګوټونو سره تګ پر کوي، سیګارونه څکوي او شراب څښي. ملایانو د ماجتانو له لاري د پروپاګند خورول پیل کړل او هلته یې د دولت او عیسایانو په ضد خلګو ته د لارښوونو لړۍ پیل کړه، چي مسلمانانو ته یې له دوی سره د جهاد لپاره د چمتو کېدلو ویل.

AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



په دې وخت کې مسلمانان په پوره توګه د ملايانو په لاس کنښبوتلي وو، چې په سپړنه يې 'بي آر نندا' په خپل کتاب ګاندي پان اسلاميزم، امپريليزم او نېشنليزم کې ليکي، چې:

"توندلاري پالنه پر اوج وه او هري خوا ته رنګ په رنګ بېځايه خبري خورې شوې، چې په برتانوي هندوستان کې پر قرآن شريف بنديز لګېدونکی دی، مکه او مدينه انګرېزانو نيولې او کعبه يې ورانه کړې ده، چې د جمعې پر ځای د اتوار ورځ د لمانځني لپاره ټاکل کېږي."

په داسې چاپېريال کې د مسلمانانو لپاره دوې لارې وې، چې يا جهاد وکړي او يا له هندوستان څخه په کډه ولاړ شي. ابوالکلام آزاد هغه وخت يوه فتوا جاري کړه، چې خلکو ته يې د کډې سلا ورکړې وه.

"ټولو شرعي لاسوندونو، مهالني چاپېريال، د امت خير غوښتنې او ښېګړې ته تر ځارنه او ژورليد وروسته په دې عقيده ټاېمن شوی يم، چې د هند مسلمانانو لپاره له کډې کولو پرته بله هيڅ شرعي چاره نشته. د هغه ټولو مسلمانانو لپاره چې دا وخت په هندوستان کې تر ټولو ستر کار وکړي؛ هغه دا دی، چې له هندوستانه کډه وکړي."

دې فتوا ته د مولانا عبدالباري فرنګي محل ملاتړ په برخه وو، چې د دې فتوا په اغېز په زرګونو مسلمانان په کډه کولو افغانستان ته ولاړل، چې په هغوی کې لس زره کسان د لارې له ستونزو او يا په افغانستان کې د اوسېدا پر مهال و وژل شول او په زرګونو په پرېدي ديار کې خوار شول، چې افغانانو وروڼو له هغوی سره هر څه وکړل او په دې ډول د کډوالۍ غورځنګ له هيڅ ډول ګټې پرته پای ته ورسېدی.

زړه وړونکې خبره دا ده، چې د کډوالۍ پر موضوع د ۱۹۴۷ع پر مهال بيا وراشې پيل شوې، ملايانو د کانګريس او مسلم ليګ سره د تړاو پر بنسټ دغه ستونزه و شربله، د جميعت علمای هند مولانا حسين احمد مدني په ډېر جذباتي انداز له مسلمانانو غوښتنه وکړه، چې

ketabton.com - The Digital Library



هغوی دي کډه نه کوي او شا ته دي د خپلو پلرونو، نیکه ګانو هدیرې، ماجتان، تاریخي ودانۍ او کلتوري شته نه پرېږدي، ځکه چې د دې پالونکي نه وي، نو دا به له خاورو سره خاورې شي.

اپوته مولانا شبیر احمد عثماني د کډوالۍ په اړه داسي لاسوند وړاندي کړ، چې رسول الله ص هم کډه کړې وه او هغه هم له مدینې مکې ته په تګ سره هر څه پرې ایښي وو، نو د هندوستان مسلمانان دي یې هم په لار پاللو کډي وکړي او له پاکستان څخه دي مدینه جوړه کړي.

تر پاکستان جوړېدلو وروسته د ۱۹۴۷ په لسمه میاشت کي مولانا آزاد د ډیلي په جامع ماجت کي یوه زوروره وینا وکړه، چې د کډوالۍ کلکه غندنه یې وکړه، د نوموړي د وینا متن دا دی، چې:

"درنو خپلوانو! هغه کوم څه دي، چې زه یې دلته راوستلی یم؟ زما لپاره د شاه جهان په دې یادګار ماجت کي داسي اولسي غونډه نوې خبره نه ده، ما په هغه وخت کي چې اوس ډېر وخت پر تېر شوی دی؛ همدلته تاسو ته وینا کړې وه، هغه وخت ستاسو پر مخونو باندي د خواشینۍ پر ځای ډاډمنتیا ځرګېدله او په زړونو کي مو د شک پر ځای باور وو. نن چي ستاسو د مخونو خواشیني او د زړونو ویراني وینم، نو ماته سمدلاسه څو کلونه مخکي تېر ایستونکي خوږې کیسې را یادي شي. ستاسو په یاد دي! ما پر تاسو ږغ کړی وو، چې تاسو زما ژبه را پرې کړه، ما قلم واخست، تاسو لاسونه را پرې کړل، ما تګ غوښت او تاسو مو پښې پرې کړلې، زه ګېلېدلم، تاسو مي ملا را ماته کړه، ان چي د تېرو اوو کلونو تریخ غوندي سیاست چي نن یې تاسو ته د بېلتانه داغ در کړی دی، ما یې په اوج کي هم د اندېښنې پر لاره تاسو ته خبر درکړی وو، خو تاسو زما پر خبره غوږ نه نیوی؛ بلکې نټه او مخ مو واړاوه. پایله ځرګنده ده، چې نن هغه اندېښنو لاندي کړي یاست، چې تاسو یې له سمي لاري څخه لېري کړي واست.

ketabton.com - The Digital Library



که ربښتيا و پوښتی، نو زه يو جمود يم او يا لېري لوېدلی ږغ، چې په وطن کې پر اوسېدلو سر بېره مو هم بې وطنه ژوند تېر کړی دی. د دې مراد دا نه دی، چې ما کوم ځای د ځان لپاره ټاکلی وو؛ هلته زما وېښته او وزرونه پرې کړل شوي دي او يا زما د ځالې لپاره ځای نشته؛ بلکې زه وايم، چې زما لمن ستاسو له اوږدو لاسو نو ګيله منه ده، زما احساس ژوبل او زما زړه خوږ دی. تاسو ری و وهی، فکر وکړی؛ تاسو کومه لاره غوره کړې ده، چېرې رسېدلي او نن چېرې ولاړ ياست؟ ايا! دا د وېرې ژوند نه دی؟ ايا! ستا سو په حواسو کې کړکېچ نه دی راغلی؟ دغه وېره تاسو پخپله راوستلې ده او ستاسو د کړنو مېوه ده.

ډېر لږ وخت مخکې ما تاسو ته ويلي وو، چې د دوو قامونو د ژوند نظريه د مانوي ژوند لپاره د مرګوني ناروغۍ غوندي ده او دا پر پرېږدئ. دغه تمبه چې تاسو لاس پوري نيولی دی؛ ډېره ژر ماتېدونکې ده، خو تاسو زما خبره په يوه غوږ واورېده او تر بل مو و ويستله او دا مو و نه پامو له، چې وخت او د هغه تګ ستاسو لپاره خپل چوکاټ ته بدلون نه ورکوي. وخت نه دی درېدلی او تاسو وينی، چې پر کومو ورو تاسو باور کړی وو؛ هغوی په هيڅ ګڼلو تاسو برخليک ته سپارلي ياست او هغه برخليک چې ستاسو د ذهني لغت له خوښي څخه بېله مانا لري، مانا دا چې هغوی همت نه کولو ته برخليک وايي.

د انګرېز کمبله ستاسو د غوښتنو په ضد ټوله کړل شوې ده او د لاربښوونې پر مهال چې تاسو کوم بتان جوړ کړي وو؛ هغوی هم تاسو و دروهلاست، کنې نو تاسو ګڼلې وه، چې دا کمبله د تل لپاره غوړېدلې ده، چې د همدې بتانو په لمانځنه کې ستاسو ژوند دی. زه ستاسو پر تېونو مالګې دوړول نه غواړم او نه ستاسو په خواشيني کې د زياتوب ذهن او زړه لرم، خو که تاسو لږ لېري د تېرو وختونو لوری و ښاری، نو

ketabton.com - The Digital Library



ډېري غوټي به پرانستل شي. يو وخت ما د هندوستان د خپلواکۍ تر لاسه کولو په احساس درکولو پر تاسو ږغ کړی وو او ويلي مي وو.
«" څه چي تر سره کېدونکي دي؛ د هغه مخنيوی يو قام په تريو تندي نه شي کولای، د هندوستان په برخليک کي سياسي انقلاب ليکل شوی دی او د مرييتوب زنځيرونه يې د شلمي پېړۍ د خپلواکۍ په بادونو پر ېکېدونکي او لوېدونکي دي» که چېري تاسو له وخت سره ورو ورو له تگ څخه ځانونه وکښل او د اوسني ځنډمن ژوند لاره مو غوره کړه، نو د سبا تاريخ ليکونکی به ليکي، چي ستاسو ډلي چي د اوو کروړو انسانانو رمه وه؛ د هېواد د خپلواکۍ په لړ کي داسي لاره خپله کړه، چي د مځکي پر مخ د ورک شوو قامونو خوی او شېوه وه. نن د هندوستان بيرغ په ډېر برم رپېږي او دا هغه بيرغ دی، چي په الوت يې واکمن غرور زړه ځوروونکې خندا او پسخندونه وهل. "
دا سمه خبره ده، چي وخت ستاسو د خوښي په رڼا کي پر بل اړخ نه دی اووښتی؛ بلکې هغه د يوه قام د بنسټيز حق په درناوي اړخ بدل کړی دی او همدا انقلاب دی، چي پر اړخ اووښتلو يې تاسو تر ډېره ځايه پوري وېرولي ياست. تاسو فکر کوی، چي له تاسو څخه په زړه پوري شی اخستل شوی دی او پر ځای يې بد شی لاس ته راغلی دی. هو؛ ستاسو ناکراري ځکه ده، چي تاسو خپل خيال ښه شي ته نه وو جوړ کړی او بد شی مو ږغورونکی او ډېر ښه گڼلی وو. زما مراد د پرېديو غلامي او مرييتوب دی، چي په لاسونو کي يې تاسو د لوبتي غوندي له ډېره وخته د واکمنۍ په هيله ژوند تېر کړی دی. يو وخت وو، چي زموږ قام د جگړې پيل لوري ته گام اخست او تاسو نن د هغې جگړې له پايلي څخه خواشيني ياست. زه ستاسو تلېوار (عجلت) ته څه و وايم؟ چي هلته د تگ هڅه پای ته نه ده رسېدلې او دلته بيا د ببلارۍ يا گمراهۍ اندېښنه هم را منځته شوه.

ketabton.com - The Digital Library



زما ورونو! ما تل له ذاتیاتو څخه د سیاست ببل ساتلو هڅه کړې ده او ما په دې اغزنه ناوه کې پل نه دی اخستی، همدا لامل دی، چې زما ډېرې خبرې په یو ډول پوښ کې نغښتي وي، خو نن چې زه څه وایم؛ هغه په ډاګیزه توګه وایم، د یو موټي هندوستان وېش په بنسټیزه توګه بېځایه او غلط وو، مذهبي کرکې او اختلاف چې څنګه را سر بېره کړل شو؛ د هغه پایله ښکاره او همداسې چارې وې، چې موږ پخپلو سترګو ولیدلې او له بده مرغه په ځینو ځایونو کې نن هم رواني دي.

د تېرو اوو کلونو کیسه له سره کول نه کومه ګټه لري او نه په زړه پورې پایلې لري، خو د هندوستان پر مسلمانانو چې کومه څپه راغلې ده؛ هغه رښتیا هم د مسلم لیګ د ناپوه مشرتابه د څرګنده تېروتنو پایله ده، خو زما لپاره نوې ځکه نه ده، چې ما مخکې هم دغه پایلې لیدلې.

اوس د هندوستاني سیاست لوری بدل شوی دی او د مسلم لیګ لپاره دلته ځای نشته، اوس دا زموږ په ذهن پورې اړه لري، چې موږ په ښه ډول فکر کولای شو او که نه؟ ځکه مو د هندوستان د مسلمانو مخورو ډیلي ته د را بللو پتېیلې ده او بلنې مو ور استولې دي. د وېرې ترهې پړاو پښې نه ټینګوي او زه تاسو ته باور درکوم، چې موږ له موږه پرته څوک نه شي لاندې کولای. ما تل ویلي او نن بیا وایم، چې له زړه نا زړه را ووځئ، له شک څخه لاس واخلئ او بېلارې پرېږدئ. دا درې څوکې لرونکی خنجر د اوسپنې تر هغه دوې څوکې توره ډېر زهرجن دی، چې د شوږېدلو ټپونو کیسې یې ما له ځوانانو اورېدلې دي.

دا د تېښتې ژوند ته تاسو د کډوالۍ یا هجرت سپېڅلی نوم ورکړی دی او تاسو پر دې بیرته غور وکړئ، خپل زړونه ټینګ او پیاوړي کړئ، د فکر کولو خوی خپل کړئ او بیا وګورئ، چې تاسو کړې پرېکړه څومره په تلوار کې شوې ده، پای تاسو چېرې روان او ولې ځئ؟

ketabton.com - The Digital Library



دا وګورئ! د دې ماجت لوړ مینارونه پوښتنه کوي، چې تاسو د خپل تاریخ پاڼي چېري ورکي کړي دي؟ دا خو ښېخي پرونۍ خبره ښکاري، چې ستاسو بهیر د جمنا پر څنډو اودسونه کړي وو او نن تاسو دلته له اوسېدلو څخه ډار یږئ، کنې نو ډیلۍ خو ستاسو په وینو لمبېدلې دی.

در نو خپلوانو! په ځان کي بنسټیز بدلون را ولئ، لکه څه موده مخکي چې ستاسو جوش او خروښ بېځایه وو، نن هم ستاسو دغه وېره ترهه بېځایه ده. مسلمان او بې زړه؟ مسلمان او جذباتي کېدل؟ دا هیڅ کله نه شي کېدلای. رښتونی مسلمان نه شومه هیله لړزولای شي او نه یې وېره ترهولای شي. له نظره څخه د ځینو مخونو له پټېدا مه وېرېږئ، هغوی د تګ لپاره تاسو سره یو ځای کړي واست، نن که یې لاس ستاسو له لاسه کښلی دی، نو دا د هېښتیا خبره نه ده. تاسو وګورئ، چې ستاسو زړونه خو له تاسو نه دي تللي، نو که زړونه تر اوسه پوري درسره دي، تاسو یې د خدای د یادونې ځای کړئ، چا چې له نن څخه دیارلس سوه کاله مخکي د یوه عرب امي په پېژند ویلي وو: "چا چې پر خدای ایمان راووړ او پر هغه ودرېدی، نو بیا د هغه لپاره نه هیڅ وېره شته او نه غم. بادونه راځي او تېرېږي به، دغه سرپې او ځوره دي وي؛ ډېر وخت نه لري، اوس د سترګو لیدلو ازموینو وخت تېرېدونکی دی، داسي بدل شئ، لکه تاسو چې کله هم داسي نه یاست پاته شوي.

زه د خبري په بیا بیا کولو خوی نه لرم، خو ستاسو و نه وینښتیا ته په کتلواړ شم، چې بیا بیا و وایم، چې دریم واک د خپل زور غرور په شا له دې ځایه پښې سپکي کړي دي. څه چې کېدل، هغه تر سره شول، سیاسي ذهنیت خپل زوړ پوښ څیرلی دی او اوس ځان ته د نوو کالیو رغوونکی دی، که چېري اوس هم ستاسو د زړونو غوښتنه بدلون و نه مومي او په ذهن مو څرخه خبره و نه وزي، نو بیا چاپېریال بل دی او که چېري په رښتیا هم ستاسو په زړونو کي د رښتوني بدلون غوښتنه

ketabton.com - The Digital Library



را منځته شوې ده، نو داسي بدل شئ، لکه تاريخ چي ځان بدل کړی دی، نن هم چي موږ د انقلاب يو پړاو تر سره کړی دی، زموږ د هېواد په تاريخ کي څو پاڼي سپيني پاته دي، چي پر دې پاڼو ښه سرليک تاکل کېدلای شي، خو شرط دا دی، چي موږ ورته چمتو هم يو.

درنو خلکو! له بدلونونو سره روان شئ او دا مه واياست، چي موږ خو دې بدلون ته چمتو نه وو؛ بلکې اوس چمتو شئ. ستوري که ورک شول، نو لمر خو ځلېږي، له هغه څخه وړانګې و غواړئ او د تورو شپو په لارو کي يې وغوړوئ، چېري چي د روڼاګانو اړتيا ده.

زه دا نه درته وايم، چي تاسو د واکمنو زورواکو له مدرسې څخه د زړه خواله او د ملتيا سند تر لاسه کړی او د لاس غځولو ژوند خپل کړی، چي د پرېديو واکمنو په زمانه کي ستاسو تګلار پاته شوې ده. زه وايم، چي په دې هندوستان کي د تېرو وختونو د يادګار په توګه پاته شوی ځلنده نقش و نګار تاسو وينی؛ هغه ستاسو بهير او قافله ده، مه يې هېروئ او د هغه د وارثانو په توګه پاته شئ او په دې پوه شئ، چي تاسو که د تېښتي خيال نه لری، نو هيڅ څوک تاسو نه شي شړلای. راشئ او ژمنه وکړئ، چي دا هېواد زموږ دی او موږ د هېواد لپاره يو، چي د برخليک پرېکړې به يې زموږ له بړغ څخه پرته نيمګړې وي.

تاسو نن له زلزلې وېرېږی، چي يو وخت تاسو خپله زلزله واست. تاسو نن له تيارې ترهېږی، ياد کړئ! چي يو وخت ستاسو وجود په خپله ځلنده ځراغ غوندي وو. دې وريځو چي د خړو اوبو باران اورولی دی او تاسو د لندېدلو په وهم خپلي پايڅې را ټولي کړي دي. هغه ستاسو نيکه ګان وو، چي په سمندرونو کي يې لارې ايستلې او غرونه يې تر پښو لاندي کول، بريښناوې راغلې؛ دوی ورته و مسل، د تناوو دربی شو؛ دوی په کړ کړ کړ ورسره و خندل، سيلۍ راغلې؛ دوی په ټټر و وهلې، دوړې راغلې؛ دوی ورته لاره و ښودله. د مېړاني او ايمان ساه

ketabton.com - The Digital Library



کښېنول دي، چې د شاهانو له ګرېوانونو سره لوبې کوونکي نن په خپلو ګرېوانونو لوبې کوي. له خدايه دومره او داسي لېږي شواست، چې کله مو پر خداى ايمان هم نه وو لرلى.

ښاغليو درنو! ستاسو لپاره زما سره داسي نوې نسخه يا درمل نشته، هم هغه زاړه درمل او نسخه ده، چې د پېړيو نسخه ده او هغه نسخه چې د پيني (کاينات) تر ټولو ستر محسن راوړې وه او هغه نسخه د "قرآن شريف" دا اعلان دى، چې:

لا تهنو و لا تحزنو و انتم الاعلون ان كنتم مومنين.

د نن مينه پاى ته رسېږي او ما چې څه ويل غوښتل؛ هغه مو ستاسو په وړاندي و ويل، بيا وايم او په وار وار وايم، چې پر خپلو احساساتو لاسبري شئ او شا او خوا ته پخپله ژوند ورکړئ، دا د منډې شى نه دى، چې په پېرودلو يې تاسو ته راوړم. دا خو د زړه په هټۍ يا دکان کي د ښو کړنو (اعمال) په نغدو تر لاسه کېږي."

والسلام عليكم و رحمت الله و بر كاته

د خپلواکۍ دغه وينا چې نوموړي په ۱۹۴۷ع کي وکړه او د ۱۹۲۰ع هغه فتوا چې سره پرتله کړل شي (په ۱۹۲۰ع کي همدغه ښاغلى د هر مسلمان لپاره کډه کول يا هجرت اړين ګڼي او هغه وخت نه خو د دغه تاريخي ودانيو فكر ورسره شته او نه د نيكه ګانو د هديرو غم، نه د هغوى د كورونو او كلتوري ميراث غم ورسره دى) خو په ۱۹۴۷ع كي ناڅاپه دا ټول شيان ور يادېږي او مسلمانانو ته ور په ګوته كوي، چې د دې پالنه پر تاسو ده، نو په كار دئ، چې د كډې كولو پر ځاى هم دلته پاته شئ او ياد شيان خوندي وساتئ.

دا هر څه کړکېچ ځکه را منځته شو، چې مذهب او سياست يو کړل شو او پرېکړه د سياسي لاملونو پر ځاى پر مذهبي جذباتو اړانه وه، پايله دا

ketabton.com - The Digital Library



شوه، چي په دوارو وختونو کي چا هم کډه (هجرت) وکړه؛ هغوی ته د خپلو کړو خپله سزا ور کول شوه»

**مولانا آزاد او د امامت دعوه**

د ملايانو لوی شمېر په دې باوري وو، چي د خلافت له منځه تللو سره سم به ټول مسلمانان بې ملاتړه شي او مذهب به مو کمزوری يا بې سبکه شي. خو اپوته مولانا ابولکلام آزاد بېل نظر درلودی، هغه ويل، «چي خليفه يا خلافت دواړه د مسلمانانو تر ايمان او عقيده ارزښتناک نه دي. نو پاموړ ستونزه دا ده، چي د مسلمانانو ايمان څنگه خوندي کړل شي او مسلمانان څه رنگه له بېلوالي و ساتل شي.»

مولانا د همدې مرام لپاره يوه کړنلاره وړاندي کړه، چي مسلمانانو ته يو امام په کار دی، امام به د هندوستانيو مسلمانانو مشر وي او په ديني چارو کي به لارښود وي. هغه خپل پلوي مولانا عبدالرزاق مليح ابادي ته دا کار ور وسپاری، چي له ملايانو سره دي په دې اړه خبري وکړي. آزاد د دې په ارزښت وړاندي کولو و ويل، چي د هندوستان مسلمانان دا وخت هيڅ ديني سرمشر نه لري، نو امام به يې لومړی خو په يووالي يو موټی کړي او بل دا چي مذهبي شعور به يې ويښ ساتي، ځکه چي له امام څخه پرته به يې مذهب نيمگړی وي.

عبدالرزاق مليح ابادي د امامت خبره نوره هم پراخه کړه او دا لاسوند يې وړاندي کاوه، چي د مسلمانانو امام به يوازي دا نه چي په ديني چارو کي مرستيال وي؛ بلکې په سياسي چارو کي به هم د مسلمانانو د گټو ساتونکی وي. هغه به له انگرېزانو سره د جهاد لپاره له هندوانو سره معاهده کوي او همدا ډول به د هندوستان د خپلواکۍ لپاره په زړه پوري کردار تر سره کړای شي.

وروسته تر ټولو ارزښت وړ پوښتنه دا را منځته شوه، چي د امام ارزښت واک او زور خو د منلو وړ دي، خو امام به څوک وي؟ نو مليح ابادي د

ketabton.com - The Digital Library



دي وړ تیا او ارزښت لپاره دغه شرطونه وړاندي کړل، چي مذهبي عالم به وي، په کردار کي به کره وي او لوړ سیاست پوه به وي.
دغه وړتیا او ارزښتونه د ملیح اباديي او پخپله د مولانا آزاد په خیال هم یوازې په نوموړي کي وو. چي د دې منصب او چوکۍ لپاره تر ټولو وړ سړی وو، ځکه یې د کړنلاري په جوړولو هڅه وکړه، چي خپل امامت اعلان کړي او (له خلګو څخه په بیعت اخستلو) پر دې باندي پخلی تر لاسه کړي. د دوی خیال دا وو، چي یو ځل د خلګو لوی شمېر دغه پخلی وکړي، نو له دې کبله به په ملایانو کي هم د دوی په ضد شخړه ورو ورو هواره شي او دا ډول به دی په ګډه امام و منل شي.
خو دا خبره هغه وخت ورانه شوه، چي کله مولانا محمود الحسن "چي د دیوبند سر مشر وو او په مالټا کي تر بند (زندان) تېرولو وروسته لکهنوو ته راغلی او له مولانا عبدالباري "فرنګي محل" سره اوسېدی" څه وخت چي مولانا ملیح ابادي له یادو دواړو ملایانو سره د آزاد پر امامت خبره وکړه او هغوی یې دې ته اړول، نو هغوی پر دې پټه خوله پاته شو. کله چي دغه خبر تیا مولانا آزاد ته ورکول شوه؛ نو هغه بیا هم غږ نه واچاوه او ملیح ابادي ته یې ولیکل، چي تاسو خپلي هڅي رواني و ساتئ، ځکه چي په سند او بنګال کي مو بریا په برخه کېږي.
خو په ۱۹۲۰ع کي په ناڅاپي توګه مولانا آزاد دغه کړنلار پرېښووله، ځکه چي مولانا اټکل کړې وه، چي د هندوستان ملایان او مسلمانان سیاست پوهان یې نه خوښوي، چي دی امام و منل شي. نو ښه یې و ګڼله، چي د کړنلاري په پرېښوولو نورو چارو ته پاملرنه تر سره کړي او هلته خپل ارزښت وړ ځای تر لاسه کړای شي.
دغه کړنلاره که څه هم له منځه ولاړه، خو له دې چاري دا خبره په ښه توګه څرګندېږي، چي د ملایانو سیاست ته په راوستلو، د مذهب له لاري د سیاسي ستونزو کتلو، شنلو او د هغوی د هوارولو په لړ کي آزاد

ketabton.com - The Digital Library



هم پوره لاس لري. آزاد په هغو ملایانو کي وړاندي وړاندي وو، چي مذهب او سیاست یې سره یو ځای کول. (پایله دا شوه، چي تر دې وروسته د هندوستان مسلمانانو د هري سیاسي ستونزي هوارولو په لړ کي د ملایانو لوری څاره؛ بلکې تر دې هم ور هغي خوا ته شوه، چي اوس معاشي او اولسي چارو ته هم د مذهب په رڼا کي کتل کېږي)

د دې ټولي کیسې زړه وړونکی اړخ دا دی، چي کله یو ځل د مسلمانانو جذبات و بوږنول شول، نو وروسته سېکولر مشرتابه هم د خپلو ګټو لپاره کار ځني واخست او د پاکستان په غورځنګ کي د مسلم لیګ یورپي زدکړو لرونکو له دې جذباتو څخه تر ملایانو زیات کار واخست.

**سجاده نشین او ملا یان**

په ټولنه کي پیرانو (سجاده نشینانو) او ملایانو د خپل لرونکي اولسي ارزښت په رڼا کي ځان ځانله کردار ادا کړی دی. پیرانو ته په اولسي توګه تر ملایانو لوړ ارزښت په برخه وو او په مالي توګه هم ښه او شتمن وو، ځکه چي نیکه ګانو ته یې د واکمنانو له خوا جاګیرونه رسېدلي وو او د دې جاګیرونو وارثان دوی وو، په دې توګه په جاګیردارانو کي هم شمېرل کېدل. پر دې سربېره چي تړاو یې له صوفیانو کورنیو سره وو، نو په اولس کي د دوی لپاره عقیدت وو او د مریدانو لوی شمېر دوی ته عقیدت درلودی، د دوی پر روحاني واک یې باور وو او له پیرانو به یې د خپلو ستونزو هوارولو په لړ کي غوښتني کولې، په بدل کي به یې د نذر او نیاز په بڼه پېرزویني وړاندي کولې، چي له دې کبله هم د پیرانو په مال کي زیاتوالی را منځته کېدی.

په ټولنه کي د دوی بېلا بېلي بڼي او ارزښتونه وو، چي ځیني پکښې د زیارتونو او خاک (قبرونو) ساتونکي او متولیان وو، چي په دې توګه به د خپلو بزرګانو وارثان وو. د دوی د خوشاله ساتلو لپاره به واکمنو، امیرانو او اولسونو هغوی ته د عقیدت په توګه سوغاتونه او پېرزویني

ketabton.com - The Digital Library



وړاندي کولې، ځکه يې تر او له داسي طبقې سره وو، چي هغوی د هيڅ ډول بدلون غوښتنه نه درلودله.
دا چي لوی شمېر پيران په کليوالو سيمو او بانډو کي اوسېدل، نو د دولت او اولس تر منځ يې د تړون او تماس چاري هم تر سره کولې، چي په دې توګه د دوی ارزښت نور زيات شوی وو او هر دولت به د دوی تر اغېز په لاندي سيمو کي د خپلو مرامونو لپاره د دوی مرستي ته اړ وو.
د جاګيردارانو په توګه يې د شاعرانو، اديبانو، پهلوانانو، سندرغاړو، مذهبي څېړونکو يا ملايانو پالنه هم تر سره کوله، ځکه يې اغېز ډېر پياوړی، زورور وو، چي له کبله يې دولت هم له پامه نه شو ايستلای.
برتانوي دولت هم د دوی ارزښت ته په کتلو داسي کړنلاره جوړه کړه، چي دوی يې د مرستيال په توګه د ځان مله کړل او د سيمي په لوړو کسانو منلو يې دوی ته اسانتياوي او ځانله نومونه (خطابات) ورکړل او د دولت او اولسونو د منځني تماس ساتلو لپاره يې په کار واچول.
په دې توګه دا چي پيرانو يا سجاده نشينانو ته د دولت له لاري درناوی په برخه وو، نو دوی هم اولس ته د ملتيا او ملګرتيا ساتلو باور ورکاوی او پخپله يې هم د دولت په ملاتړ کولو ګومارني او لارښووني پر ځان منلې، يوازي په يوه او دوې چارو کي داسي وشول، چي ځينو کورنيو د دولت خبره و نه منله او دولت هم په ډېره کلکه هغوی ژوبل کړل. له دې جوري دوی ته هم څرګنده شوه، چي د دولت د ګومارنو او لارو په نه منلو له هر څه بې برخي کېدلای شي، نو د دولت خبره نه منل داسي ګرانه چاره شوه، چي دوی نه شوای تر سره کولای.
خو د دوی په وړاندي د ملايانو کردار بېخي بېل وو، ځکه چي ارزښت يې له پيرانو څخه يو مخ بېل وو. لومړی خو دا چي ملايانو د شته تر لاسه کولو داسي پر له پسې او مستقل لار نه درلودله او د خپلي روزۍ لپاره به يې خپل کار کاوی او يا به د امير پالني ته اړ وو. د استاذ يا

ketabton.com - The Digital Library



مذهبي چارو تر سره کولو غبرګون په ټولنه کي دومره ور ټیا نه درلوده.
پر دې سربېره دوی په ښارونو کي اوسېدل، چي په کلیوالو سیمو کي یې اغېز بېخي لږ وو، ځکه د پېرزوینو نه تر لاسه کوونکو په توګه د دوی رویه د نوآبادیاتي دولت په ملاتړ نه وه، چي بېلا بېل لاملونه یې لرل. نوي دولت دوی ته هغه منصبونه او اسانتیاوي ور نه کړې، چي په مخنیو دولتونو کي یې درلودې، د اوقاف اداري د منځه تللو له کبله د دوی د شته تر لاسه کولو لاره بنده شوه، کله چي دولت ښوونځي پرانستل، نو د مدرسو ارزښت یې ډېر اغېزمن کړ، ځکه چي لوستونکو د دولت په ښوونځایونو کي لوست خوښاوی او د زدکړو تر سره کولو وروسته هغوی ته کارونه هم ورکول کېدل.
دولت هم د ملایانو پالنه پیرانو غوندي و نه کړه، چي دوی داسي ډېر په کار هم نه ورتلل، نو ځکه ملایانو د دولت په کالبوت کي ځای و نه موند او بې برخي پاته وو. خو دا وشول، چي کله به دولت فتواوو ته اړ شو، نو له ملایانو څخه یې د خپلي خوښي فتواوي تر لاسه کړې.
د دولت پالني څخه د بې برخي پاتېدلو پایله دا شوه، چي ملایانو په مذهبي او سیاسي پېښونو جوړولو کي په زړه پوري برخه واخستله او دا رنګه په ټولنه کي یو اغېز را سربېره شو، چي ملایان د نوآبادیاتي نظام په ضد دي او هغوی د خپلواکۍ په جګړه کي برخه واخستله.

ketabton.com - The Digital Library



# ملایان تر پاکستان وروسته

## ملایان او اسلامي پرمختګ

د پاکستان په غورځنګ کي د ارزښت وړ او لويي مذهبي ډلي جمعيت علمای هند، جماعت اسلامي او مجلسِ احرار وو، چي د پاکستان د نظريې نا منونکي وو، خو مسلم ليګ يې پر نه منلو سربېره هم هغه مذهبي جذبات د خپلو مرامونو لپاره په کار واچول، کوم چي د خلافت د غورځنګ پر مهال په مسلمانانو کي را منځته شوي وو. خو مسلم ليګ بيا هم دې خبري ته ځرک وو، چي دغه مخور روايتي مذهبي مخور نه دي، ځکه يې د خپلو ګټو تر لاسه کولو لپاره د ملايانو ملاتړ ښخي اړين ګاڼی، چي د سياسي پرېکړو شا ته يې مذهبي پخلی وي.
کله چي مولانا شبير احمد عثماني د مسلم ليګ ملاتړ وکړی، نو په ۱۹۴۵ع کي د ملايانو يوه ځانله ډله د جمعيت علمای اسلام په نوم جوړه کړل شوه. که څه هم په دې ډله کي نوموړي ملايان نه وو، خو پر دې کمبوت سربېره هغوی د مسلم ليګ سياسي مرام تر سره کړی.
په ۱۹۴۶ع کي مسلم ليګ د مشايخو يوه کامېټه جوړه کړه، چي په اړه يې سليم قريشي پخپله مقاله "په پاکستان کي مذهب او سياست" کي ليکلي دي، چي نواب ممدوټ، سر فېروز خان نون او سردار شوکت حيات غوندي کسانو ته "چي په هيڅ توګه مذهبي کسان نه وو" هم د مذهبي درناوي نومونه ورکول شول، لکه ممدوټ شريف، دربارِ سرګودها شريف او نور،،، چي مسلمان اولس ته ځرګنده شي، چي له دوی سره لوی لوی شېخان ورسره دي.
په دې ډول مسلم ليګ د پاکستان جوړېدلو پر مهال ملايان، شېخان او مذهبي جذبات په برياليتوب سره په کار واچول، خو کله چي هېواد

ketabton.com - The Digital Library



و وېشل شو او پاکستان جوړ شو، نو وروسته بيا د ملايانو وار شو، چې پر دولت باندې د شريعت پلي کولو ټينګار وکړي او دا رنګه پاکستان يو اسلامي هېواد جوړ شي. تر پاکستان جوړېدلو وروسته مولانا شبير احمد عثماني سمدلاسه غوښتنه وکړه، چې بنسټيزې دولتي چوکۍ يا منصبونه دې يوازې مسلمانانو ته ورکول شي او هغه دې هم تش په نامه مسلمانانو ته نه ورکول کېږي. ځکه خو پر دولتي چوکيو باندې له مسلمانانو پرته د چا ټاکنه نه شواى کېدلاى. هغوى پر مسلم ليګ په ټينګار نيوکې وکړې، چې تر پاکستان جوړېدلو وروسته ملايان له پامه ايستل شوي او سلا ته يې غوږ نه نيول کېږي. هغوى د ملايانو د ډلګۍ جوړولو غوښتنه وکړه، چې دغه ډلګۍ به د دستور جوړولو په چارو کې ګډون لري، ځکه نو د ملايانو دغه ډلګۍ په ۱۹۴۹ع کې د "قراردادِمقاصد" په نوم يو دستاويز جوړ کړى، په دستاويز کې ډاګيزه شوې وه، چې پر ټوله پينې (کاينات) باندې د خداى پاک واکمني ده او رياست به د خپلې لاسبرتيا او هداياتو لپاره د اولس ټاکلو استازو ته اړتيا لري، دا رنګه د اولس له استازو څخه د لوړ واک حق واخستل شو. ډلګۍ په دولت کې د صدارتي نظام غوښتنه وکړه او د صدر ټاکنې لپاره يې اړينه وګڼله، چې نارينه او مسلمان به وي، ښځه يې له دې ارزښت څخه يوازې دا نه چې بې برخې کړه؛ بلکې پر ښځو يې دا بنديز هم و لګاوه، چې د قانون جوړوونکې مجلس لپاره په چوڼ کې برخه نه شي اخستلاى، که چېرې برخه اخلي، نو هم په کار دئ، چې عمر يې تر پنځوس کاله زيات او پرده کوونکې ښځه وي.

په دې ډول چې په دستور جوړولو کې ملايانو کومه برخه و لرله، پايله يې دا شوه، چې په ۱۹۵۷ع ۱۹٦۲ع ۱۹۷۳ع کې چې په دستورونو کې کومې مادې (دفعات) کښېښوول شوې؛ په هغوى کې درې مادې د ځانګړې يادونې وړ دي، چې د پاکستان نوم به اسلامي ريپبلک آف

ketabton.com - The Digital Library



پاکستان وي، څه وخت چې ایوب خان له خپل جوړ شوي دستور څخه دا ټکی لېرې کړی، نو په ضد یې کلک احتجاج تر سره شو او هغه په دستور کې د دې مادې اینبوولو ته اړ شو، چې د هېواد سرمشر به مسلمان وي، د قرآن او سنت په ضد به هیڅ قانون نه شي جوړولای.

ایوب خان د دې خبرې هڅه خو وکړه، چې په ټولنه کې سېکولر قوانین پلي کړل شي، په هغوی کې عایلي قوانینو هم ځای درلود، چې په ۱۹۶۱ع کې پاس شول او د ملایانو پر مخنیوي سربېره هم پر ځای پاته شول، خو ملایانو په ځینو نورو چارو کې خپله لاسبرتیا و ساتله، چې په هغوی کې د اختر د میاشتې په اړه پرېکړه کوونکې رویت هلال کمېټۍ د یادوني وړ ده. پر دې سربېره هغوی د ایوب په زمانه کې د پوهاند (پروفېسر) فضل الرحمان په ضد مهم تر سره کړ او هغه یې له دولتي چوکۍ څخه لېرې کړای شو، چې دا رنګه ورو ورو په ټولنه کې هغوی د خپل اغېز او زور په اړه څرک او تر یو ځایه باوري هم شول.

د بهټو په دولتي دوره کې هم له ملایانو سره روغه جوړه وشوه او د خوشالولو لپاره یې د مذهبي ښېګړي وزارت جوړ شو او په ټولنه کې د ملایانو اغېز ته یې تر یو ځایه سر هم ټیټ کړای شو، خو اوج ته ملایان د ضیاالحق په وخت کې و رسېدل.

د پاکستان په لنډ ګنډ تاریخ کې موږ په ورو ورو د ملایانو پیاوړتیا وینو او پیل یې په دې ډول وشو، چې سېکولر مشرتابه یې د خوشاله ساتلو لپاره څه نه څه غوښتني د دې لپاره و منلې، چې د دوی ملاتړ تر لاسه شي، خو دغه اړتیا د ملایانو د پیاوړتیا لامل شوه او په وړاندې یې جمهوري او سېکولر اداري ورځ په ورځ بې سېکه شوې، ان چې خبره تر دې ځایه پوري و رسېدله، چې ټوله سیاسي ګوندونه اوس د ځان مذهبي جوتولو لپاره د ملایانو د لاس لوبتي دي او ټولو سیاسي،

ketabton.com - The Digital Library



معاشي او اولسي چارو ته د مذهب په رڼا کي کتل کېږي او هر ګوند و
مذهب ته د زيات نژدېکت جوتولو لپاره د ملايانو خبرو ته غوږ نيسي.〉

د اسلامي رياست تصور

〈که وکتل شي، نو د پاکستان تر جوړېدلو وروسته سمدلاسه د سېکولر
مشرتابه او ملايانو تر منځ پر دې خبره کړکېچ را منځته شو، چي له
پاکستان څخه څه ډول رياست جوړ کړل شي. ايا! دا هېواد سېکولو او
جمهوري وي، چي په هغه کي د هري عقيدې او مذهب خلګو ته برابر
حقوق له هر څه توپيره پرته و رسېږي او که يو اسلامي رياست شي،
چي يوازي د مسلمانانو ټول حقوق پر ځای وي او چي مسلمانان نه
وي؛ هغوی ته دويمه درجه ورکول شي. که څه هم قايد اعظم په وار
وار ډاګيزه کړې وه، په بيانونو او مرکو کي يې په ډاګه ويلي وو، چي
پاکستان به يو سېکولر هېواد وي او هر ښاري ته به برابر حقوق ور په
برخه وي. دا خبره هغه په اګست ۱۹۴۷ع کي و قانون رغوونکي
پارلمان ته هم کړې وه.〉

خو ملايانو له پيله د وړاندي نظر په کلک مخنيوی کولو هڅي کولې،
چي نوی رياست اسلامي او مذهبي جوړ شي. ځکه چي د پاکستان په
جوړېدونکې چاره کي له مسلمانانو سره ژمنه شوې وه او مسلمانانو د
دې رياست د بشپړتابه لپاره ډېري بلهاري او قربانياني ورکړې وې.
جسټس منير چي کوم کميشن تر قادياني شخړو وروسته جوړ کړی
وو او تر هغه وروسته چي يې کوم راپور جوړ کړی وو؛ په هغه کي يې له
ملايانو سره تر يو شمېر مرکو وروسته څرګنده کړې ده، چي مولانا
احسن اصلاحي و ويل، چي د قايداعظم د ماډرن رياست تصور هغه
وخت له منځه ولاړی، چي د ملايانو کمېټې د "قرارداد مقاصد"
مسوده جوړه کړه، نو تر هغه وروسته په کار ده، چي د رياست جوړښت
پر اسلامي نظرياتو باندي تر سره کړل شي.

ketabton.com - The Digital Library



خو بیا هم پوښتنه وه، چې یو اسلامي ریاست به پر کومو تګلارو اړانه لري او کړه وړه به یې څنګه وي؟ په دې لړ کې د بېلا بېلو ملایانو په رایو یوازې د دوی بېلوالی نه شو څرګند؛ بلکې ځیني خو یو له بل څخه بېخي اپوټه لارې وړاندې شوې. مانا دا چې کله په دې اړه و پوښتل شول، چې په مسلم دور کې هغه کوم وخت او زمانه ده، چې اسلامي ورته ویل کېدلای شي؟ چې په اسلامي ټول پوره او نمونه و ګڼل شي؟ په ځواب کې ملایانو نظرونه وړاندې کړل، ځینو د رسول الله ص زمانه مثالي و ګڼله او چا په څه پراخټیا ورکولو د خلفائ راشدین زمانه هم ور ګډه کړه، ځینو د عمر بن عبدالعزیز دولتي دوره د ویاړ وړ و بلله او ځینو د صلاح الدین ایوبي، محمود غزنوي، محمد تغلق او اورنګ زېب دولتي واکمنۍ د بېلګې په توګه وړاندې کړې.

د دې ټولو ملایانو تر بیانونو وروسته چې جسټس منیر کوم لنډون رغولی وو؛ په هغه کې د اسلامي ریاست ځانګړني په دې ډول وې:

۱: هغه ټول قوانین چې په قرآن او حدیث کې شته؛ د دې دستور برخه دې و ګرځول شي.

۲: هره هغه ماده چې د قرآن او حدیث په ضد ده؛ لېرې دې کړل شي.

۳: د بین الاقوامي قانون یا معاهدو هره هغه ماده چې د قرآن او حدیث په ضد وي؛ د هغې منل به د پاکستان لپاره اړین نه وي.

په ذهن کې د دې نمونې په ساتلو چې جسټس منیر کوم غبرګون ورکړی دی، هغه دا چې له دستور څخه که د اولسي لاسبرتیا خبره و ایستل شي، نو په داسې توګه به بیا دې هېواد ته جمهوري ویل پوره ګېه وي، له قانون جوړوونکي چارې څخه که اولس او استازي یې و ایستل شي او یوازې ملایانو ته وسپارل شي، نو دا به له جمهوري لارې سره سر تر پایه زیاتوب وي او داسې کول ټولنه جمهوري کولای نه شي؛ بلکې د ملایانو لاسبرتیا ساتلای شي.

AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



ملایانو و اسلامي ریاست ته د جمهوري بڼې ورکولو لپاره داسي هڅه وکړه، چي نوي ګړني (اصطلاحات) و کارول شي. د بېلګي په توګه پارلمان یا اسمبلۍ ته شورا و ویل شول، امیر د نن صدر او ناستګویه يې د مشیر په نوم ونومول شو، اجماع ته د اولسي رایي نوم ورکول شو او دا هر څه د دنیا په وړاندي د دې جوتولو لپاره تر سره کړل شو، چي زموږ په خیال د اسلامي ریاست خاکه د نوو سیاسي روایاتو سره د نښتي یا ټکراو پر ځای تړاو لرلای شي.

## مذهبي کم شمېري

د نن سبا په نوي قامي ریاست کي د یوه قام جوړښت د ژبي، تاریخ او په جغرافیایي بریدونو کي پر اوسېدلو کېږي، په دې کي هر ښاري ته برابر حقوق ورکول کېږي او دا د هغه دنده وي، چي د ریاست او ټولني په چارو کي په بشپړ ډول برخه و لري، له هغه سره د مذهب پر بنسټ هیڅ ډول کرکه نه تر سره کېږي، جسټس منیر په ذهن کي د وړاندي تګلاري په ساتلو له ملایانو دا پوښتنه وکړه، چي هغوی به په اسلامي ریاست کي له مذهبي کم شمېرو سره څه کوي؟ په سیاسي او اولسي توګه به د هغوی ارزښت څه وي؟

لوی شمېر ملایان پر دې په یوه خوله وو، چي له هغوی سره به د ذمي په توګه رویه تر سره کېږي، هغه به د پاکستاني ښاري په توګه بشپړ اختیار نه لري او نه به پر ارزښتوړ او بنسټیزو چوکیو ځای لري.

یوه عالم مولانا ابوالحسنات دغه پوښتنه داسي ځواب کړه، چي:

"دوی به د ذمیانو غوندي وي، د هېواد په قانون جوړولو کي به هیڅ لاس نه لري، نه به د قانون پلي کولو حق لري او نه به پر لوړو چوکیو ټاکل کېږي." کله چي مولانا بدایوني له قاید اعظم څخه د هغه وینا په اړه و پوښتل، چي په هغه کي يې هندوان، عیسایان او مسلمانان د پاکستان ښاریان ګڼلي وو، نو هغه و ویل: "زه د دې تګلاري منونکی

ketabton.com - The Digital Library



یم، چې ټولې مذهبي ډلې که مسلمانان وي او که نه وي؛ هغوی ته دې د ابادۍ پر بنسټ د ریاست او انتظامیې په چارو کې برخه ورکړل شي، خو په پوځ او عدلیه کې دې له مسلمانانو پرته ځوک نه اخستل کېږي، نه دې وزیر اخستل کېږي او نه دې پر داسې چوکیو د بل چا ټاکنه کېږي، چې د ریاست ارزښت وړ چارې ورسره وي."

په پاکستان کې له مسلمانانو پرته خلگ د مولانا بدایوني د لاسوند په رڼا کې ځکه ذمیان نه دي، چې دغه هېواد تر سوبه وروسته نه دی تر لاسه شوی او نه دوی هغه معاهده کوونکي دي، ځکه چې معاهده نه ده ورسره شوې، نو د اسلامي ریاست ښاریان هم نه شي کېدلای.

بله پوښتنه دا وه، چې په یوه اسلامي ریاست کې که له مسلمانانو پرته ځوک ښاریان نه شي جوړېدلای، نو د هغه کم شمېرو مسلمانانو په اړه څه رایه ده، چې په پرېدیو (چې د مسلمانانو هېوادونه نه وي) په هېوادونو کې اوسي؟ د پوښتنې په ځوابولو عطاءالله شاه بخاري وویل، دا ناشونې ده، چې یو مسلمان دې د پرېدي هېواد خواخوږی ښاري جوړ شي، نو کله چې وپوښتل شو، چې د هندوستان پر مسلمانانو دا فرض دي، چې د خپل ریاست سره خواخوږي پاته شي؟ نو مولانا و ویل، چې نه! هیڅ کله نه!"

د دې پوښتنې چې تاسو به هندوانو ته خوښه ورکړی، چې خپله تګلار د خپل مذهب په رڼا کې جوړه کړي؟ په ځوابولو سره مولانا ابوالاعلی مودودي و ویل، چې هو! زه به پر دې خبره هیڅ نیوکه و نه لرم، چې د منو د شاستریانو په وینا د هغوی په دولت کې مسلمانان د شودر او ملیچهـ په توګه و ساتل شي او د دولت له برخي جوړېدلو څخه یې و ګرځوي او د ښاري په توګه هیڅ حقوق ور نه کړل شي."

منیر کمیشن تر دې وروسته بله پوښتنه وکړه، چې پر هندوستانیو مسلمانانو باندې د هندوستان او پاکستان د جګړې پر مهال څه ذمه

ketabton.com - The Digital Library



داري راځي؟ په ځواب کي مولانا ابوالحسنات و ويل، چي د دوی فرض جوړېږي، چي زموږ په ملاتړ له هندوستان سره جګړه وکړي. مولانا مودودي داسي څرګندونه وکړه، چي د هغوی فرض ښکاره دي، چي نه دي د پاکستان په ضد جګړه تر سره کوي او نه دي داسي کار کوي، چي د پاکستان ساتني ته زيان رسوونکی وي.

که چېري د مذهبي کم شمېرو په اړه د ملايانو پر کړنلاره تګ و شي، نو په داسي توګه به نه په پاکستان کي له مسلمانانو پرته چا ته حقوق ورکول شي او نه به په پرېديو هېوادونو کي مسلمانانو ته خپل حقوق و رسېږي او په دواړه اړخه کي به کم شمېري پر مذهبي بنسټ له خپلو حقوقو بې برخي او ځېښناک به يې تر سره شي، د غدار او خواخوږي نه لرونکو ښاريانو په توګه به پېژندلای شي. په دې لړ کي د يادوني وړ ده، چي په دې اړه د ملايانو او هندو فرقه پالو خلګو رايه يو رنګه ده او دواړه يوازي پر مذهبي بنسټ باندي له وګړنيزو يا انساني ستونزو څخه پرته دغه ستونزو ته ګوري او سپړنه يې کوي.

په پاکستان کي د دې کړنلاري پلي کولو پايله دا شوه، چي موږ خپل مذهبي کم شمېري په قامي جوړښت کي له ځانه څخه بېل و ساتل او د هغوی له ارزښت او وړتياوو تولني ګټه نه واخيستله. له ښاري حقوقو څخه د بې برخي کېدلو ځور او احساس په هغوی کي د نهيلۍ په را منځته کولو نور هم شاته پاته کړل. زموږ ملايان د اوسنيو مذهبي کم شمېرو له شمېر څخه ډاډه نه وو، ځکه يې د نورو کم شمېرو را منځته کول پيل کړل او پيل يې هغه وخت وشو، چي احمديان يې له اسلام څخه په ايستلو کم شمېري کړل او وروسته د ذکريانو وار دی، چي له اسلام څخه پر ايستلو يې ټينګار کېږي. که چېري دا لړۍ روانه وه، نو د کم شمېرو شمېر به بېخي ډېر شي.

ketabton.com - The Digital Library



## ملایان او تولنه

په دې څپرکي کې به هغه تګلارې او لاملونه په ګوته کړل شي، چې له لارې يې ملایان په ټولنه کې د خپلو اغېزو او برم زیاتوالی تر سره کوي او د هغو ادارو یادونه به هم وشي، چې په ټولنه کې د ملایانو لاسبرتیا پیاوړې ساتي. په هغوی کې د مدرسې په اړه په تېرو پاڼو کې یادونه شوې ده، چې څه ډول دغه مدرسو و ملایانو ته په ټولنه کې ارزښتوړ ځای ور په برخه کړ او تر څه وخته پورې خو دغه مدرسو د انتظامیې لپاره د ټاکلو مذهبي چوکیو لپاره روزنه هم کوله، خو څه وخت چې د مسلمانانو د واکمنۍ دوره پای ته و رسېدله او انګرېزان واکمن شو، نو د دې مدرسو سیاسي ارزښت له منځه ولاړ او د سرکاري معاشونو پر ځای د ملایانو شپې او ورځې د اولس پر بسپنه و درېدلې، چې له کبله یې د دوی په اولسي ارزښت کې هم کمبوت را منځته شو، خو په ټولنه کې ځیني مذهبي دودونه او ادارې شته، چې تر اوسه پورې د دوی اولسي او مذهبي اړتیاوې پوره کوي او ملتیا يې د ملایانو ژوند دی.

### ملایان او ماجت (مسجد)

د مسلمانانو په دولتي دوره کې د واکمنانو او امیرانو دستور وو، چې د سوبې (فتح) په خوشالي کې یا د ښه سرېتوب او سپېڅلتیا جوتولو لپاره به يې ماجتان جوړول او د خرڅ د پاره به يې له ماجت سره نږدې مځکه ټاکلې او جایداد به ورسره تړلی وو، چې له هغه څخه د ماجت امام او موذن ته معاش ورکول کېدی. په پیل کې به د ریاست له خوا د ماجتانو د کارکوونکو ټاکنه تر سره کېده او چارې به يې څارل کېدلې، چې د ماجتانو چارو تر سره کوونکو به د دولت خبرې منلې او په اولس کې به يې د دولت د خواخوږۍ او باور خبرې کولې.

ketabton.com - The Digital Library



څه وخت چي د انګرېزانو واکمني را منځته شوه، نو چاپېریال پر بل مخ واووښت او په دې دوران کي یو شمېر مذهبي ډلي جوړي شوې، چي مرام یې په مسلمانانو کي مذهبي ارزښت پر ځای ساتل او د خپلو عقایدو او نظریاتو په رڼا کي د خپلو ډله ایزو پلویانو ډېرښت وو. د دوی د چارو تر سره کولو ځایونه مدرسه او ماجت وو، ځکه یادو ډلو هڅي کولې، چي خپلو ډلو ته د زیاتو خلګو د اېلوالي لپاره هر څومره زیات ماجتان و نیسي. د ډېرو ماجتانو نیولو او یا پر هغوی باندي د خپلي لاسبرتیا ساتلو د مذهبي ډلو په پیاوړتیا کي لوی لاس درلودی، پر مخکینیو جوړو شوو ماجتانو باندي د یوې نه یوې ډلي لاس بر شو، چي ورپسې هري ډلي پر ځای ځای د ماجتانو جوړول پیل کړل، په نوو جوړېدونکو ماجتانو کي د یادوړ خبره دا وه، چي د اولس په بسپنه (چنده) او ملاتړ به جوړېدل او په دې توګه به اولس هم د مذهبي ډلو او عقایدو په خورولو او خپرولو کي پوره برخه درلودله.

د ماجتانو په جوړېدلو کي د بسپني کارول په څو اړخه د یادوني وړ دي او دغه لړۍ (چي پیل یې له نوآبادیاتي دور څخه شوی دی) تر اوسه پوري روانه ده او په دې توګه د ماجتانو جوړولو لپاره بسپني د یوې تلپاتي اداري بڼه خپله کړې ده، چي همدا بسپنه اوس د ماجت د کار کوونکو او متولیانو د لاس ته راوړنو لاره ده، ځکه خو د ماجت کار تر پیلېدلو وروسته پای ته نه رسېږي او ورځ په ورځ بدلونونه پکښې تر سره کېږي، د ښکلا او ښایست لپاره یې بېلا بېلي چاري تر سره کېږي، ان تر دې چي د ځینو ماجتانو ښکلا هم تر اړتیا زیاته شي. شاته یې مرام دا وي، چي د بسپني کارول وړ او روا کار و بلل شي او د جوړېدونکي کار په روان ساتلو د بسپني لړۍ هم روانه و ساتل شي.

تر دې مخکي چي ماجتان جوړېدل، د هغوی د خرڅ لپاره به ځانګړي جایدادونه وو او یا به د دولت له خوا پیسې ورکول کېدلې، خو اوس

ketabton.com - The Digital Library



داسي نه ده. ځکه د نوو ماجتانو د خرڅ لپاره د ماجت پر شا او خوا دکانونه جوړ کړل شي، چې د ماجت خرڅ پوره کوي او دا رنګه ماجت بوازي دا نه چې د ماجت د امام، خطيب او موذن لپاره د معاش پوره کولو لاره ده؛ بلکې مذهبي ارزښت يې هم پر ځای ساتي.

دانګرېزانو په دوره کې داسي ډېري بېلګي تر لاسه کېږي، چې د يوې فرقې کسانو دي ماجت په زور نيولی وي او هلته يې د نورو فرقو خلک شړلي او له لمانځني څخه کرځولي وي. په ځانګړې توګه داسي ډېري جګړې د اهلِ حديثو او نورو ډلو تر منځ شوي دي، په هغوی کې اهلِ حديث نورو ماجتانو ته په تګ کولو سره پر خپل چم د لمانځه ادا کولو هڅې کوي. دا چې هغوی آمين په زوره وايي، نو د نورو فرقو خلګو به داسي لمانځنه نه خوښوله، ځکه داسي به ډېر وخت وشو، چې تر تګ وروسته به يې ماجت په اوبو ښه ترا پر ېمنځل شو، کنې نو په زوره هم له ماجته څخه ايستل شوي دي او لمانځه ته نه دي پرېښوول شوي.

پي ډي متکاف په خپل کتاب "د برتانيې په دور کې اسلامپالنه" کې داسي يو شمېر بېلګي وړاندي کړې دي، چې محمد سعدالله او د هغه ملګري (اهلِ حديث وو) د مئو په ماجت کې و لمانځه ته نه پرېښوول شول او هغوی وروسته په نژدې ځنګله کې لمونځ ادا کړ، چې وروسته هغوی ځانله خپل ماجت هم جوړ کړ. دا چې له اهل حديث سره داسي تر سره کېدل، نو هغوی يې په ضد برتانوي عدالت ته ولاړل او مقدمه يې وکړه، چې موږ دي په ماجتانو کې لمانځه ته پرېښوول شو. په ۱۸۸۹ع کې د دې مقدمې په پرېکړه کولو جسټس محمود (د سر سيد زوی) وليکل، چې: د ماجت لاندي کول او يا پر هغه د لاسبرتيا ساتلو حق هيڅ مسلمان فرقه يا مسلک نه لري، وهابي دی که محمدي؛ دواړه مسلمانان دي او په هر ماجت کې لمونځ کول د دوی حق دی، خو که چېرې يو محمدي يا وهابي د لمانځه په ادراينه کې د بلې فرقې

ketabton.com - The Digital Library



جذباتو ته زیان رسوي، یا یې په لمانځه کې ور لوېږي او اندېښمن کوي یې، نو دا ډول چارې د ستاینې وړ نه دي.
پر دې سربېره متکاف داسې ډېرې پېښې لیکلې دي، چې په هغوی کې اهلِ حدیثو، برتانوي دولت او نورو فرقو لاس درلودی. د بېلګې په توګه په ۱۸۹۲ع کې په میرټهـ کې د تاو تریخوالي د مخنیوي لپاره یوه مجسټرېټ ښاري ماجتان سره وېشلي وو، چې د وېش په پایله سره پنځه ماجتان اهلِ حدیث ته او نور ماجتان حنفي مسلک لرونکو ته ور پاته وو. د ماجتانو دغه جګړه له نوآبادیاتي دور څخه تر اوسه پورې روانه ده. اوس هرې فرقې او مذهبي ډلې په هر ځای کې خپل ماجتان جوړ کړي دي او پوره هڅې کوي، چې پر ماجت یې خپله لاسبرتیا تلپاتې وي او د نورو فرقو له خوا هڅې رواني وي، چې څه رنګه د بلې فرقې ماجت لاندې کړل شي. له همدې جورې د هرې فرقې خلک پر خپل ځای څرک پاته وي او د بلې فرقې خلک په خپلو ماجتانو کې نه پرېږدي، اوس خو دا هم کېږي، چې نوي نوي مذهبي ډلې جوړېږي او نوې فرقې را منځته کېږي، چې له کبله یې د ماجتانو شمېر هم ورځ په ورځ زیاتېږي او په هر کلي او بانډه کې څلور پنځه ماجتان بېخي یو بل ته نژدې جوړ شوي وي، چې پر منارونو یې زورور لاوډسپیکران لګېدلي وي، په هر ماجت کې له موذن او امام څخه نیولې مدرسه هم پرانستې وي، په معاشي توګه ماجت خپل خرڅ پوره کولای شي، چې د خرڅ پیسې یې د ماجت پر تاکلې مځکه له جوړو دکانونو څخه تر لاسه کېږي او د نوري بسپنې له لارې د شته زیاتوالی را منځته کېږي.
د اسلامي دور په پیلیزه زمانه کې ماجت د سیاسي، اولسي او کلتوري چارو مرکز پاته شوی دی، خو د ډله ایزو او فرقه وارانه کرکو له جورې اوس د ماجت هغه ارزښت پاته نه دی؛ بلکې اوس اپوته په ماجتانو کې مذهبي جذبات پارول کېږي او د نورو ډلو په ضد کرکې را منځته کوي.

ketabton.com - The Digital Library



په اوسني دور کې د ماجت همدې ارزښت ته په کتلو زورواکو دولتونو او جمهوري مخورو هم د ماجت په کار اچول پیل کړي دي او د ولت د اوقاف د څانګې په جوړولو سره لوی لوی او ارزښت وړ ماجتان تر خپل واک لاندې کړي دي او په داسې ماجتانو کې د موذن، امام او خطیب ټاکنه هم د دولت له خوا تر سره کېږي. له دولت څخه د معاش اخستلو له کبله د ماجت دغه امام او خطیب اوس د هر دولت (هغه پوځي وي، زورواکی وي او که اولسواک وي) په خواخوږي او ستاینه نه ستړی کېږي او اسلامي يې ګڼي. د دولت له بدلون سره سم د دوی خواخوږي هم بدلون مومي او د نوي دولت د اسلامي کولو لپاره د ډول ډول لاسوندونه په لټون او رغولو بوخت پاته وي.

**ملایان او مناظره (یو د بل ضد وراشې)**

په هندوستان کې تر برتانوي واکمنۍ مخکې د اولس په وړاندې د مناظرې هیڅ دود او دستور نه وو. ملایانو او هندو پنډتانو په ماجتانو او مندرونو کې پر مذهبي بېلبرو (موضوعاتو) باندې وینااوي او وراشې تر سره کولې، د اکبر په دوره کې هم د ملایانو او مرام لرونکو عیسایانو تر منځ مناظرې شوي وې، خو هغه تر درباره پوري وې او ډېر وخت به دا هڅه کېدله، چې نه خو د بل مذهب ته بد و ویل شي او نه د هغه له مذهبي دودونو سره زیاتوب وشي، چې په دې ډول د دواړو مذهبونو د مخورو تر منځ یو ډول د پټې خولې روغې جوړې شتون درلودی، له هغوی سره د هیڅ یو چا د مذهبي عقیدو بېځایه ګڼلو اندېښنه نه وه او نه يې داسې ری واهه، ځکه يې له یو بل سره په سوله ایزه توګه د ژوند تېرولو لاره رونه او غور پدلې وه.

په مذهبي توګه د یو بل زغملو او امن خوښولو بهیر هلته له کړکېچ سره مخامخ شو، چې عیسوي مبلغین د خپل مرام لپاره هندوستان ته راغلل او هغوی د نوو زدکړو او روزنو، پېیوني کالبوت، لار ساتنې،

AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



دولت او د منصبدارانو د ملاتړ لرلو له کبله ډېر اغېزمن او کارينده وو، هغوی د اسلام او هندوستان د مذهبونو کتنه په دې نيامت کړې وه، چې په بې سپکه اړخونو را سر بېره کولو او نيوکو کولو سره ماته ورکول شي. هغوی له چاپخوني هم په زړه پوري کار واخست او په لوی شمېر کتابونه او پاړکيان د خپلو عقيدو په اړه و ليکل او په خپلواکه توګه يې په اولسونو کې و وېشل، هغوی د خوروني يا تبليغ لپاره هم نوي نوي لاري خپلي کړې، چې تر دا وخته د هندوستان خلګ ور سره اشنا نه وو. د بېلګي په توګه هغوی به د بازارونو، اخترونو او نورو غونډو پر مهال خلګ سره را غونډ کړل او د هغوی په منځ کې به يې په لوړ ږغ د خپل مذهب ښېګړې بيانولې. د ۱۹۸۹ع د مارچ مياشتي پر دېرشمه نېټه لاهور ټربيون و ليکل، چې:

" نن دلته په کوڅو او لارو کې د تبليغ کولو چار غوره شوې ده، په ټوله انارکلي کې هندوان، عيسايان، آريه او برهمو مبلغين په ډېره مينه او جذبه سره د خلګو په منځ کې د خپلي عقيدې ښېګړې بيانوي. "

د مناظرو يا منځنيو وراشو د لړۍ له پيلېدلو سره ملايان هم را ګرندي شول، چې پر مذهب باندي يې د نيوکو په ډول د بريدونو په ځوابولو که د خپلي عقيدې رښتينواله نه وای ثرګنده کړې، نو له کبله يې د مسلمان اولس د بېلاري کېدلو انديښنه را منځته کېدله، نو ملايانو يوازي دا نه چې د اسلام په اړه د هغوی د نيوکو ځوابونه و لټول؛ بلکې د عېسويانو او هندوانو مذهبونو کتنه يې هم په دې نيامت وکړه، چې د ناوړو اړخونو په را سر بېره کولو پر هغوی نيوکې و کړای شي.

خو دا مناظرې يوازي د اسلام او نورو مذهبونو تر منځ نه وې؛ بلکې د مسلمانانو د ډلو او فرقو تر منځ هم پيل شوې، چې هري ډلي او فرقې ملايانو به د خپلي عقيدې خواله کوله او لومړيتوب به يې ورکاوه.

AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



کله چي به د مناظرې پرېکړه وشوه، نو د ډلو تر منځ به د مناظرې د ځای او وخت ټاکنه وشوه، مانا پنځه، لس او پنځلس ورځي،،، دا به هم و ویل شول، چي ماته خوړونکي به د خپل مذهب په پرېښوولو سوبه تر لاسه کوونکي عقیدې ته زړه ښه کوي، خو د وراشو په پای کي به هیڅ یوه هم خپله ماته نه منله او هر یوه به ځان سوبمن باله. په دې لړ کي به هري ډلي هڅه کوله، چي په وراشو کي وروستۍ وینا ورکول شي، چي بلي ډلي ته د ځواب او سپیناوي وخت په لاس ور نه شي او دوی د خپلي سوبي اعلان او د هغه د ماتي خبر خور کړای شي.

ډېر وخت به په داسي وراشو او مناظرو کي لاسوندونو علمي او پوهنیز بنسټ نه درلودی؛ بلکې دواړو به هڅه کوله، چي د سپکاوي، پسخند او بېلا بېلو کیسو له لاري یو بل ټیټ کړای شي. پر کومو نوموړو بېلبرو چي وراشې تر سره کېدلې، په هغوی کي د حضرت عیسی روحانیت، د تثلیث عقیده، په بایبل کي لاسوهني او زیاتوب، د پیني پنځېدل، د ویدونو، قرآن او بایبل دالِهي کېدلو جوتول او د ژغور لاري چاري،،،

هسي خو بې شمېره وراشې او مناظرې د مسلمانانو، عیسایانو او هندوانو تر منځ شوي دي، خو ځیني داسي مناظرې دي، چي په اړه یې د نوموړو ملایانو په ژوند لیکونو او یا د هغې زمانې په پاڼکیانو کي څه نه څه تر لاسه کېږي. یوه مناظره په ۱۸۷۰ع کي په چاند پور کي شوې ده، چي د "خدای پېژندني په مېله" نوموړې ده. په مناظره کي د مسلمانانو، عیسایانو او هندوانو مبلغینو برخه اخستې ده، چي د مسلمانانو له خوا مولانا قاسم نانوتوي (۱۸۷۹مړ) او مولانا محمود الحسن په وراشو کي برخه درلوده.

د یوه جرمن مشنري مبلغ کارل بپېنډر سره چي کومه مناظره وشوه؛ هغه په ټول هندوستان کي نوموړې شوه او د هغه په وړاندي د مولانا رحمت الله عثماني نوم اخستل کېږي، چي په هر وار یې ماته ورکړې

ketabton.com - The Digital Library



او بې ځوابه کړې وو. ویل کېږي، چې په ۱۸۵۴ع کې یې په آګره کې په داسې توګه ماته و خوړه، چې له کبله یې هندوستان پرېښوو.
همداسې له هندو مبلغینو سره هم مناظرې تر سره کېدلې او په هغوی کې به هر وار ملایانو د خپلې سوبې خبره ډاګیزه کړه، په یادو مناظرو کې یوه مناظره له پنډت دیانند سرسوتي سره وشوه، چې پر ژمنه سر بېره یې په مناظره کې ګډون و نه کړ او په داسې ډول یې خپله ماته و منله. کله چې د مناظرو لړۍ پیل شوه، نو د مسلمانانو ډلو ملایان هم د خپل منځیو وراشو له کولو نه را ګرځېدل. په دې وراشو کې تر ټولو نوموړې مناظره د مولانا اسماعیل شهید (۱۸۳۱ع مړ) او مولانا فضل حق میر (۱۸۶۱ع مړ) تر منځ شوې او د وراشې سرلیک "امکانِ نذیر" مانا دا چې خدای پاک د رسول الله ص غوندې پیغامبر پیدا کولای شي او که نه؟ دغه مناظرې په ډیلي کې ډېر تاو تریخوالی را منځته کړ. که څه هم ښکاره سوبه جوته نه شوه؛ خو د دواړو پلویانو به د خپلو ډلو په ملاتړ خبرې خورولې، چې وروسته هم دغه مناظرې د دیوبندیانو، اهلِ حدیثو او بریلویانو تر منځ روانې وې.
د وراشو دغه روانې لړۍ پر خلګو څکه ژورې اغېزې وکړې، چې اولس په لومړي ځل په مذهبي وراشو کې ګډون درلود، پایله دا چې په اولس کې هم مذهبي شعور را سربېره شو او په څنګ کې د خپل ارزښت احساس هم ورته و شو. مناظرو ډېر ژر د یوې نوموړې ادارې بڼه خپله کړه، څکه په ټولنه کې د ساتېرې د نه شتون له کبله اولسونو ته مناظرې داسې لاره پرانستله، چې په هغوی کې به یې په زړه غوښتنه د ګډون او وینا کوونکو له اورېدلو خوند په برخه کېدی او له منځنیو کیسو، نیوکو یا پسخندونو څخه به یې خوند اخست، چې له کبله یې په ټولنه کې د ملایانو اغېز او برم زیات شو او مسلمانانو ته احساس وشو، چې ملایان زموږ د مذهب په ساتنه کولو لګه زموږ ساتنه کوي،

ketabton.com - The Digital Library



ځکه یې هغوی ته د خپل استازیتوب درناوی ورکړ او تر هغه وروسته ملایانو ته کوم خنډ نه وو، چې له اولسونو څخه د بسپنې (چندې) غوښتنه وکړي، وروسته د ښېگړي په دې چاره کې امیرانو او شتمنو خلکو هم برخه اخستل پیل کړل.

له دې سره سم د مناظرو له جوري د بېلا بېلو مذهبونو منونکو تر منځ هم تاو تریخوالی را منځته شو او همدغه تاوتریخوالي وروسته د فرقو چاپېریال را منځته کړی، په ځانگړې توگه هندوان او مسلمانان به پر هره مذهبي چاره باندې سره اخته وو او توندې جگړې یې سره کولې.

د مناظرو لړۍ هغه وخت له پامه ولوېدله، چې د چاپخونې له را منځته کېدلو سره په لوی شمېر د مذهب خوروني لټریچر چاپ او خلکو ته پر خپلو کورونو رسېدل او ورسره چې کله د یورپي زدکړو تر لاسه کوونکو شمېر مخ پر زیاتېدلو شو، نو هغوی له مذهبي جگړو څخه ځان لېرې وساته او پر ځای یې سېکولر خیالات خورول، ځکه ورو ورو دا روایت له منځه ولاړی او پای چې کله سیاسي غورځنگونه پیل شول، نو د خلکو پاملرنه یې له مذهب څخه د سیاسي چارو لوري ته واړوله، په سیاسي چارو کې د هر مذهب او عقیدې وگړو و برخه اخستلو ته زړه غوښتی او په پوره برخه اخستلو یې تر مذهب سیاسي چارې اړینې و پامولې.

## ملایان او لارښوونه (وعظ، نصیحت)

پر مذهبي موضوعاتو باندې ښوونیزې خبرې (وعظ) د مسلمانانو په ټولنه کې ډېر زوړ روایت او ډېر وخت په ماجتانو کې تر لمانځه وروسته یا مخکې تر سره کېږي، چې نن هم شته. په دغه ښوونو کې د قرآن او حدیث په پخلي سره خبرې کېږي، چې اورېدونکي اغېزمن شي او له لارې یې ښوونیزې چارې خورې او اغېز وشي. دویمه ارزښت وړ خبره دا وه، چې په داسې توگه به مسلمانانو ته پر مذهبي زدکړو او لارو د

AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



تګ او عمل تر سره کولو ویل کېدل او د مذهب په ضد یا د نا خبره ژوند تېرولو شخه د را ګرځولو هڅې تر سره کېدې او کېږي.
په تېرو وختونو کې دا دستور وو، چې واکمنانو او امیرانو به ملایان او نوموړي خطیبان کورنیو ناستو او غونډو ته را و بلل او له دوی شخه به بې په دې اړه څه اورېدل. په داسې توګه به یې د اولس په وړاندې له مذهب سره د مینې او خپل ښه سړیتوب جوتول هم تر سره کول، چې زه د مذهبي چارو پلوي او پالونکی یم. د نصیحت په داسې ناستو کې به ملایانو ته وخت په لاس ورتلی، چې پر خپلو اورېدونکو له بدو شخه د راګرځولو ټینګار وکړي او سخ یې کړي، چې دنیاوي چارې یې له مذهب شخه په لېرې کولو د ځان نه کړي. اولس ته پر مذهبي او سمه لاره باندې د تګ او عمل کولو وايي. ملایانو ته چې یو ځل پر دریځ د خبرو وار رسېږي، نو ځان تر اورېدونکو ورته لوړ او برتر ښکاري، چې زړه یې غواړي؛ هم هغسې ورته ږغېږي. ځکه داسې هیڅ روایت یا دود نشته، چې د وعظ پر مهال او یا وروسته څوک په دې اړه کره کتنه وکړي، نیوکه وکړي او یا پوښتنه وکړي او یا ملا ته د ولې ویلو توان و لري. اورېدونکو به داسې خبرې په مذهبي توګه د ثواب لامل او په پټه خوله اورېدلې، له همدې ذهنیت شخه په ګټه اخستلو ملا اورېدونکو ته هر څه ویل او د هغوی درغلۍ او ناوړي به یې پر لاس ورکولې او له مذهب شخه پر پرته چارو به یې په کلکه غندل.
که څه هم د وعظ بېلبرو یا موضوعاتو به بدلون موندی، خو اړه به یې تل له مذهبي چارو سره وه او په هغه کې به تل د دنیا د فنا کېدلو، دنیاوي چارو ته په پاملرنه له لمانځه، روژې او نورو مذهبي چارو شخه مخ اړول په ګوته کول یې په زړه پورې بېلبرې وې او پر دې خبرو تل ټینګار کېدی، چې خلګو مذهبي چارې ورانې کړې دي، په کار دئ، چې د اسلام سوچه او سپېڅلې بڼه بیرته پر ځای کړل شي.

ketabton.com - The Digital Library



په هندوستان کي چي کله د مغلو زوال پيل شو او له لاسه يې سياسي واک په ورو ورو پر وتلو وو، نو مسلمانانو دغه زوال خپل زوال و ګاڼی او دغه موضوع ملايانو ته په لاس ورغله، چي هغوی د دغه زوال لامل له مذهب څخه لېريوالی و بالی او دا خبره يې په ټينګار کوله، که مذهب د هندوانو له دودونو پاک او وژغورل شي، نو په ژوند کي بدلون را تللای شي. په داسي خبرو کي به سيد احمد شهيد او د هغه پلويان وړاندي وړاندي وو. د دې نصيحتونو داغېز په اړه وايي، چي چېري به ولاړل؛ د خلګو لوی شمېر به پر را ټول شو، په ځانګړې توګه د اسماعيل شهيد ږغا دومره اغېزمنه وه، چي ټولو به ورته ژړل.
د خلګو په زړه پوري موضوعاتو کي يوه دا هم وه، چي ولي په دنيا پسې لېوني يو او ولي په دنيا ټولولو پسې يو، چي ډېره شتمني سړی بېلاري کوي. څرګنده ده، داسي خبرو بې برخي خلګو ته خوند ورکاوه، چي پيسې يې نه درلودې. سيد احمد شهيد او پلويانو يې په داسي توګه شتمنو ته هم تر غاښ لاندي خبره ځکه نه کوله، چي هغوی د خپلي شتمنۍ په ښه توګه کارولو لپاره د دوی مرستو ته را وړاندي شي.
وروسته په پنجاب کي د سکهانو د دولت ناوړي څرګندولو يا په ګوته کولو د ملايانو دې خبرو ته لاره وکړه او مسلمانان يې دې ته اېلول او را پارول، چي د سکهانو په ضد جهاد تر سره کړي، چي خپل مسلمانان ورونه يې د هغوی له زور او زياتوب څخه وژغورل شي او هلته د اسلامي دولت په جوړولو سره شريعت پلي کړل شي.
په همدغه دور کي ايسټ انډيا کمپنۍ په هندوستان کي سوکه سوکه پښې ټينګولې، چي وعظ او نصيحت اوربدلو په خلګو کي په زړه پوري ځای درلودی، هر ملا به په ماجت کي د مذهب په اړه خبري کولې او د خپلو اوربدونکو جذبات به يې پارول او د ټولنيزو ستونزو هوارول يې په مذهبي زدکړو کي ليدل، چي دا رنګه د سياسي تاوتريخوالي په دې

ketabton.com - The Digital Library



چاپېریال کې د عالم او نصیحت کوونکي واعظ ارزښت یو په دوه شوی وو، چې د وینا په زور یې اولسونه اغېزمن کول.

دا رنګه وعظ هم د خلکو لپاره د زړه غوړېدا یوه چاره شوه، چې خلکو یوازې خوند ځنې اخستی، خو د دوی په ژوند او تګلار کې یې د بدلون راوستلو توان نه درلود، نه یې د زوال لاملونه د منلو وړ شول او نه یې د په دې اوښلن یا اوښکې اوښکې دور کې د مسلمانانو لارښوونه په ښه توګه وکړای شوه، ځکه د وعظ اورېدل یوازې تر ثوابه پورې پاته شو.

### ملایان او فتوا (فتوی)

په مسلمان ریاست کې د مفتي دنده وه، چې د قرآن او حدیث په رڼا کې د قاضیانو د لارښودنې لپاره پر بېلا بېلو سیاسي، اولسي او معاشي چارو باندې فتواوې ورکړي، نو کله چې د مغلو واکمني له منځه ولاړه او واک د ایسټ انډیا کمپنۍ ته ورسېد، نو د هندوستان مسلمانان له دې ستونزې سره مخامخ شو، چې دخپلې لارښودنې لپاره په څه ډول فتوا تر لاسه کړي. که څه هم کمپنۍ د خپل دولت په لومړي دور کې د مغل سلطنت کالبوت پر ځای ساتلی وو او مفتیانو ته یې هم معاشي چارې ورکړې وې، خو سوکه سوکه یې د اینګلو سیکسن په قانون پلي کولو شریعت له منځه یووړ.

په یاد چاپېریال کې ملایانو په خپلواکه توګه د مسلمانانو دلارښودنې لپاره د فتواوو ورکولو لاره پیل کړه، خو په دې لاره کې خنډ دا وو، چې د فکر له بېلا بېلو مکتبونو سره اړه لرونکو ملایانو به پر هره ستونزه بېله بېله فتوا ورکوله او داسې به له یو بل سره شخړې را منځته شوې، د ملایانو دغه وېش مسلمانان هم په څو برخو و وېشل. پایله دا شوه، چې د یوې ډلې لپاره به کوم څه قانوني شول؛ د بلې لپاره به هغه ناوړه او غیر قانوني وګرځېدل، تر هغه وروسته د فتوا ځواب په فتوا ورکول

ketabton.com - The Digital Library



پیل شول، چې مسلمان اولس یې له دې اندېښنې سره مخامخ کړي، چې کوم یوه ته سم و وایي او کوم یو ناوړه و بولي.

تر دې وروسته دغه لاره دود شوه، چې هر عالم به د پخلي لپاره خپله فتوا د حجاز ملایانو ته استوله، چا چې به له پخلي پرته پر فتوا باندي خپل مهر و واهه او پر دې بنسټ به د هغې فتوا د سمون پروپاګند په هندوستان کې خور شو، چې له داسې فتواوو څخه په مسلمانه ټولنه کې تاوتریخوالي او بېلتون را منځته شو او خلک له سترو سره مخامخ شول، چې د دې فتواوو په رڼا کې څه رنګه سمه پرېکړه وکړي.

خو په دې دور کې چې څه ډول فتواوې جاري شوې؛ د هغوی په رڼا کې د هغه دور سیاسي، اولسي او معاشي چاپېریال درک کېدلای شي او دا هم اټکل کېدلای شي، چې ټولنه په څومره ګړندیتوب بدلون مومي او ملایان د بدلون موندونکي چاپېریال په پوهېدا کې له څومره ستومانیو سره مخامخ کېدل. د بېلګې په توګه چې کله د کمپنۍ په لومړني دور کې دا پوښتنه را پورته شو، چې هندوستان دارالحرب دی او که دارالامان؟ نو مولانا عبدالعزیز (۱۸۲۴ع مړ) داسې فتوا ورکړه، چې هندوستان که څه هم اوس د مسلمانانو لپاره دارالحرب دی، خو له دې ځایه کډه کول فرض نه دي، چې تر هغه وروسته یې یوه بله فتوا ورکړه، چې په دارالحرب کې سود اخستل او ورکول دواړه روا دي.

د ملایانو ارزښت هغه وخت نور هم زیات شو، چې ایسټ انډیا کمپنۍ خپل عدالتونه پرانستل او د مقدماتو پرېکړې په هغه عدالتونو کې پیل شوې. په دې چاپېریال کې ملایانو دا هڅه وکړه، چې مسلمانان د خپلو شخړو او جګړو هوارولو لپاره له انګرېزي عدالتونو څخه په مخ اړولو دوی ته راشي، نو مسلمانانو هم د لارښوونې لپاره د ملایانو لوري ته مخ کړی، خو له دوی سره اړه لرونکې ستونزې د عقایدو، دودونو، ودونو او طلاق د ستونزو، له کافرانو سره د اړیکو، له مرتد او باغیانو

ketabton.com - The Digital Library



سره د اړیکو، جایداد د جګړو او پلورلو، سیاسي چاپېریال او د هغه په تړاو اولسي ستونزي وي.
د دې ستونزو د هوارولو او ځوابولو لپاره ټولو نوموړو ملایانو دارالافتا جوړي کړې، چي له یادو ځایونو څخه به د لیک او بیان له لاري د ټول هندوستان مسلمانانو ته د مذهب په رڼا کي لارښووني او فتواوي جاري کېدلې. کله چي چاپخونه را منځته شوه، نو د دوی فتواوي هم په چاپېدلو زیاتي خورې شوې او ټولو نوموړو ملایانو په کتابي بڼه د خپلو فتواوو چاپول پیل کړل، چي په داسي توګه د خلکو په اولسي، معاشي او نورو چارو کي لارښوونه تر سره کړای شي.
په هندوستان کي د سیاسي خپلواکۍ لپاره د هلو ځلو په دوران کي ملایان ډېر ګړندي شول او پر سیاسي چارو باندي یې د فتواوو ورکول پیل کړل، چي نور کړکېچ یې هم را منځته کړ. ځکه یوې خوا ته د دیوبند د ملایانو فتوا وه، چي هندوستان دارالحرب دی، نو په کار دئ، چي د انګرېزانو د ایستلو لپاره د هندوانو سره ملاتړ تر سره شي او له همدې کبله یې پلویانو د کانګریس ګډون ته زړه ښه کړ او د پرېدیو د دولت په ضد یې په هر غورځنګ کي برخه واخستله.
احمد رضا خان د دیوبندي ملایانو دغه رایه و نه منله او هندوستان یې دارالامن و ګاڼه، ځکه چي دلته مسلمانانو په خپلواکه توګه خپلي مذهبي چاري تر سره کولې. هغه مسلمانان د هندوانو له مرستي را ګرځول او د خلافت له غورځنګ څخه هم بېل پاته شو. کله چي د دیوبند ملایانو په هندوستان کي د یوې قامي نظریې ملاتړ وکړ، نو د مسلم لیګ ملایانو د دوه قامي نظریې په روا ګڼلو فتوا ورکړه او لاسوند یې وړاندي کړی، چي هندوستان دارالسلام نه شي جوړېدای، نو د پاکستان جوړېدل اړین دي.

ketabton.com - The Digital Library



د پاکستان تر جوړېدو وروسته هم د ملایانو د فتواوو لړۍ روانه ده. خو تر اوسه دا پرېکړه نه ده شوې، چې جمهوریت اسلامي دی که نه؟ د بینکنګ کړنلاره اسلامي ده که نه؟ ګڼ شمېری جماعتي نظام د اسلام په رڼا کي وړتیا لري که نه؟ په اسلام کي کم شمېري څه څه حقوق لري؟ په یاد چاپېریال کي تر سیاست مذهب ارزښتناک شو.

کنې نو پوهنیزه وړتیا یا دانش مندي غوښتنه کوي، چې ستونزي دي د قام او هېواد ګټو ته په پاملرنه یوازي پر سیاسي بنسټونو هواري کړل شي، معاشي چاري دي د ننني او سبانیو معاشي نظریاتو او اندونو په رڼا کي وڅارل شي، که د مذهب په رڼا کي د یادو ستونزو د هوارولو هڅي تر سره شي، نو کېدای شي؛ نور کړکېچ هم را منځته شي.

که وڅارل شي، نو فتوا د ملایانو په لاس کي د اند ښېښني وړ وسله ده او ډېر وخت بېځایه کارول کېږي، هغوی په اساني سره چاته کافر ویلای شي او د نکاح ماتول یې اعلانوي، په کارولو یې د خپلي لاسبرتیا ساتلو لپاره د خلګو مذهبي جذبات پاروي. په عیسویانو کي که پوپ اختیار لري، چې پخپله خوښه هر څوک له عیسویت څخه ایستلای شي، نو دلته هم هر عالم په خپله فتوا یو څوک کافر کولای شي او د هغه د وژلو پرېکړه هم کولای شي.

## ملایان او تعویذ

د لرغوني زمانې په ګڼ شمېر ټولنو کي لیکلو تورو او عددونو یا شمېر نخښو ته د جادو ارزښت په برخه وو او داسي باور جوړ وو، چې په زور یې رنځ یا ناروغي لېري کېدلای او له همدې لاري د اولسي ستونزو او مالي ستړیاوو مخنیوی کېدلای شي، د همدې عقیدې په پالنه موږ تر تعویذه پوري را ورسېدلو، ملایانو او د روحاني علومو پوهانو د اولس و غوښتنو او اړتیاوو ته په کتلو د تعویذ کښلو لړۍ پیل کړه، چې هغوی به د خپلو ستونزو هوارولو او درد د کرار لپاره تریاق غوندي ګڼل.

ketabton.com - The Digital Library



یوه عقیده دا هم وه، چې تعویذ ورکول یوازې د هغه خلګو کار دی، چې ځانګړې وړتیا او ارزښت و لري، ځکه ملایانو پر دې خپله اجاره داري و ساتله او لاسوند یې دا وو، چې د مذهبي وړتیاوو او روحاني ارزښت له کبله دوی د دې وړ دي، چې تعویذ و لیکلای شي او یوازې د دوی په ورکړې تعویذ کې اغېز شته. ځکه ځینو ملایانو او د هغوی کورنیو د ځانګړو ناروغیو او ستونزو په لړ کې د تعویذ په ورکولو سره په ټولنه کې ځانله ځای او ارزښت تر لاسه کړی، تر څو چې به دوی چا ته اجازه ور نکړه، تر هغو به یې تعویذ نه شوای ورکولای. په داسې توګه د تعویذ ورکولو له جوړې که یوې خوا ته د ملایانو او کورنیو اغېز زیات شو، نو بلې خوا ته یې د هغوی مالي ستونزي هم له منځه یووړې.

په هندوستان او پاکستان کې د دې عقیدې ریښې ډېرې ژورې دي، چې تعویذ د ناروغیو، ستونزو او خواشینیو لېرې کولو تر ټولو اغېزمنه لاره ده او په دې لړ کې د ناپوه او لوستي هیڅ توپیر نشته. ډېر لوستي هم په دې باوري دي، چې د تعویذ له لارې به خپلې ستونزې هوارې کړای شي، له همدې جورې په ټولنه کې تعویذ ور کوونکو ته ځانګړې روحاني درناوی په برخه شو او په څنګ کې یې د ناداری ستړې هم هوسا شوه (دې پیسو ته ځکه د فیس پر ځای د شکرانې یا هدیې نوم ورکول کېږي، چې د خلګو په وړاندې د دوی ارزښت ټیټ نه کړای شي او له دوی سره هغه روحاني سپېڅلتوب تړلی پاته شي.

د چاپخونې تر رامنځته کېدا وروسته یو شمېر ملایانو د تعویذونو د کتابونو چاپول پیل کړل، چې په دې توګه تر هر څومره زیاتو خلګو پورې ورسېږي او په دې توګه یې د کتاب پلورنې له لارې هم لاسته راوړنې و درلودلې، خو د اولسونو په لوی شمېر کې د هغه تعویذ په اړه د ډېرې اغېزمنتیا عقیده وه، چې سمدلاسه پیر یا ملا لیکلی وي. مانا دا چې تر چاپ تعویذ د پیر په لاس لیکلی تعویذ خلګو خوښاوی.

ketabton.com - The Digital Library



د تعویذونو له چاپ کتابونو څخه اټکل کېدلای شي، چي په ټولنه کي اولسونه له څه ډول ستونزو سره مخامخ دي او ولي يې هوارول غواړي.
لوی شمېر تعویذونه د ورځنیو ناروغیو په اړه وي، چي په هغوی کي د سر درد، د سترګو او غاښونو درد، تبه، ژړی، کوی او نور،،، بل داسي تعویذونه چي له تجارت سره اړه لرونکي او لوی شمېر خلک يې د ګټې زیاتولو او شتمنۍ تر لاسه کولو لپاره غوښتونکي وي او څه داسي هم وي، چي د پټو شوو خزانو په موندنو کي مرستیال وي.
په دریم ډول کي ښځینه ستونزي راځي، چي تر خپلي میني پوري په څه ډول ورسېږي او د هغه نژدېکت تر لاسه کړل شي او یا نارینه خپله مینه څه ډول د ځان لوري ته اېل کړای شي، څه رنګه ورسره و ويني او څه ډول يې خپله کړي. په دې کي هغه تعویذونه هم وي، چي ماینه يې د خپل مېړه د پوره ملګرتیا او میني ساتلو لپاره تر لاسه کوي او له لاري يې د رقیبانو مخنیوی تر سره کوي.
د تعویذونو په دې لړ کي د نارینه نامردۍ لېري کولو تعویذونه هم ځای لري او په کارولو کي يې لارښوونه ورته کېږي، چي خپله نامردي په څه ډول له منځه وړلای شي، څنګه به جنسي خوند او څه رنګه به په خپل نارینه توب ښځه لاندي کوي.
د داسي تعویذونو یوه ټولګه د نوموړي عالم احمد رضا خان برېلوي (۱۹۱۵ ع مړ) وه، چي سرلیک يې "شمع شبستان رضا" دی. په دې ټولګه کي د ناروغیو، اولسي او معاشي ستونزو د تعویذونو په څنګ کي داسي تعویذونه هم شته، چي لوبي څه رنګه وګټل شي؟ په دې لړ کي د دې کتاب سریزه لیکونکی لیکي: یو ځل د میرټهـ او برېلي سکولونو تر منځ د کرکټ لوبه وشوه، چي د برېلي و لوبډلي ته د بریا هیله نه شوای کېدلای، نو خلکو په دې اړه له احمد رضا خان سره سلا وکړه، هغه ورته و ویل، چي لوبډله دي تر لوبه مخکي دغه دعا و وایي، چي

ketabton.com - The Digital Library



بریا به یې برخه شي او همداسي وشول، چي د برېلي لوبډلي بریا په برخه شوه. دغه دعا په کتاب کي شته، چي کېدای شي، نن یې هم ځیني خلک په کار اچوي. پاکستانۍ لوبډلي ته په کار دئ، چي له دې څخه ګټه تر لاسه کړي.

پر دې سربېره داسي تعویذونه هم شته، چي دښمن څه رنګه و وژل شي او څه ډول پر هغوی لاسبرتیا تر لاسه کړل شي؟

که څه هم د دې تعویذونو په اړه ملایان د منلو او نه منلو په شخړه بوخت دي او ځیني ملایان یې نه مني، خو د تعویذونو غوښتنه هغه وخت زیاتېږي، چي د ټولنیزو اولسي او معاشي ستونزو د هوارولو لاري ډب شي، په ځانګړې توګه په هغه کلیوالو سیمو کي چېري چي د دارو درمل اسانتیاوي نه وي، نه روغتونونه او نه حکیمان او ډاکټران وي.

په داسي چاپېریال کي د خلګو پاملرنه د تعویذ لوري ته اوړي، ځکه په پاکستان کي په کلیوالو سیمو او بانډو کي پر دېوالونو د خبرتیا لپاره داسي خبري لیکل شوي او د کاغذانو له لاري هم خبر ورکوي، چي د تعویذونو له لاري هر ډول ستونزي هوارېږي او د واده په لاره کي د خنډونه په لیري کولو بریا تر لاسه کول، د زوی زوکړه، د مرور مېړه او ماینې پخلاینه او د خوشاله ژوند په لړ کي دې پلاني تعویذ کوونکي ته ځان ورسول شي.

په را روان وخت کي کېدلای شي، چي خلګ د دارو درمل لاره خوښه کړي، ډاکټرانو او یا نیم حکیمانو ته د ناروغۍ په لړ کي پاملرنه وکړي او هم ورشي، خو د اولسي او معاشي ستونزو د نه هواریدلو له جوري داسي ښکاري، چي د تعویذونو لاره به تر ډېره و پالل شي.

ketabton.com - The Digital Library



## ملایان او جدیدیت

په مسلمانه ټولنه کې که څه هم د خپلو ځانګړتیاوو او کردار له کبله د ملایانو طبقه شتون لري، خو پر دې سربېره یې هم د ځان لپاره داسي اداره و نه موندلای شوه، لکه په عېسویت کې د چرچ اداره. ځکه دوی اړ شول، چې د خپلو نظریاتو د پیاوړتیا او پلې کولو لپاره د ریاست ملاتړ تر لاسه کړي، په داسې توګه هغوی د ریاستي کالبوت یوه برخه او اړ شول، چې د واکمنو طبقو ګټې و ساتي، ځکه د ریاستي واک ساتلو په لاره کې د رغېدلو روایاتو او ادارو ملاتړ کوونکي شول او په ټولنه کې د راتلونکي هر ډول بدلون په وړاندې و درېدل، چې له همدې جوري عربي توری "بدعت" (چې د بدلون مانا لري) په ناوړه مانا کارېږي.

د اسلام په لومړي دور کې چې کله شام، عراق او ایران لاندې شول، نو نوو مسلمانانو له ځان سره خپل پلرني او زاړه روایات هم راوړل، چې ملایانو په اسلامي ټولنه کې د نوو کلتوري او اولسي ارزښتونو د ګډون په کلکه مخنیوی وکړ او د دې خبري ملاتړ یې وکړ، چې د عرب کلتور (چې دوی اسلامي بالی) ځانګړني دي پر ځای پاته شي. پایله دا شوه، چې هغه ټول لبرل او روڼ اندي پوهان د زندیق، ماني او مزوک په پلوي ګڼلو یا خو وژل شول او یا یې خوله بنده شوه، چې په هغوی کي له مجوسیت څخه اسلام ته راغلی ابن مقفع هم وو او نوموړی پر عربي ژبه دومره برلاسی وو، چې د ژبنیو څښتنانو تېروتني به یې په ګوته کولې. د ملایانو له داسي چلند څخه د اسلام په لومړنۍ دوره کي هم د مسلمان ټولني د غوړېدلو او خورېدلو مخنیوی و شو او په یوه تاکلي چوکاټ کي و ساتل شوه.

AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



د بدلون او جديديت د همدې مخنيوي له جوري د ملايانو او پوهانو (دانشورانو) داسي منځنۍ نښته پيل شوه، چي په ټول اسلامي تاريخ کي روانه پاته وه او نن هم روانه ده. دا چي هغوی د دولت د انتظاميې يوه برخه وو، نو هغه ځانګړي شخصيات او غورځنګونه (چي د بدلون خوښوونکي اوراوړونکي وو) يې تل له پښو اچولي او له منځه وړي دي؛ د بېلګي په توګه د معتزله غورځنګ تر هغه وخته پوري خوندي پاته وو، چي مامون خليفه يې ملاتړ کاوی، خو څه وخت چي د رياست له ملاتړ څخه بې برخي شول، نو ملايانو هغه غورځنګ له بېخه وکښی.

په اسلامي ټولنه کي څه روښ اندي او له رواياتو څخه ياغيان لکه ابنِ سينا، ابنِ رشد او رازي ځکه خوندي پاته شو، چي يا خو د واکمنو او يا بيا د زورورو خلکو لاس پر پراته وو، کنې نو ملايانو خو د هغوی په ضد فتوا ورکړې وه. په هندوستان کي هم دغه څه د ابوالفضل له کورنۍ سره تر سره شول، چي ملايانو يې ژوند نه غوښت او لامل يې يوازي دا وو، چي مذهبي نظريات يې له دوی څخه بېل وو. هغوی هم ځکه ژغورل شول، چي وروسته يې د واکمنو ملاتړ په برخه شو. د بدلون په کړنلاره خپلولو په ايران کي رضا شاه پهلوي او په افغانستان کي امير حبيب الله د سمونچارو د پيل هڅي وکړې، خو دې دواړو شخصياتو کي خپلي ګټي پاللې او بيا د ملايانو وغبرګون ته و نه دربدلای شول او سمونچاري يې هم ډېر ژر له منځه ولاړې.

**لوېديځواله (مغربيت)**

په مسلمان هېوادونو کي جديديت له لوېديځ سره تړل کېږي، چي په دې توګه يې د نه خوښوني بېلا بېل لاملونه را منځته شي، لوی شمېر مسلمان هېوادونه د لوېديځو هېوادونو نوآباديات پاته شوي دي او پر هغه مهال يې ځايي کلتور او روايات له نوآبادياتي چارو څخه ډېر ځپل شوي دي، ځکه خو له لوېديځ څخه د نوآبادياتي اولسونو رويه بېخي

ketabton.com - The Digital Library



کر کجنه او په هره توګه یې دښمنان ګڼل» تر خپلواکي وروسته هم په دې هېوادونو کې د لوېدیځ دښمنۍ جذباتو ښځي اولسي بنه درلوده او په دې جذباتو پارولو او بورژنولو کې واکمني طبقې هم لوی لاس لرلی دی، چې په همداسي توګه یې د جمهوریت، لبرل ازم او روڼ اندو نظریاتو په مخنیوي د زورواکۍ دولت ته لاره پرانستې ساتلې ده.

«ملایانو د لوېدیځ په وړاندي مقاومت کي ځکه زیاته برخه واخستله، چې د هغوی په دوره کي یې اولسي او معاشي ارزښت ډېر ځپل شوی وو، ځکه یې د لوېدیځ په نه خوښولو کې یوه ټاکلې تګلاره پلي کړه او د لوېدیځ تهذیب، کلتور او نظریات یې د پرېدي په توګه وړاندي کړل، چې د مسلمان ټولنیز روایاتو په ضد دي او داسي یې جمهوریت، لبرل ازم او سېکولر ازم په اسلام دښمنه ګڼلو د هغوی په ضد پروپاګند تر سره کړ او ټرون یې له الحاد سره ورکړی. مرام یې دا وو، چې په مذهبي جذباتو پارولو سره د لوېدیځ د پر مختګ خوښوونکو نظریاتو مخنیوی وکړل شي او په داسي چاره کي د دوی او د واکمنو طبقو خیالات سره ورته شول، چې دغه یووالي له زورواکو دولتونو سره ملاتړ وکړ او هغوی ته یې ټینګتیا او پیاوړتیا ور په برخه کړه.»

پر دې سر بېره ملایانو د لوېدیځ تهذیب له اخلاقو پرته ګاڼه او دا خبره یې په ټینګار کوله، چې په لوېدیځ ټولنه کي د نارینه او ښځي تر منځ هیڅ ډول توپیر نشته، جنسي ملتیا او لیدنو په هغوی کي بې شرمۍ او لځوالي ته وده ورکړې ده. د لوېدیځ یوه عالم عبدالسلام پر لوېدیځ تهذیب په نیوکه کولو ولیکل، چې هغوی زنا کول، الحاد، بې شرمي او لځوالی، اولاد له منځه وړل او سود اخستل روا او قانوني کارونه بللي دي، چې په دوی کي د ملحد او ایمان لرونکي هیڅ توپیر نه دی پاته او نه د چرچ او چکلې جوړوونکي توپیر پکښې ښکاره دی.

ketabton.com - The Digital Library



دغه تګلار ټولو ملایانو پاللې ده او د لوېدیځ تهذیب په ضد د هغوی پرو پاګند هم دا دی، چې په اخلاقي توګه بېلاري خلګ دي او په دې لړ کې هغوی په خپلواکه توګه د جنسي تړاو ساتل تر ټولو زیات غندي.
خو بل اړخ ته زړه وړونکې خبره دا ده، چې کله دوی لوېدیځ ته ځي او د هغوی سپا ژوند، ایمانداري او پېیلی ژوند ویني، نو و لوېدیځ ته د دغه ویاړ ورکولو پر ځای وایي، چې لوېدیځوالو د هغه اسلامي تګلارې په خپلولو ژوند ښکلی کړی دی، چې مسلمانانو پرې ایښې ده.
د دې پروپاګند پایله دا ده، چې لوېدیځ ځپلی یا آزاد خیاله زموږ په ټولنه کې په ناوړه مانا کارېږي او د سپکاوي په توګه کارېږي او کومو کسانو چې د لوېدیځ خویونه خپل کړي وي، مانا لوېدیځ ځپلي وي؛ له ځانه بېل او له ټولنې یو ډول سر غړوونکي ګڼل کېږي، چې د خپل کلتور او روایاتو په پرېښوولو یې د دښمن کړه وړه خپل کړي دي، نو ځکه چې کومې ښځې د خپلو حقوقو لپاره ږغ پورته کوي؛ د هغوی جګړه هم د خپلو ارزښتونو او روایاتو په ضد او تر سره کوونکې یې په ذهني توګه مریان بلل کېږي، چې داسې ښځې (لوېدیځ ځپلې) ګڼل کېږي او له ټولنې څخه د سر غړونې په تور یې له حقوقو څخه یوازې دا نه چې مخ اړول کېږي؛ بلکې مخنیوی یې هم په دې توګه کېږي، چې دا ښځینه غوښتنې زموږ د کلتور او روایاتو سره سمون نه لري.
همدارنګه دولتي جمهوري نظام او روڼ اندي نظریات له دې غبرګون سره مخامخ دي، چې ملایان یې په لوېدیځ ډوله بللو ردوي او له پامه یې غورځوي او د دې لارو او اسلام تر منځ توپیرونه په ګوته کوي. د ملایانو وینا ده، که چېرې دغه نظریات خپل کړل شي، نو زموږ پېژند به له منځه ولاړ شي او موږ به په داسې کلتوري بهیر ګډ شو، چې هغه زموږ لپاره پردی دی.

ketabton.com - The Digital Library



## ملایان او لوېدیځواله ټیکنالوجي

ملایان له لوېدیځ تهذیب او د هغوی له نظریاتو او افکارو سره تړاو نه خوښوي، خو کله چې د لوېدیځ ټیکنالوجۍ او پنځوونو (ایجاداتو) خبره راشي، نو بیا دا خبره هېروي، چې دا خو هم د لوېدیځ تهذیب لاسته راوړني او زموږ د دښمنانو زیار دی. دا چې د پنځوونو اړه له وګړنیزو یا انساني اسانتیاوو، سوکالۍ او هوساینې سره وي، نو ملایان یې اوس پر کارولو هیڅ ډول نیوکه نه کوي.

که څه هم ملایانو ته درک نه ورکوي، چې د دې ساینسي پنځوونو شا ته لاملونه څه دي او یا د دوی جوړښت او هنري چارې څه دي؟ خو پنځونې د دوی لپاره ځکه د ګټې وړ ګرځېدلي دي، چې له لارې یې دوی د خپلو نظریاتو او خیالاتو خوروول او پروپاګند تر سره کوي. لاوډ سپیکر چې په لومړي سر کې حرام ګڼل شوی وو؛ اوس هغه هم د ملایانو لپاره یوه داسې آله ده، چې له لارې یې دوی خپلې ښوونیزې زدکړې په زور هم تر کلیوالو پورې رسوي او له کبله چې یې کوم ځوړ او پر غوړونو باندې درونډ پر ېوتونکی ږغ خورېږي؛ هغه روا بولي، ځکه چې د مذهب لپاره یې کاروي، چې د اولسي غبرګون له وېرې د داسې چارو په ضد ځوک د ږغ کولو زړه هم نه شي کولای.

کېسټان (پیټې) وډیوز او داسې نورې لوېدیځوالې پنځوونې دي، چې مذهبي ملایان یې په کار را ولي او له لارې یې د هېواد تر هره کونجه او ګوښې پورې خپل پیغامونه رسوي، چې د ایران د شاه په ضد و کارول شوې او د خمېنې د لارښوونې پیغامونه یې تر ایرانیانو پورې و رسول.

په یورپ کې د ساینس او ټیکنالوجي تر منځ او د اولسي، کلتوري او معاشي نظریاتو تر منځ یو ډول تړون دی، ځکه هلته نوې پنځوونې د اولسونو زیاتېدونکې او غوړېدونکې اړتیاوې ور پوره کوي، چې داسې پنځوونې په پرمختګ کوونکې ټولنه کې د نور پرمختګ نخښې ګڼل

ketabton.com - The Digital Library



کېږي، خو په شاته پاتې ټولنو کې همداسې پنځوونې (ایجادات) د زور پالو په لاس د کنبپوتلو له جوړې ټولنه نوره هم شاته پاتې کوي.
په داسې ډول یوې خوا ته ملایان د لوېدیځ پنځوونې د خپلو اسانتیاوو هوساینو او پروپاګند لپاره په کار اچوي، خو بلې خوا ته یې د همدې نظریاتو او فکرونو د جوړ سیاسي نظام نا منونکې دي، چې له کبله یې لوېدیځ یوازې دا نه چې په اولسي او معاشي توګه بلکې په ساینسي توګه هم پرمختګ وکړی او له همدې کبله شونې شوه، چې داسې پنځوونې یا ایجادات وکړي. که چېرې لوېدیځه ټولنه جمهوري، سېکولر او لبرل نه وای؛ په ساینسي توګه یې داسې پنځوونې نه شوای کولای «ساینس پوه وي او که روڼ اندی؛ د پنځوونې لپاره اړینه ده، چې هغه ته د زغم او خپلواکۍ چاپېریال ور په برخه کړل شي.»
«زموږ د ملایانو خیال دی، چې د لوېدیځ ژوندانه نظام او ساینس او ټیکنالوجي دوه بېلا بېل شیان دي، نو په کار دئ، چې یو رد کړل شي او بل خپل کړل شي، خو که موږ یوازې ټیکنالوجي خپله کړه او ذهني پرمختګ ته مو پاملرنه و نه کړه، نو دا به زموږ ټولنه د لوېدیځ غلامۍ ته اړ باسي او په دې ډول به خپله ورتیا هم را سر بېره نه کړای شو.»

لوېدیځ پرمختګ کوي په خپلو پنځوونو، خو ښه نه پاتې لني لوري هم پسې پاتې کیږي، څکه حالت ډېر خراب دی.

SCAN AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



## ملایان او اولسي ښېګړه

د ایسټ انډیا کمپنۍ د واکمنۍ پر مهال په هندوستان کي د عېسوي مبلغینو چارو پیل و شو، چي له کبله یې په هندوانو او مسلمانانو کي د خپل مذهب ساتني جذبه را و پنځوله. د همدې مرام لپاره د دواړو مذهبونو ملایانو که یو اړخ ته مذهبي پېیوونونه جوړ کړل، نو بل اړخ ته یې د خپلي مذهبي رښتینوالي جوتولو لپاره د مناظرو یا وراشو لړۍ پیل کړه. دوی که څه هم له عېسوي مبلغینو دا زدکړه وکړه، چي د مذهب خوروني او ساتني لپاره په پېیلي ډول کار تر سره کول په کار دي، خو د مبلغینو د اولسي ښېګړي اړخ یې له پامه ایستلی وو.

د بېلګي په توګه عېسوي مبلغینو د اولسي ښېګړي کارونه د دې لپاره وکړل، چي له اولس سره یې په تړاو ساتلو د هغوی خواخوږي تر لاسه کړي، خو دا هم رښتیا وه، چي د اولسي ښېګړي په کارونو کي پر تبلیغ سربېره د انساني خواخوږۍ جذبې هم ګډون درلودی، هغوی چي د زدکړو او روغتیا په لړکي کوم ځانګړي کارونه تر سره کړل؛ ګټه یې غریبانو او بېوزلو ته و رسېده، چي تر دغه وخته پوري یادي شوي اسانتیاوي یوازي د شتمنو او امیرانو په برخه وې.

د مبلغینو د اولسي ښېګړو له کارونو څخه په هندوستان کي د اولسي ښېګړي روایتي دود او تصور بېخي و ځپل شو، ځکه تر دا وخته پوري د خلګو مرسته کول پر هغوی باندي د زړه سوي له لاري تر سره کېدله او هغوی ته چي څه ورکول کېدل؛ د خیرات بڼه یې درلودله، ځکه غریبانو او بېوزله خلګو ته د خپلي ناداري او اړتیا احساس کېدی، د داسي ټولنیزو ادارو بنسټ هم نه وو، چي د خلګو اړتیاوي پوره کړي او د وګړي تر ارزښت د اداري ارزښت زیات وي.

ketabton.com - The Digital Library



دلته پوښتنه را منځته کېږي، چې د عیسوي مذهب د سرمشرانو او مبلغینو غوندي زموږ ملایانو د اولسي ښېګړو چارو ته ولې ارزښت ور نه کړی او خپل ټول وس یې د مذهب ساتنې او تبلیغ په کار واچاوی؟

د دې لامل د عیسویت او اسلام په بنسټ کې دی. عیسویت د رومي امپایر تر سیوري لاندې و پنځېدی او منونکي یې هم د هغه دور غریب او بېوزله اولس وو، ځکه د بېوزلو احساسات یې په خټه اخښلي دي، خو اپوته اسلام د سوبو او زور په سیوري کې وده وکړه او سوبمنو د توري په زور خلک نه دي مسلمانان کړي؛ بلکې هغوی پخپله ځکه اسلام ته راغلل، چې په دې کې یې ګټې وې، ځکه د تبلیغ په لاره کې له یو بل څخه توپیر لري. عیسویانو په اړتیاوو پوره کولو غریبان د ځان کول غوښت او مسلمانانو د خپل مذهب په رښتینوالې جوتولو خلک خپل لوري ته را بلل او پلویان کول

په اسلام کې یوازې د دین زدکړې وې، چې همدا یې د پېښې یا کار په توګه خپلولې. خو اپوته په مبلغینو کې ډاکټران، انجنیران، ساینس پوهان او له بېلا بېلو څانګو سره اړه لرونکي وو، چې د خپلو هنري وړتیاوو او مذهب په ملتیا یې له اولس سره تماس تر سره کاوه. که څه هم د دوی په پلویتوب د دې هڅه وکړل شوه، چې ملایانو ته یو هنر ور زده کړل شي. خو په دې لړ کې چنداني بریا تر لاسه نه شوه، لکه د دیوبند په پیلیزو وختونو کې لوستونکو ته د بېلا بېلو هنرونو روزنه هم ورکول کېدله. خو لوستونکو د ځان وړ و نه بلله او د زړه په غوښتنه یې کار نه کاوی، چې له جوړې یې دا لړۍ پر ېښوول شوه.

زموږ په ملایانو کې تر زدکړو وروسته یو ډول لوینبت (رعونت) راځي او د خلکو په ناپوه او له مذهب څخه په لېرې ګڼلو یې له هغوی څخه یو ډول بد راځي، چې د دوی او اولس تر منځ ورو ورو لېرېوالی را ولي، ځکه یې ټوله پاملرنه همدې ته وي، چې خلک د دین لارې ته را وبولي

AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



او د دې مرام لپاره هيڅ دا لاره نه خپلوي، لکه عيسوي مبلغينو چې خپله کړې ده، مانا د اولسي ښېګړي په چارو کي برخه اخستل.
له نوآبادياتي دور څخه ملايانو تر مذهب وروسته په سياست کي برخي اخستلو ته زړه ښه کړ، ځکه د دوی خيال وو، چې شريعت د زور او واک تر لاسه کولو وروسته پلي کېدلای شي. په پيل کي يې په نورو سياسي ګوندونو کي ګډون وکړ او وروسته يې خپل سياسي ګوندونه جوړ کړل. د مذهب او سياست په دې ملتيا کي هغوی اولسي ښېګړه بېخي له پامه وايستله.
تر پاکستان جوړېدلو وروسته هم د دغه ديني سياسي ډلو کړنلاره ده، چې څه ډول واک تر لاسه شي او خپل مرام ته د رسېدلو لپاره هغوی په دې ناره باندي چې "اسلام له اند ېښنې سره مخامخ دی" د اولسونو جذبات را و پاروي، خو د اولسي ښېګړې له لاري او د خلګو په چوپړ تر سره کولو يې د هغوی د ملاتړ تر لاسه کولو هڅي نه دي کړي. د دې په شاليد کي چې کوم ذهنيت کار کوي؛ هغه دا دی، چې ملايان ځانونه لاربښود او مخور بولي او دا هيله لري، چې اولس د دوی چوپړ و وهي، د دوی لپاره بلهاري او قربانياني ورکړي او پالنه يې تر سره کړي، ځکه د دوی په خيال لاربښود کله هم د چا چوپړي نه وي.

زموږ دې دزادی وستی؛ قربانۍ ورکړې؛ ملاتړ مو وکړ، خو د ښېګړې کار له موږ نه غواړي.

AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



## مسلمان امت

په هر مسلمان هېواد کې چې کله ټولنه له تاو تریخوالي او کړکېچ سره مخامخ شي، یا له د باندینیو او کورنیو اندېښنو سره لاس او ګرېوان شي، نو د ټولو مسلمانانو هېوادونه یووالی ور په زړه شي او وایي، چې مسلمان قامونه دي د تېر په څېر یو امت جوړ شي. په دې لړ کې تل دا لاسوند وړاندې کېږي، چې په تېرو وختونو کې مسلمان یو قام وو او تر څو چې یو موټی وو؛ نو پر نړۍ یې واکمني وه، خو کله چې د منځني کړکېچ له جوړې بېلتون راغلی، نو امت سره و پاشل شو او د زوال لامل یې همدا وو. نو د زړه خبره یې داوي، چې د تېر په څېر د نیل دریاب له خنډو د کاشغر تر مځکو سره یو شي، نو انقلاب راوستلای شي.

د مسلمان امت او یووالي په لړ کې موږ د تاریخي تېروتنو په غېږ کې پایو. د مسلمان امت لومړنی دور هم د اوس په څېر د کورني کړکېچ سره مخامخ پاته شوی دی، سیاسي ډلو جوړولو، د عقایدو بېلتون، اولسي او سیاسي شخړو تل ببل ساتلي او وېشلي دي هو! داسي شوي دي، چې په دباندیني توګه د معاشي او سیاسي ګټو لپاره دغه ډلي او ډلګۍ له یو بل سره تړلي پاته شوي دي، خو د ګټو له منځه تللو سره سم د مسلمان امت یووالی له منځه تللی او خواره واره شوي دي.

د مسلمانانو لومړی دور هغه وو، چې د عربیانو یووالي تر سره شو او د قبیلوي پېژند په بې سبکه کېدلو سره په هغوی کې د اسلام له لاري د عرب په نوم پېژند تر سره شوه. خو کله چې شام، عراق او ایران لاندي شول، نو د یادو ځایونو خلګو تر مسلمانېدلو وروسته په مسلمان امت کي ګډون غوښت، چې د عربیانو له خوا د کلک غبرګون سره مخامخ شول او عربیانو نه غوښتل، چې دوی ته هم د ځان په سیالي اولسي

ketabton.com - The Digital Library



ارزښت ورکړي» له همدې جوړې د عربيانو او نورو تر منځ د بېلتانه کرښه را کښل شوه. په يادو نورو کې لوی شمېر د ايرانيانو وو، چې د عربيانو په ضد يې د شعوبيه يا قوميت غورځنگ تر سره کړی، چې له همدې لارې يې د عرب په لاسبرتيا ردولو خپل کلتوري پېژند پياوړی کړی. په ايرانيانو کې د قوميت دغه جذبات هغه وخت هم پاته وو، چې د عرب واکمنۍ دوره له عباسي زوال سره له منځه ولاړه او پر ځای يې د ايرانيو او ترکي کورنيو واکمني را منځته شوه. د يادو دولتونو له را منځته کېدلو سره د ايران قامي غورځنگ نور هم را سربېره او گړندی شو او روس د عربيانو سياسي او نژادي لاسبرتيا له منځه يووړه.

«د دې جذباتو ځرگندونه فردوسي په شاهنامه کې کړې ده، چا چې د ايران د لرغونو باچهانو په تاريخي ژورليد سره د ايرانيانو تاريخي شعور ځرک او پوهنيز کړی، هغه د عربو په سوبه د ايران يادونه په ډېره ژوره خواشيني سره کړې ده، ځکه خو د فردوسي شاهنامه د لوړې ايرانی طبقې لپاره وياړ وړ وگرځېدله، چې دوی ته قامي وياړ او ياد پاته شو او اکبر دوی خوندي کړل، په دربار کې يې دوی ته په پوره توگه د خپلو نظرياتو وړاندي کولو لار پرانستې وه، خو د اکبر له مرگه سره سم لبرل ازم او پرمختگ خوښوونکي نظريات هم له منځه ولاړل.»

ملايانو يوازې دانه چې لبرل او پرمختگ خوښوونکي خيالات نه منل: بلکې هغوی د بېلا بېلو مذهبي فرقو په مذهبي عقيدو کې د بدلون لار هم وغندله، لکه په هندوستان کې د مهدي جونپوري غورځنگ چې د سمونچارو او ودې لپاره يې پيل کړی وو. پر هغه باندې ملايانو کلکې نيوکې وکړې او له پلويانو سره يې ډېر زياتوب او تېری تر سره شو. پايله دا شوه، چې داسې غورځنگونو په پټه خپلو چارو خورولو ته زړه ښه کړی او خپلې ليکنې يې هم په پټه خورولې. د بېلگې په توگه د اخوان الصفا ليکوالو چې د عقليت خورول يې تر سره کول او پر بېلا

AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



بېلو بېلبرو یا موضوعاتو یې و لیکل، هغوی خپل نومونه پټ و ساتل، چې د ملایانو له غبرګون او شره خوندي پاته شي.

ځکه چې په تېرو وختونو کې شوي دي؛ هغه نن هم تر سره کېږي. په مسلمان ریاستونو کې چېري چې د جمهوریت بوی نشته؛ هلته یا خو بادشاهت دی، یا زورواکي او پوځي واکمني. نو دا د هغوی اړتیا او ګټه ده، چې د مذهب په نوم د ملایانو ملاتړ وکړي او د هغوی په لاسوند د اولسونو په وړاندي د دوی واکمني روا او قانوني و ګرځول شي او دلته د یادو دولتونو او ملایانو ګټې سره یو کېږي. ځکه چې دواړه جدیدیت او د بدلون تګلاره د ځان په تاوان ګڼي او د مذهب په نوم یې مخنیوی تر سره کول غواړي. تر لومړۍ ستره جګړه وروسته په ترکیې کي د دې په ضد کمال پاشا ګامونه واخستل او د خلافت او سلطنت په نوم او نښان له منځه وړلو یې د ملایانو واک له منځه یووړی او د سېکولر ترکي بنسټ یې ایښی وو، چې تر اوسه پوري په څه نه څه بڼه روان پاته دی.

وروسته یې پر عرب کلتور باندي د خپلي کلتوري وړتیا هڅې وکړې او د مولانا رومي مثنوي ته یې "په پهلوي ژبه قرآن" و وایه، ایرانیو پوهانو د لرغوني ایران په لوړتیا او ارزښت پالنه د خپل پېژند لټون تر سره کړ او په دې ډول پر مسلماني سربېره عرب او ایراني بېل قامونه پاته شو.

دغه چاره په نورو قامونو او نژادي ډلو کي هم تر سره شوه، چي هغوی تر مسلمانېدلو وروسته هم کلتوري روایات له اسلام سره په نښلون و ساتلای شول، ځکه خو اسلام په بېلا بېل کلتوري چاپېریال کي وده وکړه، چي په همدې شالید کي یې جوړښت او بڼې څه نه څه بدلون موندلی دی او په هر اسلامي هېواد کي اسلام په بېله کلتوري بڼه کي شته او هر قام د مذهب پر یووالي سربېره هم خپل پېژند ساتلی دی.

کله چي په نوآبادیاتي دور کي مسلمان هېوادونه د یورپي هېوادونو نوآبادیات شول، نو په ضد یې جمال الدین افغاني د پان اسلام ازم په

ketabton.com - The Digital Library



نوم غورځنګ را پورته کړی، چې مرام يې د ټولو مسلمانانو په يووالي د يورپې ځېښناک په ضد هلې ځلې کول وو، دا چې هغه وخت د منځنې ختيځ هېوادونه د عثماني دولت تر سيوري لاندې وو، نو د پان اسلام ازم غورځنګ ورته ګټمن وو، چې په داسي توګه به عرب هېوادونو د لوېديځ په ضد د عثماني دولت ملاتړ کاوه، خو دا غورځنګ پخپله هم د هغه عربو هېوادونو لپاره "چې د عثماني دولت تر سيوري لاندې وو او هغه يې يو نوآباديات واک ګاڼی" ګټمن نه وو او له دې لارې به دوی د عثماني دولت منلو ته اړ وو او د هغوی په ضد به يې هيڅ ډول مقاومت ځکه نه شوای کولای، چې هغه مسلمان وو او د خليفه په ضد بغاوت د مذهب په ضد د بغاوت په مانا وو، ځکه هغوی د پان اسلام ازم په ردولو د قام پالنې لاره خپله کړه، چې د ټولو عربيانو په يووالي له عثماني خلافت څخه د خپلواکۍ لپاره جګړه تر سره کړي.

تر دويمه ستره جګړه وروسته چې مسلمان هېوادونه خپلواک شول، نو هغوی پريورپې ډول باندې قامي رياستونه جوړ کړل او داسې په جغرافيايې توګه بېلا بېل قامونه شته شول. د قوميت د جوړښت په دې بهير کې مصري، عراقي، مراکشي او ايراني ځانله پېژند لري او مذهبي پېژند يې تر دې وروسته راځي.

دا چې هر قام خپلې ګټې لري او خوندي کول يې غواړي او تر خپلو ګټو په تېرېدلو تاوان نه وړي، نو په همدې شاليد کې چې کله د مصر انور سادات وليدل، چې د مصر ګټه د اسرائيل په منلو کې ده، نو هغه د نورو اسلامي هېوادونو د جذباتو پروا و نه کړه او نن نور عرب هېوادونه هم د خپلو ګټو لپاره د اسرائيل منلو ته چمتو دي او په دې لړ کې د فلسطيني اولس پروا نه ساتي.

د مسلمان امت د يووالي خبره يوازې زموږ د ذهنونو تصورات دي، چې هيڅ رښتيا نه لري، دا نه خو نن شته او نه په پخوانيو وختونو کې وه.

ketabton.com - The Digital Library



## د ټولنيزې تګلارې ټاکنه (انتخاب)

(په اسلامي ټولنيز تاريخ کې موږ له درې ډوله تګلارو سره مخامخېږو، شريعت، طريقت او روڼ اندي) ملايانو له پيل څخه په دولت کې د ګډون له لارې يا له دولت څخه په دباندې اوسېدلو هم د دې هڅه وکړه، چې په اسلامي ټولنه کې شريعت پلي کړل شي. په دې لړ کې د هغوی رويه تل تونده پاته شوې ده او په زور او جبر يې د شرعي قوانينو پلي کول غوښتي دي، ځکه د ملايانو ذهن چې په څه ډول ځانګړې چوکاټ کې وو، له هغه څخه وتلو ته په هيڅ ډول چمتو نه وو او د وخت له بدلونونو، غوښتنو او ستونزو سره نا اشنا وو، چې له همدې کبله د واکمنانو او دوی تر منځ شخړې وې. لامل يې دا وو، چې د واکمنانو چارې ښخې ښلي وې او د واکمنۍ ساتلو لپاره يې د اولس خوشالولو او په هېواد کې د امن ساتلو لپاره داسې چارې تر سره کولې، چې هغه به د شريعت په ضد وې، ځکه يې له ملايانو سره د روغې جوړې لاره خپله کړې وه او هغه دا چې په مذهبي چارو کې يې هغوی ته اختيارات ورکړي وو، خو په سياسي چارو کې يې خپله لاسبرتيا ساتلې وه. د بېلګې په توګه علاوالدين باغيانو ته درنې سزاوې واورولې، چې کله د نوموړي د دربار قاضي مغيث دغه سزاوې د شريعت په ضد وګڼلې، نو باچا ورسره ونه منله او د بغاوتونو له منځه وړلو د پاره يې د سزاوو ورکول اړين و بلل.

همدا لامل وو، چې باچهانو د خپل برم او پرتم ساتلو لپاره د ايراني بادشاهت نظريه خپله کړه، په دې لړ کې يې د شريعت پروا ونه ساتله. همداسې تګلار يې له غير مسلمانانو سره ساتله، چې کله به يې هغوی ته اړتيا شوه، نو په دولت او واک کې يې ګډون ته را بلل. په هندوستان

ketabton.com - The Digital Library



کي مسلمان واکمنان څکه په واکمني بريالي وو، چي هغوی د ملايانو د لارښووني پر ځای په ټوليزه توګه د واکمنۍ لاري چاري و پاللې او په دې توګه يې خپل دولت پر سېکولر بنسټونو پياوړی کړی، څکه کومو واکمنانو چي دغه لاره نه ده پاللې، نو د هغوی په وخت کي هېواد له سياسي کړکېچونو سره مخامخ شوی دی. د بېلګي په توګه فېروز شاه تغلق او اورنګ زېب چي جزيه پلي کړه، نو په ټولنه کي تاوتريخوالی را منځته شو، چي پايله يې د سياسي ورانۍ په بڼه کي تر سره شوه.

د هندوستان دوو لويو باچهانو علاوالدين او اکبر په څرګنده توګه د شريعت په پرېښوولو خپلي کړنلاري د چاپېريال د غوښتنو په شاليد کي تر سره کړې، لامل همدا وو، چي د دوی په دولتي دورو کي کومه پياوړتيا او خوشالۍ وه؛ د نورو په وختونو کي نه وه. هغوی په ځانګړې توګه د ملايانو اغېز له منځه يووړی او سلطنت يې يوازي پر سياسي بنسټونو و ساته، خو نورو واکمنانو له دوی سره د روغي جوړي لاره و ساتله او په سياسي چارو کي يې لاسوهني ته نه پرېښوول.

(ملايان د هندوستان په تاريخ کي تل د تاوتريخوالي او کړکېچ لامل ګرځېدلي دي، هغوی هڅي کوي، چي مذهب پر سياست لاسبری و ساتي، څکه چي کله هم لاره ورته پرانستې وي، نو د دولت په رغولو کي يې برخه اخستې ده. دا چي په منځنيو پېړيو کي باچا هر څه ګڼل کېدی، نو څکه داسي پامېدله، چي باچا که مذهبي خيالات و لري، نو بشپړه ټولنه ورسره بيولای شي، څکه دغه ملايان چي د محمد تغلق له سمونچارو او د هغه له مذهبي خيالاتو تنګ شول، نو د هغه په ضد يې په بغاوتونو کي پوره برخه واخستله او تر هغه وروسته يې د فېروز تغلق په باچا کېدلو کي په دې هيله ملاتړ وکړی، چي د دوی کړنلاري به پلي کړي، خو د ځينو باچهانو په دور کي ملايانو په دولت او رياست

ketabton.com - The Digital Library



کي هيڅ لاسبرتيا ځکه ونه لرلای شوه، چي د دولت لپاره د کوم زغم اړتيا واکمنانو درلوده او غوښته؛ هغه په ملايانو کي نه وه.

هو! ډېر وخت باچهان د ملايانو له جوري د خواشينيو سره مخامخ شوي دي، چي لوی لامل يې د مذهبي کړکېچ او فرقه وارانه چاپېريال را منځته کول وو او هغه داسي چي کله به مسلمانانو د تبليغ په جذبه تر خپلو اختياراتو په اووښتلو څوک په جبر او زور مسلمان کړی، نو د دوی او هندوانو تر منځ به تاوتريخوالی زيات شو. د بېلگي په توگه په ۱۶۶۹ع کي قاضي په سورت ښار کي هڅه وکړه، چي د هغه ځای تاجران مسلمانان کړل شي او مندرونه يې و نړول شي، هغه يو هندو منشي سنت (ختنه) هم کړی، چي له جوري يې د سورت په هندو تاجرانو او هندو آبادي کي ژوره وېره ترهه خوره شوه او په احتجاجي توگه هندوانو دکانونه بند کړل او د سورت ښار په پرېښوولو بل ښار ته ولاړل او ورسره يې اورنگ زېب ته په ليک استولو ټولي پېښي و ليکلې، چي په غبرگون کي باچا و قاضي ته سپکي سپوري و ويلې او هندوانو ته يې باور ورکړی، چي بيا به داسي نه کېږي.

«د خلگو په زور او جبر مسلمانول، د هندوانو ښځو وړل او واده ورسره کول او بيا مسلمانول، د نوو مندرونو نړول هغه لاملونه وو، چي فرقه وارانه او مذهبي کړکېچ يې را منځته کولې او په داسي چاپېريال کي به دولتي اداري له ستونزو سره مخامخ شوې، چي په څه ډول امن پر ځای و ساتي. که څه هم ډېر وخت به چارواکو له مذهبي جذباتو په ځان ساتلو يوازي په سياسي تگلاره پاللو پرېکړې کولې، خو کله کله به مذهبي کړکېچ هم را منځته شوې، چي په ټولنه کي د مذهبي کړکو لامل گرځېدلې.»

ketabton.com - The Digital Library



همدې ته په کتلو سره مسلمان واکمنانو کله هم په هندوستان کې د تبليغ په دولتي توګه پالنه و نه کړه او هڅه يې هم کوله، چې د هندوانو په مذهبي چارو کې لاس وهنه و نه لري.

(په اسلامي ټولنه کې د ملايانو د توندوالي او لنډوينې په ضد صوفيانو بغاوت وکړ، چې د شريعت په وړاندې يې د طريقت لاره خپله کړه، په هغوی کې د جبر او زور پر ځای د يو بل زغملو توان وو، خو په يوه توګه صوفيانو له شريعت او د هغه له نظامه بغاوت و نه کړی؛ بلکې له هغه نظام سره په څنګ کې د بل نظام او د هغه له بدلون څخه پرته يې بل نظام غوره کړی، چې و خلګو ته يې له تاوتريخوالي په ژغور سره د زړه کرار ورکاوه، خو هغوی نه د سياسي نظام په وړاندې و درېدل او نه يې پر شريعت په کلکه نيوکې وکړې؛ بلکې له هغوی څخه په بېلبېلو يې ځانله د هوسايني لاره و لټوله، چې خلګو ته يې دمګړی سوکالي پېرزو کوله، خو په ټولنيز ژوند کې يې هيڅ ډول بدلون را منځته نه کړی.)

دا چې صوفيان د ملايانو له نظام څخه بېل شوي وو، ملايانو دوی خپل رقيبان ګڼل او په اولس کې يې د دوی نوموړتيا ته په ښه سترګه نه کتل، نو چې کله به هم وخت په لاس ورغلی؛ پر دوی به يې نيوکې کولې او له سزا ورکولو يې هم نه کښېختل، د دوی تګلار يې له شريعت څخه پرته ګڼله، ځکه يې پر صوفيانو په نيوکه کولو و ويل، چې دوی د محفلِ سماع په تر سره کولو د شريعت په ضد چاره تر سره کوي، خو د هغوی په ضد يې داسې تونده لاره ځکه خپله نه کړای شوه، چې يو خو يې د دوی له عقيدې سره تړاو درلودی او بل روحاني واک (د دوی په خيال) هم ورسره وو، چې څوک هم دوی ته زيان و رسوي؛ هغه ته به زيان رسېږي. بل دا چې په اولس کې يې هم خواخوږي ډېر وو، چې له کبله يې واکمن او ملايانو داسې ګام اخستلو ته زړه نه ښه کاوه، چې له جوړې يې په اولس کې دوی له غبرګون سره مخامخ شي.

AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



د شریعت او طریقت په ځنګ کي بله لار د روڼ اندی، زغم او عقلیت لاره وه (په اسلامي ټولنه کي تل د داسي پوهانو شمېر لږ پاته شوی دی، چي د دې نظریاتو خوروول تر سره کړای شي او په دې لاره کي هم هغه چا څه کړي دي، چي ملاتړ یې کوم واکمن تر سره کړی وي.) له ابوالفضل سره که اکبر نه وای، نو دا ناشونې وه، چي د خپلو خیالاتو څرګندول او خوروول یې تر سره کړي وای. د اکبر په دربار کي داسي پوهان یو ځای شوي وو، چي بیا د یوه واکمن په دربار کي هم داسي نه دي شوي او دا د اکبر د زغم او ټولنیزي سولي کړنلاره وه، چي مغل واکمنۍ ته یې پیاوړې اډانه او بنسټ ورکړی.

په اوسني دور کي اسلامي هېوادونه او په ځانګړې توګه پاکستان چي له کوم چاپېریال سره مخامخ دی؛ په هغه کي اړتیا د دې خبري ده، چي د تاریخ تر تجرباتو وروسته هغه خپله تګلاره و ټاکي، چي ایا! د ملایانو پر ښوونیزه لاره باندي په تګ کولو شاته پاته کېدل او زوړ پالي جوړېدل دي، که د اوسني چاپېریال غوښتنو ته په کتلو د جمهوریت، سېکولرازم او ورهنیز پرمختګ او روڼ اندۍ لاره خپلول دي؟ (په ټول اسلامي تاریخ کي چي کله هم واک ملایانو ته په لاس ورغلی دی، په پایله کي یې ټولني ته زیان اوونښتی دی) په اوسني دور کي یې څرګنده بېلګه سعودي عرب دی، چي دولت د واکمنو او وهابي ملایانو په لاس کي دی. د شریعت پلي کېدا له کبله یې پر هر ځومره شتمني سربېره په نړیوالو قامونو کي د یادوني وړ درناوی نه دی تر لاسه کړی. لامل یې دا دی، چي د ملایانو د توندي رویې او لنډوینی له جوري سعودي ټولنه داسي ټولنه پاته ده، چي هیڅ کلتور نه لري. هغوی په ادب، شاعري، موسیقي، انځورګري، نڅا او نورو،، کي هیڅ ډول پنځوونکي (تخلیقي) چاري تر سره نه کړای شوې. په ذهني توګه هغه یوه شاړه او ویرانه ټولنه ده، چېري چي نه د ښځي څه درناوی او ارزښت شته او

ketabton.com - The Digital Library



نه د انساني حقوقو پالنه داسي ځای لري. د سعودي او غیر سعودي توپیر یې تېولنه تر جنوبي افریقه هم هغي خوا ته کړې ده. ټول قانون د سعودي ښاري لپاره دی، نور ټول پرېدي او تر مجرمانو هم ور هغه خوا ته دي. کله چي سعودي امیران له دې تنګ چاپېریال څخه په تېښته یورپ ته د عیاشۍ لپاره ځي؛ نو هلته د ټیټ ذهنیت څرګندونه کوي.
همدارنګه په نورو اسلامي هېوادونو کي د اسلام کارول یوازي سیاسي مرامونو ته د رسېدلو لپاره کېږي. څه وخت چي په سوډان کي نمېري ته د خپلي زورواکۍ ساتلو لپاره ټولي لاري ور ډب شوې، نو د اسلامي سزاګانو له لاري یې د خپل دولت مودې ته پراختیا ورکړه او هغه څه اوس قذافي (اوس له منځه تللی) په لیبیا کي تر سره کوي او د جبر او توندوالي تر ناکامېدلو وروسته د اسلامي سزاګانو په غېږ کي ځان له د ژغور لاره ګوري، چي خپل زیاتوب ته اسلامي بڼه ورکړای شي.
په پاکستان کي له بهټو څخه تر ضیاالحقه پوري او اوسني واکمنان هم د خپلو سیاسي مرامونو لپاره اسلام په کار اچوي او په داسي توګه د هېواد په وېشلو بوخت دي. له مذهبي کم شمېرو سره ناوړه رویه، په معاشي چارو کي له مذهبي ملایانو څخه رایه اخستلو او په سیاسي چارو کي له هغوی سره سلا کولو هېواد د شخړو غېږ ته ور ټېل وهلی دی، چي له جوړي یې نه خو د پاکستاني قام جوړښت تر سره شو او نه د مسلمان په توګه د مسلمان امت رغښت تر سره شو.
اړتیا د دې ده، چي د یوه قام جوړښت د قامي ریاست پر بنسټ وي، چي له مذهبي توپیر څخه پرته ټول ګډون پکښې ولري. د هېواد سیاسي او معاشي ستونزي د وختنیو غوښتنو او اړتیاوو په رڼا کي هواري کړل شي، کلتوري چارو ته وده ورکول شي، چي له ټولني څخه توندوالی او ترهه لېري شي، اولسواکي داسي پلي شي، چي د اولسواک د جاګیرداری په لاسبرتیا له منځه تللو را سر بېره شي، اولس و خپلو

ketabton.com - The Digital Library



استازو مخورو ته د ولي ويلو توان و لري او پر تېروتنو يې د مخنيوي تاند رغ و لري، دا د يوې خيالي جنتي ټولني سيورى نه دى؛ بلكې دا يو داسي ټولنيز انځور دى، چي په ډېرو هېوادونو كي شته او داسي هېوادونه موږ ته د سوكاله او خوشاله ژوند نخښې را په ګوته كوي، چي هلته ژوند څومره خوندي دى. يوازي زموږ د ټاكونكي لاري خبره ده، چي موږ د داسي ټولني د رغولو او جوړولو غوښتنه هم لرو او كه نه؟

AnyScanner

ketabton.com - The Digital Library



## کتابیات


عبدالقادر بدايوني: منتخب التواريخ كلكته ١٨٨٨ع

ابوالحسن الماوري: الاحكام السلطانيه (اردو ترجمه) نفيس اكيډمي كراچي ١٩٦٨ع

نظام الملک طوسي: سياست نامه (اردو ترجمه) نفيس اكيډمي كراچي (؟)

مالک رام: (مرتب) خطبات ابوالكلام آزاد- اردو بازار لاهور

Ahmad, aziz (edited): Religion and Society in Pakistan Leiden ١٩٧١

Bashir, Ahmad: Akbar The Great. Lahore ١٩٦٧

Cantwell,C.W.S.: The Ulama in the Indian Politics. In: C.H.philips: Politics and Society in Indea. London ١٩٦٣.

Haq, Mushir: Muslim Politics in Modern Indea. Meerut ١٩٧٠.

Lapidus, Ira M: A History of Islamic Societies Cambridge ١٩٩١.

Metcalf, B.D: Islamic Revival in Btitish Indea: Deoband ١٨٦٠. ١٩٠٠ Priaceton ١٩٨٢.

Nanda, B.R; Gandhi: Pan- Islamism, Imperialism and Nationalism. Oxford ١٩٨٩.

Report of The Court Inquiry (Muneer Report) Lahore ١٩٥۴

Rizvi, S.A.A: Shah Abdul Aziz. Canberra ١٩٨٢.

Robinson, Francis: Separatism among Indean Muslims. Cambridge ١٩٧٩.


AnyScanner

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*